مورچل

اتم کال، نهمه گڼه، پرلپسې (۷۳) یمه، ذیقعده، (۱۴۳۵) هـ ق سپتمبر (۲۰۱۴) ز کال

دهیواد پلورنې قرارداد!!

تریرغل دیارلس کاله وروسته!

از شرم تاریخی تا تحلیف نمایشی...!

یو هیواد اودوه دښمنان حاکمان؟

افغانستان کې د امریکا ناکام حضور

دننګرهار د جهادي چارو محترم مسؤل مولوی میر احمد آغا سره د مورچل مرکه

ذوالحاله ولسمشر! او مجاهد اسیران!!

دهیواد مشاهیر...

پرون لوړه نن د ټرون لاسلیک!



اتم کال، نهمه گڼه ، پرلپسې (۷۳) یمه ،ذیقعده (۱۴۳۵) هـ ق ،سبتمبر (۲۰۱۴) ز کال

علمي سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

گڼه	مطلب	مخ
۱	د هیواد پلورنې قرارداد !!	۱
۲	تر یرغل د یارلس کاله وروسته !	۳
۴	از شرم تاریخی تا تحلیف نمایشی ... !	۲
۵	ذوالحاله ولسمشر ! اومجاهد اسیران	۸
۲	یو هېواد اود وه د ښمنان حاکمان؟!	۱۰
۷	پرون لوړه نن د ترون لاسلیک !	۱۲
۸	افغانستان کې د امریکا ناکام حضور	۱۳
۹	د جهاد فقهي مسایل	۱۷
۱۰	د اسلام غزوات اوسرایا	۲۲
۱۱	د شهادت غوښتنې او فدایي عملیاتو	۲۹
۱۲	امروزت با دیروز فرق داشته باشد !	۳۲
۱۳	د شهید شیخ الحدیث مولوي عبد السلام ...	۳۹
۱۴	د ننګرهار د جهادي چارو مسؤل محترم	۴۷
۱۵	مورچل دارالافتاء	۵۵
۱۶	د کابل فتحه د هیواد د معاصر تاریخ	۵۹
۱۷	جنګي جنایتونه (اپریل)	۲۳
۱۸	د دعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون	۲۵
۱۹	ذبیح الله مجاهد څوشیبی له خپل	۲۷
۲۰	شهیدې قافلې	۷۲
۲۱	د مورچل خبرونه	۷۳
۲۲	انځوریز مورچل	
۲۳	د مورچل وړمی	۱۲۵
	د تلفاتو میلشتنی جدول	۲۴۹

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن نروی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل بنار ، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سر مقاله

دهیواد پلورنې قرارداد!!

دڅه ځند وخند څخه وروسته دادی، دروان (۱۳۹۳ ش هـ) کال دتلې دمیاشتې په (۸) نیټه په ډیره سپین ستر ګی سره دغرب مشربه نام نهاده ولسمشر (اشرف غني احمدزي) دسلاکار (حنیف اتمر) او دامریکا دسفیر (جیمز کننګهم) ترمنځ د هیواد پلورنې قرارداد (امنیتي سند) پداسې وخت کې لاسلیک شو، چې دلاسلیک کوونکیو دمیز شاته یوبل وطن پلورونکی او تجزیه غوښتونکی (عبدالله) اود روحانیت له سپیڅلې نامې څخه بده ګټه اخستونکي هریو (صبغت الله مجددي او سیداحمد ګیلاني) دتوثیق او ملاتړ لپاره درول شوي وو، دکابل نوې نصب شوې چارواکیوپداسې حال کې له اشغالګرو سره دابدنام ترون لاسلیک کړ، چې یوازې به یې دارګ دسوګندڅخه شا وخوا (۲۴) ساعته تیرشوي وو، اودې شرومونکي کار سره یې دټول افغان مجاهدولس دخپلواکۍ اروزګانې له خاوروسره خاورې کړي، نه یې پدې باب دنړیوالو معیارونو سره سم له ولس نه ټولپوښتنه وکړه، نه یې دبا احساسه علماوو، سپین ږیرو او لوستې قشرسره سلامشوره وکړه، اونه یې داسلامي نظام او هیوادني استقلال ګټونکیوسرښندونکیوفدایې زلمیانو اودامریکایي غرورماتونکي قوت دوینودنذرانو اومعقولو غوښتنوته کومه پاملرنه وکړه، بلکې هغه څه چې یې وکړل، هغه په نا معقول او ناسنجول شوي ډول دافغانستان دخرڅلاو دترون لاسلیکول وواو بس!

دننۍ نړۍ کوم سیاستمداراو مشربه هیڅکله داسې کوم له حماقته ډک کار نوي کړی، چې د دندې له اشغال سره همهاله دې، په څلوریشت ساعتونو کې خپل هیوادپه دومره ټیټه بیه پر ښکیلاګرو خرڅ کړي او دمیلونونوآزادو انسانانو حریت دې، په پڅه چاړه ذبح کړي، بلکې داشرف غني دا ګام بو نه بخښونکی جرم او دافغان حریت غوښتونکې ولس پر ټنډه یو تور داغ دی، داځکه چې دهیواد د خپلواکۍ او شرعي نظام لپاره هم مونږ او موږ اسلافوبې دریغه قربانۍ ورکړي او ماضي کې موږ اسلافو له اشغالګرو سره هیڅکله داډول له خجالته ډکه کومه سودا نده کړي،

اشغالگرچې تل نوروهیوادونو کې خپلې ګټې لټوي اوهیڅکله هم نورو ولسونو ته دسوکالې راوړلو په پاردومره بې خرته پیسې نه مصروي اونه هم دبل چا لپاره دخپلو عسکرو وینې تویوي، بلکې همدا اشغالګردي، چې ولسونه زیبنې، معدنیات یې لوټوي، اسلامي او روایتي نظریه یې وژني، پرتهذیب او کلتوریې یرغلونه کوي او په مجموع کې ددې آزاد ولس آزادي سلبوي، دکابل نوي چارواکي به دخپل دې مذبوحانه او مجرمانه عمل لپاره کومه داسي توجیه ونکړاي شي، چې له املـه بـه یې دهیـواد پلـورنې دسند لاسلیکولوته کوم ډول مشروعیت او جوازپیداکړي، بلکې دا داسې یو شرمونکي معاهده ده، چې دتل لپاره به یې ددې نا اهله چارواکیو ددې اقدام په لامل افغان سرشاره ولس له ننګونو سرمخامخ وي، اودروان مقدس جهاد ګرنـدی بهیرچې بـه یې ددې اشغالګرو په احتمالي وتنې لوری بدل شوی وی، نور به هم دتشـدیداو ځپانده کیدلو خواتـه وهڅول شي، داځکه چې افغان مجاهد ولس هوډ کړی، چې دوروستي خارجي عسکرتر وتلوپورې بـه خپـل سپیڅلی جهـاد متداوم ساتي او داشغال تر خاتمې پورې به نه دخپلووینو له نذرانو سرفه کوي او نه به وسله پر ځمکه ږدي.

دهیواد پلورنې دقرارداد یا په اصطلاح دامنیتي سند په منځپانګه کې کومه داسې ماده نشته، چې زمونږ ولس ترې دخیر تمه وکړي، اویادې ورسره دهیواد د تمدن او ترقي،ارزوګاني ملې کړي، بلکې دا دامریکایي پوځیانو دتلپاتي میشتیدنې دهوډ هغه تکامل و،چې لاله پخوا ورته پسخیدل، خو دوخت ځینو چارواکیودګوډاګیتوب سربیره، ددې تاریخي پیغوره ځانته دنجات لاره موندله، اونورو ځان ته ویاړ وباله !!

داځکه چې، کـه دیـوې خـوا امریکایـان اولویـدیځوال دافغانسـتان دخـورو اوبـو او هـوا تـرې دي، نـودبلې خـوادا د(آسیابام) دنورې منځنۍ آسیا د هیوادونو، سیمه ایزو ملکونواو چین غونـدې اقتصـادي هیوادونودمهار کولواو کنترول لپاره کارول ددوئ داستعمارلویه ارزوهم وه، اوددې مرکزي هستې ځخـه دنوروهیوادونـو دګوابنلوهوډ یې ډیره مخینه درلوده، چې لـه بـده مرغـه دکابل اوسـني زمامـداران دې مفتضحانه چـوپړ کې ترنـورو مخکنیـو چارواکیوځوګامه مخکې لاړل او زمونږ ولس یې یو اوږده بحران ته ور کیست !

خوتر کومـه ځایـه چې داسـلامي امـارت سـره اړه لـري، هغـه بـه پـه هـیڅ صـورت دهیـواد پلـورني دقـرارداد مشروعیت ونه مني او نه به هغـه جنایتکـاران وبخښي، چاچې دې لاره کې حتی د(هوکړې)سرخوځولی وي، اسلامي امارت دپخواپه شان پرخپل جهادي عزم کلک ولاړاو دخپل هیواد آزادۍ لپاره دجهـاد تـداوم او پیـاوړې کول غواړي، او دادخپل ولس دنجات ترټولو ښه لاره بولي، اوتکل لري چې هغه زمامداران ګوشمالي کړي، چې په ډیره ټیټه بیه یې کفري اشغالګروته داشغال ددوام سند ورکړ !!

تر یرغل دیارلس کاله وروسته!

شاهد (غزنیوال)

دیارلس کاله وړاندې امریکایي یرغلګرو دافغانستان په سپیځلي حریم وحشیانه یرغل وکړ.

دغه وحشیانه یرغل په داسې توګه ترسره شو چې د امریکایانو له صلیبي غرور پرته نور دهغه تو جیه کولو لپاره له دوي سره هیڅ مبرر نه وه موجود.

امریکایان چې د افغانانو د وینو او قربانیو له برکته د شرقي بلاک ترشړیدو وروسته په یوه قطبي نړۍ کې د نوي واک څښتنان ګرځیدلی وه ، دایې په هیڅ صورت نه شوای زغملای چې په نړۍ په تیره افغانستان کې دې داسې یو ځواک شتون ولري چې هغوی دې په خپلو کړنو او تصامیمو کې د خود ارادیت او خپلواکۍ څښتنان وي.

هماغه وه چې د سپتمبر د پینځې د عاملینو د لټون او مجازات په پلمه یې پرافغانستان یرغل وکړ.

د دغه وحشیانه یرغل په نتیجه کې یې د ډیرو بې وزله افغانانو وینې وبهولې، ډیر بیوزله بې اسیران کړل او ډیر نورې د امریکایي دیموکراسۍ د پلي کولو د خونړیو وسائلو (بي ۵۲ ـ کروزمیزائل) په زریعه له کور ،کلي او خپلوانو محروم کړل.

امریکایي یرغلګر هم د پخوانیو شورویانو په څیر د افغانانو د ترقي ،سوکالي او هوسایي ترنامه لاندې پرافغانستان برید وکړ. د دغه ظالمانه برید په ترڅ کې یې د کرزي په مشرۍ داسې یوه بیواکه، فاسده او بې نظمه اداره پرافغانستان مسلطه کړه چې اخیر دوي خپله دهغې له فساده، بې نظمي او ګډوډي څخه په تنګ شول

د امریکایانو د یرغل په نتیجه کې دغه امریکایي لاس پوڅي اداره د فساد ، ګډوډي، ناامني او بې نظمې له لحاظه داسې یوه فقید المثاله اداره وه چې د افغانستان په تاریخ کې ساری نه دی لرلی.

امریکایانو د همدې بیواکه اداړې په مټ ۱۳ کاله پرافغانانو خپل اشغال تحمیل کړ.

که څه هم چې د اشغال په دغه دیارلس کلنه دوره کې پر مظلومو افغانانو دوحشي امریکایانو لخوا ډیري ستونزې راغلې، خو هغوی د دغو ستونزو له موجودیت سره سره بیاهم د اشغالګرو په مقابل کې خپل اسلامي مقاومت ته دوام ورکړ او که هرڅومره د دښمن غلبه او دهغوی وحشت زیات وه، خودوی د خپل هیواد د دفاع په لاره کې هیڅکله هم د امریکایانو او د هغوي د صلیبي ایتلافیانو وحشت ته تسلیم نه شول.

افغان مجاهد ملت چې له شوروي اشغالګرو سره د مقاومت په جبهه کې یې تر پنځلس لکه زیات شهیدان ورکړي وه په داسې حال کې یې له امریکایي یرغلګرو سره د مقامت بلـه جبهه پرانستله چې لایې د ډیرو مجاهدینو د پخواني جهاد د وخت ټپونه پوره نه وه جوړ شوي.

هو ریښتیاهم ډیر داسې مجاهدین د امریکایي یرغلګرو په مقابل کې دوباره جهادي سنګرته ولاړل چې لایې د وسلې له شپیلو د پخواني جهاد دودونه پورته کیدل.

امریکایانو له یرغله څه ترلاسه کړل؟

که داپوښتنه خپله له یرغلګرو امریکایانو څخه وشي چې هغوی په افغانستان کې له خپل ۱۳ کلن اشغال څخه څه ترلاسه کړل ښایي ځواب یې هیڅ وي.

ریښتیاهم چې هغوی په افغانستان کې هیڅ ترلاسه نه کړای شول.

د هغوی لپاره دافغانستان جګړه د تاریخ تر ټولو اوږده او له ملاماتوونکو تلفاتو ډکه جګړه بلل شوې.

داسې جګړه چې نه یې ورکې پرمختللې تکنالوژي موثره واقع شوه، نه یې د ماهرو پوځي جنرالانو لخوا پلان شوې محاربوي ستراتیژي بریالی شولې او نه یې په پرمختللیو پوځي وسلو مجهزو پوځیانو د مجاهدینو په مقابل کې د جنګیدو روحیه په ځان کې پیدا کړله.

د افغانستان د اشغال په جګړه کې د امریکایانو اقتصادي لګښتونه:

د(Congressional Research Service) په نوم څیړنیز مرکز په افغانستان کې د امریکایي جنګي مصاریفو په اړه په خپلې یوې احصایې کې داسې لیکي:

دامریکا کانګریس په کال ۲۰۱۰کې د افغانستان او عراق د جګړې لپاره ۱،۲۹۱ تریلیون ډالره بودجه تخصیص کړه چې د هغوی له جملې نه په یوه کال کې د افغانستان پر جګړې ۴۹۲،۲ ملیارده ډالره ولګیدل.

همدغه د امریکایانو جنګي لګښتونه په نړۍ کې د مالي بحران لامل شول چې یواځې په امریکا کې د سلګونو بانکونو د دیوالي کیدو سبب شول.

د اقتصاد ماهر جوزیف ستیګلیس چې په ۲۰۰۰ میلادي کال کې په اقتصاد بیاتوکې د نوبل جائزه ترلاسه کړې وایي امریکایان د افغانستان او عراق جګړه د دریو (۳) تریلونونو جګړه بولي

په دې معنا چې دوی د دغو دواړو جګړو لپاره ۳ ټریلیونه ډالر تخصیص کړي وه ،(یو ټریلیون زرملیارده ، یوملیارد زرملیونه) خو اوس داسې ښکاري چې د دغو جګړو د پوځي لګښتونو په اړه د امریکایانو تخمین ناسم وه ؛ځکه سره له دې چې په هغو دواړو باندې ۳ ټریلیونه ډالره لګولې هم دی خو امریکایان له عراقه تش لاس ووتل او په افغانستان کې لاهم ډیرونورو لګښتونو ته ضرورت دی چې امریکایان خپل اهداف ترلاسه کړي.

http://www.washingtonpost.com/wpdyn/content/article/۲۰۱۰/۰۹/۰۳/AR۲۰۱۰۰۹۰۳۰۲۲۰۰.html

له مالي مصارفو پرته په افغانستان کې د امریکایانو بشري تلفات او همدارازد پوځي وسائلو زیانونه هغه حد ته رسیدلی چې اوس یې د پنټاګان پوځي ماهرین له احصایې اخستلو یا ښکاره ارقامو ورکولو څخه مطلقا ډه ده کوي.

ځکه امریکایي ولس په افغانستان کې دخپلو ځوانانو د وژل کیدلو ، دخپلو پوځي وسائلو د تخریبدلو او همدارازد مالي تلفاتو په مقابل کې له امریکایي چارواکو څخه د لاسته راوړنو غوښتنه هم کوي ، چې د دوی له بده مرغه د سپینې مانۍ چارواکي د افغانستان دجګړې په اړه د خپل ولس دقانع کولو لپاره هیڅ نه لري.

خلاصه:

د نړیوالو پوځي ماهرینو د نظر سنجي له مخې امریکایان تر اوسه پورې په افغانستان کې په هیڅ مجال کې بریا نه لري داچې په تیرو ۱۳ کلونو کې یې څه ترلاسه نکړای شول اوس چې امریکایي ولس په خپل حکومت بې باوره شوی ، او پوځیانویې د طالبانو په مقابل کې جګړه اییزمورال بایللی نو په راتلونکي کې هم دهیڅ ډول بریالیتوب توقع نه شي تري کیدلي.

اصلي ستونزه داده چې هغه امریکا چې د سړې جګړې له پایته رسیدو سره یې ځان دنړۍ بې سیاله ځواک اعلان کړی اوس داخبره ورته ډیر شرم ښکاري چې دتش لاسو افغانانو په مقابل کې خپله ناکامي ومني ، همدا لامل دی چې په هسې سرتمبګي سره نورهم په افغانستان کې د پاتې کیدو لاپې وهي او لاهم ځان د دغې ناکامې جګړې ګټونکی معرفي کوي.

په افغانستان کې د امریکایانو دشکست او ناکامي لویه نښه داده چې دخپلې ناکامې درک نشي کولای او داکاریې د مزیدې تباهي لامل ګرځي ؛ځکه دلته به نورهم د افغانانو لخوا له داسې مقاومت سره مخ شي چې د پخواني شوروي اتحاد په څیر به یو مهال په امریکا پوري هم د امریکا د پخواني متحده ایالاتو لقب وراضافه شي او په مجاهد افغانستان کې به د انګلیسي او پخواني شوروي اتحاد دمغرورو امپراتوریو ترڅنګ امریکایي امپراتوري هم خښه کړل شي او ټول نړیوال به یې دتوسعه طلبي له شرارته په امان شي.

دهماغې ورځې د رارسیدو په هیله

از شرم تاریخی تا تحلیف نمایشی ...!

محمود احمد نوید

اینکه در سیاست امروزی دنیا هر سیاستمداری که در پُست بلند اجرائیوی کشورش؛ معمولا ریاست جمهوری و یا صدر اعظمی در ابتدای روز کاری بر اساس کدام عقیده و مکتب فکری سوگندنامه و یا همان تحلیف را در پیشگاه خدا و مردم کشورش یاد می کند چه مناسبتی با رفتار واقعی آن سیاستمدار در زندگی سیاسی اش در دوران حکمرانی دارد؛ و یا اینکه آن تعهد زبانی و مکتوب، آیا بعدها جنبه عملی و ملموس پیدا می کند یا نه؛ بحثی است جدا که منظور اصلی این نوشتار مختصر نیست، بلکه روی سخن با مراسم تحلیف امروز اشرف غنی و معاونان وی و عبدالله و معاونان وی است که تا چه حد تحلیف شان جنبه حقیقی داشته و رفتار آنها تا چه مقدار با گفتارشان میزان و با واقعیت امر وفق می خورد.

متن کوتاهی که در تحلیف مراسم امروز (دوشنبه ۷/ میزان/۱۳۹۳هش)در سلام خانه ارگ در کابل به عنوان سوگندنامه به خوانش گرفته شد همین جملات بودند: "به نام خداوند بزرگ ج سوگند یاد می کنم که دین مقدس اسلام را اطاعت و ازآن حمایت کنم قانون اساسی وسایر قوانین را رعایت و از تطبیق آن مواظبت نمایم. ازاستقلال حاکمیت ملی و تمامیت ارضی افغانستان حراست و حقوق ومنافع مردم افغانستان را حفاظت کنم و با استعانت از بارگاه پروردگار متعال و پشتیبانی ملت ، مساعی خود را درراه سعادت وترقی مردم افغانستان بکار برم" با توجه به متن سوگندنامه اشرف غنی و عبدالله هر کدام شان متعهد به شاخصه های ذیل شدند:

اطاعت و حمایت از دین مقدس اسلام

رعایت و تطبیق قانون اساسی و سایر قوانین

حراست از استقلال حاکمیت ملی و تمامیت ارضی

حفاظت از حقوق و منافع مردم افغانستان

جالب اینجاست که شاخصه های متن سوگندنامه کاملا یا باهم در تضاد اند یا با موقعیت و شرایط فعلی اشرف غنی و عبدالله به هیچ وجه هم خوانی ندارند؛ بطور مثال این دو شخص متعهد به اطاعت و حمایت از دین مقدس اسلام شده اند؛ اما آیا در جایی که اینها متعهد به دین مقدس می شوند کمترین نقشی به دین در اتخاذ سیاست های شان در قبال دشمنان دین می دهند، اصلا اینها اگر منظورشان از دین، دین مقدس اسلام است پس منظور اربابان آنها که سیزده سال پیش جنگ تمام عیار شان علیه افغانستان را جنگ صلیب علیه اسلام خواندند چه بود؟

واقعا آیا اشرف غنی و عبدالله قصد دارند از دینی حمایت و اطاعت کنند که دشمنان صلیبی و سرسخت اسلام با تمام زور و قدرت نظامی و فرهنگی شان جهت نابودی آن از

سیزده سال تا به امروز سخت در مبارزه هستند و هزاران پلان تخریبی علیه آن عملی ساخته و همچنان در تلاش اجرای پلان های شوم شان هستند؟!؟

آیا با زر و زور امریکایی ها و ائتلاف کفر جهانی، اشرف و عبدالله می توانند که متعهد به پاسداری و فرمان پذیری از دین مقدس اسلام بشوند؛ آن هم دینی که در قسمت های زیادی از قرآنش از دوستی و موالات و اطاعت و پشتیبانی از کفار (مخصوصا یهود و نصاری و سایر بی دینان) پیروانش را با شدیدترین الفاظ منع و برحذر داشته است، معلوم است که این تعهد اشرف غنی و عبدالله جنبه نمایشی داشته و هیچگاهی تا حضورآخرین فرد اشغالگران در افغانستان عملی نیست و نه هم اشرف و عبدالله غمخوران دین اسلام اند که بخاطر آن کمتر کاری انجام بدهند که اگر قرار بود انجام بدهند اینگونه خود را ذلیل و ملعبه دست کفار ننموده و با سرنوشت مردم رنج دیده خود بخاطر رسیدن به چوکی پوشالی بجامانده از غرب، دست به معامله گری، وطن فروشی و تداوم دخالت بیگانگان نمی زدند!؟!

تناقض در متن سوگندنامه آنجا آشکار می شود که حامیان به اصطلاح دین مقدس اسلام در جمله دوم متن یاد شده، خود را به رعایت و تطبیق قانون اساسی و سایر قوانین ملزم می دانند در حالیکه قانون اساسی شان همان قانون غربی بوده و ملاک زندگی سیاسی آنها همان قانون است و بدون آنکه خجالت بکشند با بی شرمی تمام از اطاعت و حمایت دین مقدس اسلام نیز دم می زنند آیا مگر نمی دانند که رعایت و تطبیق قانون اساسی (و سایر قوانین؟) سراسر با قانون مقدس اسلام و قرآن در تضاد بوده و جمع اضداد امکان پذیر نیست؟

و از جمله "سایر قوانین" نیز کاملا پیداست که این غلامان غرب نه تنها وظیفه دارند به قانون اساسی (دست نوشته غرب) پایبند باشند که باید حتی به سایر قوانین (که الزاما دیگر قوانین کفری در جوامع غربی اند) نیز پایبند بوده و اطاعت و حمایت از آنها را سرلوحه زندگی ذلیلانه خویش قرار بدهند!

عبارتهای مثل "حراست از استقلال حاکمیت ملی و تمامیت ارضی" و "حفاظت از حقوق و منافع مردم افغانستان" بیش از هر کلام و سخنی موجب افتضاح این وطنفروشان است و صرفا جنبه تبلیغاتی دارند؛ و گرنه در شرایط فعلی که این دوشخص (اشرف و عبدالله) به عملی کردن همچون کارهایی سوگند یاد می کنند دیگر حتی اطفال خردسال نیز می دانند که این گفته ها لاف و پوفی بیش نبوده و حقیقت بیانگر چیز دیگری است چرا که آنها در حال حاضر تحت اشغال امریکایی ها و سایر اشغالگران نه استقلالیت دارند و نه تمامیت ارضی، و زمانی که خود دست نشانده های آشکار غرب هستند چطور می توانند از منافع و حقوق مردم افغانستان دفاع و یا محافظت کنند، آنها حتی از حقوق خودشان دفاع کرده نمی توانند و جز سمعنا و اطعنای غرب چارهٔ دیگر ندارند و بارزترین وشاخص ترین نمونه سند بی استقلالی، بی کفایتی، غلامی و وابستگی همه جانبه آنها به اشغالگران، پروسه شرمناک انتخاباتی شان بود که در دنیا شرم تاریخی نام گرفت

ذوالحاله ولسمشر ! اومجاهد اسیران !!

خبیراحمد م

دهمدې نیږدې لوی اختر په شپوورځوکې ددوستانوپه څومجلسونوکې دکابل دبې توازنه ولسمشر (اشرف غني) په انتخاب ، ړومبنیوګامونواوپه خاص ډول دهغه په لیونحاله ویناوو باندې ګرمي تبصري کیدلې .

یوه مجلس کې کوم ملګري وویل: یاره ماخو ویل اشرف غني ته چې امریکایانودنړۍ د دوهم مفکرلقب ورکړی هسي به هم نه وي یوڅه خوبه یې خامخاپه ځیګرکې پراته وي ، خوداختر په ورځ مې چې دهغه دمبارکی رسمي ببولالي واوریدي چې څه عجیب اوغریب کمرونه یې له خپل فکر څخه راتویی کړل ، سخت مایوسه شوم .

په نوروګبړو یې سربیره وویل چې مونږ امیدلروترڅوافغاني حجاج دټول افغانستان په نمایندګي دحج فریضه اداکړي ، یعني ددې پرځای چې ووایي (مونږ امیدلروچې افغاني حجاج په خیراوسلامتي بیرته هیوادته ستانه شي اویاهیله لروچې افغاني حاجیان دافغانستان دښیرازی اوسوکالی لپاره دعاګاني وکړي ، اشرف غني له حج څخه هم دامریکااولندن کومه رسمي غونډه جوړه کړه چې تللي حاجیان کولای شي دټولوافغانانوپه نمایندګي حج وکړي اودنورو ذمه فارغه کړي) !!!

هغه ملګري ویل چې داشرف غني دغه بې ربطه ټکي دومره خندني وو چې شاته ولاړ (ګل مرجان) هم شونډې ټینګي

وزبیښلي چې څه ښه شو چې افغانانو ته په ړومبي اختر ستادمغزاوفکر کچه برملاشوه .

داختر دورځي دیوه مجلسي ملګري ویناوه چې ګورئ داشرف غني په دغوخبرومه خفه کیږئ چې ولې دغسې یوذوالحاله اومعتوکس دکابل په تخت کینول شو ،چې په حساب څلورمرتبي خبري هم نشي سره اوبدلی ، نو ترڅوچې دهغه څیره اوژبه شرمیدلی اولیونی وي ، هومره دافغان مجاهدولس په ګټه اونفع ده ، ځکه دکابل تخت ته په اوسنیوشرایطوکې هغه څوک رسیږي چې امریکایانو ته له هغه څخه بل نیږدي ګوډاګی اواربکی په لاس نه وي ورغلی ، هغه ته ترټولو ړومبی امریکایي ګټي مهمي اوحیاتي دي ، تاسي وګورئ اشرف غني لا خپله کابینه جوړه کړي نه وه اویوه نیمه ورځ یې له لوړي نه وو تیرشوي چې دخپل بادارپه جیب کې یې دافغانستان دخرڅلاو قباله واچوله ، نوچې یوځل یوکس دومره ذلیل اوبې ضمیره وي ، نوښه ده چې له خولې اوژبې یې هم کوم داسې څه راونه وځي چې په هغو خلک دوکه کړای شي اودخیرطمع اوتوقع ورنه ونکړي .

په رښتیا هم چې همداسې ده ، له اشرف غني مخکي به کرزي خوږه اومکاره ژبه کاروله ، خوعمل به یې سخت افغان دښمنه اواسلام ضدوو ، ځیني ساده لوحوخلکوبه ویل چې کرزی دامریکایانوسخت مخالف دی اوپه افغانانویې زیاته خوابدیږي !!

،داشرف غني هم خبري له ګمراهي او کفرياتو ډکي دي اوهم يې عمل له سره ترنوکه داسلام اوافغانيت پر خلاف ده؛ کرزي دامنيتي ترون لپاره په لوی لاس لوبه جرګه راوغوښتله چې دامنيتي ترون لاسليک تاييد کړي ، اشرف غني بياورته پاتې مراحل طی اودشاشجاع لقب يې ځانته وګاټه .

ورمه ورځ مې له رسنيو واوريدل چې اشرف غني له ارګ څخه دچورلکې په مټ په توره شپه کې دځرخې پله زنده ن ته ورغلي وو

زه په دې سوچ وم چې کيدای شي ، اشرف غني زندانيانوته يوه ښه زيری وروړی وي ، ځکه داختربختوري شپې ورځې دي ، خودرسنيوله قوله مې واوريدل چې اشرف غني دبنديانوله استاځوسره په يوې ګډې غونډې کې په خاص ډول دطاب په نوم نيول شوو اسيرانوته په خطاب کې وويل چې زه دولسوا پوځ دسراعلی قومندان په توګه دنده لرم چې هغواسيرانوته کلکه سزاورکړم چې دملي اردو اوپوليسوپه وينوپې لاسونه سره وي ويا له هغوی سره په جګړه کې نيول شوي وي !!!

په کارخوداوه چې اشرف غني دځرخي پله مظلوم زندانيان داختر دخوښيوپه پاس په يواوبل نوم خوشحاله کړي وای اويايي يوځه دډاډخبري ورته کړي وای . خوداچې هغه سم له واره دخپل قساوت چاره پرې راووبسته او په خپل ډومبنی کتنې کې يې داخبره په ډاګه کړه چې داشرف غني اصلي دنده څه ده اوکوم څه ورته د ډومبيتوب حق لري .؟!

داسمه ده چې اشرف غني به دځرخي پله دغير تمنوا مظلومواسيرانوپه حق کې له پوره استبداد و وحشت څخه کاروانلي ، ولې دې خبرې ته بايد پام ولري چې په دغوامريکايي ګوت ځنډونونه دځرخي په مجاهداسيران له خپل عزم اوترسره کړوفداکاريوپه هيڅ بيه نشي مايوسه اوورسته کيدلای اونه به دهغوشاته هغه باغوره ملت اوپه لکونوشاځلميان چې دهيواد داستقلال اوديوه اسلامي نظام دحاکميت لپاره يې خپل سرونه په خپلو لاسونوکې نذارنه نيولي په بيم کې وغورځيږي ، بلکې دجهاداوانتقام ولوله اوجذبه يې په رګونوکې نوره په جوش راځي .

په پای کې داشرف غني په غوږ کې دايوه خبره په پټه کول اوځځول غواړم چې ګوره ته له رګ څخه دځرخي پله ترزند ن پوري چې ټوله مسافه به ايله پنځه کلومتره وي په ځرخکه کې په توره شپه کې ورغلي ، سره لدې چې امريکااوناټوهم درباندې ولاړه اودرنه چارپيره ده اوهم وايي چې دځلورلکه داخلي تواوو په صطلاح سر علی پوځ قومندان هم يم ، نوته چې له همدومره غورځوپرځوسره دکابل په ښار کې دسيراوګشت اوګذار همت اوزړه نلري ، پاتې افغانستان ته به ځنګه سرورښکاره وي ، اداره به يې ځنګه کوي اولطفا ووايه چې ستا دسلطې ځمکه به څومره، چيرته اوځه ډول وي ؟

نوپوه شه چې يوداسې قوت اوځواک شته چې ته اوستابادارې له مقابلې ناتوانه ، ناچاره وپه وړاندې يې سخت بزدله ياست چې له رګ څخه ترځرخي پله پوري هم دتللووس اوجرأت نلری ، نوهسي په زولنواوپنجرو کې په ايسار ومجاهدواسيرانو سترګې مه ربباسه ، مردانګي هيڅکله دانده چې داخترپه ورځوکې دهغوی په زخمونومالګي ودوړوي اوځارنو لانوته ووايي چې دمجاهداسيرانوپه دوسيو کې بايدله هيڅ ډول سهولت څخه کاروانخلی .

زماپه فکر که اشرف غني په ربښتياهم داسيرانوپه وړاندې له شدت اونوي استبداد څخه کاروانلي ، دابه دهغه دزوال ډيپل همدغه نقطه وي چې له همدې ځای څخه به پيلږي اودځان په وړاندې به دانتقام يولوی طوفان په غورځنګوراولي.

یو هېواد اودوه دښمنان حاکمان؟!

دقدرت ددوه حریصو څېرو ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ دکابونیم کلنوخورا اوږدو اوشرمو مونکو لانجو نه پس دامریکا دباندنیو چارو وزیر جان کیري او په کابل کې دامریکا سفیر جیمز کینګم دمنځګړیتوب په نوم دعلني مداخلې ، سپارښتنو ،حکمونو اواخطارونوپه نتیجه کې بالآخره دجمعې په ورځ دوږي په ۳۰ مې نېټې چې دستمبر د۱۹ مې نېټې سره یې سمون خوړ دوحدت ملي ترعنوان لاندې ددواړونومانداتوترمنځ ددواسې حکومت جوړولو په اړه تړون رامنځته شو چې ګټونکی تن به دهېواد ولسمشر اوبیلونکي ته به دصدراعظم دواک برابره داجرایوي ریاست په نوم نوې ایجادشوې چوکۍ ورکول کېږي .

بس ددې تړون رامنځته کېدل وچې په بل سبا دانتخاباتو دخپلواک کمیسیون په نوم اداري له لورې دډاکټر اشرف غني په ګټه دانتخاباتو پایله اعلان شوه .

پدې هرباشعوره شخص پوهېږي چې ښکېلاکګره امریکا په اشغال شوي افغانستان کې دواک پرتولو چوکیو دخپلې خوښې اوباورړ هغه تنان مسلط کړي اومسلطوي یې چې ښه په ورین تندي یې هرحکم ته لبیک وایې ؛ بې چون وچرایې ټولې غوښتنې اوسپارښتنې مني ؛دشومواهدافو په پوره کېدوکې ورسره مسلسله مرسته کوي ،ودښکېلاکي پروژوپه تطبیق کې ورسره ښه پوره اخلاص ښکاره کړي ؛ دخپل هېواد دګټونه دامریکا ګټوته زیات ژمن او وفادار وي ؛ ترڅنګ یې دامریکاداحساناتو پرورې وي اوترټولومهمه داچې دامریکا دزړه په ارادو اودستر ګو په اشارو ښه پوهېږي .

دامریکا له نېکه مرغه چې اشرف غني اوعبدالله دواړه پدې معیارپوره دي ځکه چې اشرف غني هغه څوک دی چې دعمر ډېره برخه یې په امریکا کې تېره کړیده ؛هملته یې زدکړې ترسره کړیدي ؛ په امریکایې روحي روزل شویدی ؛ دامریکا پوهنتونونوکې یې داستاذي دنده اجراکړیده ؛ دبي ۵۲ طیارو په زوردصبیبي کاروان سره یوځای کابل ته راوستل شوی ؛ دلته دکابل پوهنتون دریاست ، دمالې دوزارت اودبهرنیانو نه دکابل اداري ته دمسئولیت دلېږددپروسې په څېر پرسترویوستونوګومارل شوی ؛ دنړۍ ددوهم مفکر لقب ورکړل شوی اوترټولو مهمه دا چې سره له دې چې په افغنستان کې یې کومه وسله واله ډله

یانظامي ځواک نه لرلوخوبیاهم دانتخاباتوپه نوم په ترسره شوې امریکایې پروسې کې کامیاب کړای شو.

اوعبدالله خودامریکا داحساناتو دومره پوروړی دی چې ژوندی وي داپوربه یې ادا نکړای شي ؛ دی اودشمال ټلوالی په نوم هغه ډله چې دفساد استعاره اودوهم نوم ګرځېدلی وه . ملت په تمامه معنی ردکړی اودطالبانوله وېرې په یوې کوچنۍ سیمې کې محدوه او غارونوته تنوتلې وه ؛ امریکا همدغه دملت له لورې مردوده ډله پرملت مسلطه اودومره یې واکمنه اودوتي ستروپوستونوته ورسوله چې اوس ښه په سپین ستر ګۍ دانتخاباتو دنتایجونه ترهغې انکار کاوه ترڅوچې دولسمشر دواک برابرپوست ترلاسه کړ.

امریکا دافغانستان دقدرت واګې خپلوهمدې دواړوبړیځوته په لاس کې ورکول غوښتل البته دانتخاباتوپه نوم پرولس دمسلطې کړی شوی پروسې له لارې ترڅونړۍ ته خپل ځان پیاوړی او خپل ماموریت اوهدف کې ځان داسې بریالی وښایې چې ګواکې ددوئ په لوري افغانستان ته راوړل شوې دموکراسي حاکمه ده اوپه دموکرات ډول دیونه بل ولسمشرته واک انتقالېږي.

امریکا درومبې دورپه انتخاباتوکې هم یوکاندید کامیاب اودواړه په قدرت کې شریکولای شول خوخبره یې دومره زیاته ځکه اوږده کړه چې دافغانانو ترمنځ ژبنې اوسمتي تعصبات ښه زیات شي ترڅودبریالیتوب نه دناهیلۍ اودمجاهدینو په مقابل کې دکلي شکست په نتیجه کې دتېښتې په شپوورځوکې امریکا داهېواد په اسانۍ تجزیه اوافغانان دهمېشنۍ بدبختۍ سره مخامخ کړي.

لکه څرنګه چې دامریکا دباندنیو چارو وزیر جان کیري ویلي وو ،،چې نوی ولسمشر به دامریکا اوناټوسره امنیتي ترونونه لاسلیک کړي ځکه چې دواړونوماندانوراسره دامنلی وه،، هماغسې وهم شوه دبریالي اعلانېدونه سمدستي پس اشرف غني اعلان وکړ چې امنیتي ترون لاسلیکوم چې ورسره امریکا اوبرتاني هم نوې اداړې سره خپلومرستواوهمکاریوته ددوام ورکولوتعاهد ښکاره کړ.

ډېری دسطحي نظرځښتنان شاید ګومان وکړي چې دنوې اډرې اولویدیځ ترمنځ کامله هماهنګي اوهمکاري به دنوې اډرې دبریالیتوب سبب شي چې داډېرناسم نظر دی . ټوله نړۍ که دیودولت ترشا ودرېږي خودهېواد چې په داخل کې مشکلات ولري هغه اداره نه شي بریالۍ کېدای ؛ داوسنۍ رامنځته شوی اداړې رومبی خښته چې کږه اېښودل شویده دابه خوراډېره ناکامه اوکاواکه اداره وي ځکه چې نوم ورته دملي وحدت ورکړل شوی خود دواړونوماندانوترمنځ دیوداسې شي په سرتوافق رامنځته شویدی چې دنړۍدسیاست په تاریخ کې به ساری نه لري :یوهېواد اودوه یې مشران ؟! اوهغه هم داسې چې یودبل دوینوڅښلوته تیاروي .

اشرف غني خوځان ګټونکی اومنتخب ولسمشر ګڼي نوځکه به ټولې سترې پرېکړې پخپله کوي خوعبدالله چې سپین ستر ګیتوب یې له حده اوږدلی اوځان داشرف غني برابرقدرتمن بولي نه یواځې داچې دچوکیو په ویش کې به برابرواک اوپه ستروپوستونوکې به مساوي سهم غواړي بلکې دارګ په ټولوپرېکړوکې به دپوره نیم واک چلولو هڅې کوي چې همدابه ددې دواړوترمنځ دستراختلاف درامنځته کېدو اوددې اداړې درنګېدو سبب شي .

پرون لوړه نن د تړون لاسلیک!

نعمان منلی

متل دی وایي: که پوز پریکړې شرم او حیا لرلی ټول عمر به یې د چړې نوم هم په خوله نه واخیستی، که موږ د معاصر او نږدې تېر تاریخ ډیری افغان مشرانو کړو وړو، باندنیو اړیکو او د پردیو استخباراتي شبکو له پاره چوپړ او مزدوریو ته ځیر شو باید له نن وروسته د "مشر" نوم هم په خوله وانخلو، کاش زموږ تش ذهنه او ناخبره خلک پوهیدلی چې مشر نلري که یې لرلی له دا ډول نادودو او ناخوالو سره به نه مخامخ کیدل.

دا شته مشران او سیاستوال فعلاً او عملاً د سي آی اي معاشونه خوري د غربي او امریکایي میډیا په زور زموږ په ساده ولس تپل شوي او منل شوي دي او د متحده ایالاتو د نړیوالو پلانونو بېواکه پرزې او کړۍ دي، دوی د هغو ګوتشمیر بې ضمیره کسانو مشران بللی شو چې د اړوند شبکو له لوري د ډالرو سهمونه ورته رسیږي، دوی د هیواد او ولس مشران بلل دې مسلمان او مجاهد ولس ته سپکاوی ده، دا اوږدې ټاکنیزې شخړې او د بې ارادې واک پر سر دومره سازشونه او ائتلافونه د کوم ډول خلکو کار ده؟ دا د هغو ملخ سترګو بې ضمیره مزدورانو کار ده چې هیڅ ډول اخلاقي نورمونه نه پیژني، د ټولو شخړو له پاره یې امریکایي خارجه وزیر ځي او راځي په خبرو او توافقاتو کې یې امریکایي سفیر او چارواکي ناست وي او د هغوی په لاسلیک کارونه سر ته رسوي! ایا دا کړنې د ازادو او خپلواکو افغانانو کیدلی شي؟. !!

پرون د ولسمشر (،) او مرستیالانو لوړه نن له متحده ایالاتو سره د غلامي د تړون لاسلیکول څه مطلب؟! ښکاره خبره ده دا ټاکنیزې ډرامې او دا بدلې څیرې یواځې د امریکایي پلانونو له پاره د پرزو بدلولو پروسه وه دا چې فلان متفکر او هغه بل ډاکټر دی، اصلاحات دي، همګرایي ده وغیره... دا خبرې ټولې تش الفاظ دي معنا او تحقق نلري، او دروهل او د ولس غولول دي، امریکایي سیاستوال د هالیووډ د کلچر پیداوار دي دا ټولې سیناریوګانې یې پخوا تیارې کړې وې او په څو شپو کې یې راته وړاندي کړې.

بناءً زموږ ولس باید پوه شي چې دا شته د سیسه ګر مشران هیڅکله مشران ندي دا ټول د امریکایي پلانونو بې ارادې او بې واکه پرزې دي، امنیتي تړون زموږ هیواد د امریکا د شومو پلانونو د تحقق له پاره په اډه بدلوي، لاسلیکول یې زموږ د ارادې او حریت د قتلولو او د امریکا ګټو ته د قرباني کولو په معنا ده د دې ولس هر مومن او ژمن بچي دا ډول د سیسې پیژني او د لوی څښتن په مرسته به یې له تحقق موندلو مخکې خنثا کوي او د امریکا او د امریکا د مزدورانو هیلې به خاورې کوي، وماذلک علي الله بعزیز.

لیکوال: احمد رشید

افغانستان کې د امریکا ناکام حضور

ژباړه او لنډیز: احمد الله احمدزی

په اصطلاح د تاکنو څومیاشتي پرله پسې ناننډریو او لانجو وروسته تېره یکشنبه دواړه نوماندان د ایتلافي حکومت په جوړلو سره سلا شول، چې له مخې یې ډاکټر اشرف غني احمدزی (په اصطلاح)ولسمشر شو او ډاکټر عبدالله عبدالله اجرایوي ریس، چې صدارعظم ته نژدې غوندې څوکۍ ګټلې کیږي.

دواړه لوري د داسې تاکنو په پایلو کې دغې پربکړې ته ورسیدل، چې د افغانستان په ګډون ګرده نړۍ وایي، چې دواړو خواوو په ډېره لویه کچه پکې درغلي کړې او د افغانستان د اساسي قانون له مخې دغه تاکنې هیڅ قانوني ارزښت نه لري.

د دواړو لوریو تر منځ دومره زیاته کینه او ضد دی، چې دا ایتلافي حکومت پر مخ تلل ډېر ناشوني بریښي.

د دواړو نوماندانو تر منځ دغه جوړجاړی د امریکا او نړیوالې ټولنې په منځګړیتوب شوی

او دغې تاکنیزې پروسې وښوده، چې افغانستان کې د امریکا دیارلس کلن حضور څومره بریالی او څومره ناکام و؛ مګر امریکایي او ناټو

چارواکي تر اوسه هم دېته نه دي تیار، چې افغانستان کې په خپله ماتې اعتراف وکړي او دوی لګیا دي، خلکو ته وایي، چې دغه دی افغانستان کې د دیموکراسي میوه په پخیدو ده، د طالبانو بریدونه یې کم کړي او القاعده خو یې بیخي له منځه وړې.

د لیکوال په وینا د امریکایي چارواکو ټولې دعوې به هغه مهال معلومې شي، چې د

روان کال په پای کې امریکایي عسکر له افغانستانه ووځي.

احمدرشید وایي، چې اصلا ۲۰۰۹ م کال کې د اوباما اعلان شوی پلان له سختو کمزورېو ډک و، چې اوس يې افغانستان او امریکا دواړه له یو بحراني حالت سره مخ کړي دي.

افغانستان سره د مرستو او بیا رغونې تیم عمومي مفتش ښاغلی جان سپوکو هغه واحد امریکایي چارواکی دی، چې په ډېره زړه ورتیا يې امریکایي چارواکو ته وویل، چې افغانستان اوس هم د طالبانو د پراخو بریدونو او چاودونو ښکار دی او حکومت کې دننه اداري فساد، شخړې، د ناقانونه وسله والو حضور، د چارواکو له لوري د مخدره موادو سوداګري او قاچاق د افغانستان اوسنی حکومت فلج کړی دی.

احمد رشید وایي، چې جان سپوکو دغه وینا جارج واشنګټن پوهنتون کې یوې لویې غونډې وکړه، مګر امریکایي چارواکو له پامه وغورځوله او هیڅ توجه يې ورته ونه کړه.

لیکوال زیاتوي، چې که افغان چارواکي او د هغوی لویدیځوال ملګري او همکاران خپلو کارونو ته متوجه نه شول، نو افغانستان به ډېر ژر د کورنۍ جګړې پر لور ورتېل وهل شي او داسې وسله والې ډلې راپیدا شي، چې له طالبانو به هم ډېر سخت وي.

مقاله کې راغلي، چې امریکا ۲۰۰۲م کال څخه تر اوسه افغانستان کې پراخ نظامي حضور درلود او تر دې مهاله يې ۲۴۰ میلیارده امریکایي ډالر په افغانستان کې مصرف کړل مګر تر اوسه يې هیڅ داسې لاسته راوړنه نه ده تر لاسه کړې، چې سړی ورته خوشحاله شي.

د امریکا په مشرۍ ځلور لوی بدلونونه افغانستان کې راغلل، چې یو يې هم دستاینې وړ نه دی.

اول :تر ټولو زیاته نیوکه د حامد کرزي هغه ولسمشریزو ټاکنو ګټل دي، چې ۲۰۰۹ کې يې دی له مخې ولسمشر وټاکل شو او دغو ټاکنو کې تر ټولو زیاته درغلي شوې وه.

حامد کرزي دا دیارلس کاله په واک کې تېر کړل، مګر تر اوسه يې سالم اداري جوړښت رامنځته نه کړ او نه يې د وسله والو جنګسالارانو واک اوبه کړ او حتی د ټاکنو اړوند يې داسې اصلاحي قوانین رامنځته نه کړل، چې له مخې شفافې ټاکنې ترسره شي.

دوهم :د امریکایي چارواکو او افغان لوري هغه دوه اړخیز ټرون و، چې له مخې به يې ټولې امنیتي چارې افغان ځواکونو ته سپارل کیږي او افغان امنیتي ځواکونه به د طالبانو د بیا

راتګ مخنیوی په خپل زور کوي، مګر د کورنیو چارو وزیر محمد عمر داوودزي د سپتمبر په شپارسمه نېټه ولسي جرګې ته په خپله وینا کې وویل، چې د روان کال دا تېرې شپږ میاشتې افغان پولیسو ته تر ټولو خونړۍ وې او طالبان له ۳۴ ولایتونو څخه اتلسو ولایتونو پراخ حضور لري او تل پکې پر بهرنیو او افغان امنیتي ځواکونو بریدونه او چاودنې کوي.

افغان عسکر په ډېره سختۍ ایله د خپلو ببسونو او پوستو دفاع کوي او تر اوسه په دې نه دي توانیدلي، چې له طالبانو هغه سیمې بېرته ونیسي، چې له افغان ځواکونو یې نیولې دي.

د لیکوال په وینا د افغانستان سویل کې هلمند هغه ولایت دی، چې ډېرې برخې یې د طالبانو په واک کې ده او که هلمند سقوط وکړي، نو ټول جنوبي ولایتونه د طالبانو لاسته لوېږي.

درییم :افغانستان کې د امریکا اقتصادي ټېروتنه او بې پامي.

د افغان مالیې وزارت لوړپوړي چارواکي وایي، چې افغانستان له اقتصادي پلوه له سختو ستونزو سره مخ دی او دوی نشي کولای، چې خپلو پنځه لکو کارکوونکو ته د راتلونکې میاشت تنخواوې ورکړي له همدې امله یې له امریکا څخه د ۵۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو بېړنۍ مرسته غوښتې ده.

د امریکا او نړیوالې ټولنې په مرسته افغان تعلیمي مرکزونه او روغتیایي اداري په پښو درېدلې، مګر دا به تر هغو دوام وکړي، چې تر څو د امریکا مرستې روانې وي. لیکوال زیاتوي، چې کله دی په ۱۹۷۹م کال کې افغانستان ته تللی و، نو هغه مهال افغانستان یو ډېر بې وزله، غریب او وروسته پاتې هېواد و، مګر په خوراکي توکو کې افغانستان له خپل ځانه پوره و.

د تازه او وچې میوې، په ګډون د قالینو، لاسي کارونو، کالیو او د قیمتي کانو صادرات یې نورو هېوادونو ته ښه په درز کې روان وو.

اوس افغانستان کې د متوسطو سوداګرو کاروبار له ستونزو سره مخ دی او د افغانستان اوسنی اقتصاد په اداري فساد او د نشیي توکو په تجارت ولاړ دی.

څلورم :د امریکا بله ناکامي د سیمې او نړیوالو هېوادونو د لاسوهنې او مداخلې نه مخنیوی دی.

افغانانو له امریکا غوښتل، چې د طالبانو په ګډون، د پاکستان، روس، ایران، سعودي هند او نورو هېوادونو مخنیوی وکړي، ځکه همدغو هېوادو د نویمو کلنو په کورنیو جګړو پراخ لاسونه درلودل.

امریکایي چارواکو افغانانو ته ډاډ ورکړی و، چې د ګاونډیو هېوادونو په ګډون به هېڅوک په افغانستان کې مداخله نه کوي، مګر د امریکادوعدو سربېره هم افغانستان د بهرنیو مداخلو او لاسوهنو مرکز دی.

تاریخ به هیڅکله امریکایان او حامد کرزی په ښه نوم یاد نه کړي، ځکه چې د تېرو دیارلسو کالو په ترڅ کې یې هیڅ داسې کار نه دی کړی، چې افغانانو ته اوږدمهالې ګټه ولري او اوس د نویو چارواکو امتحان دی، چې دوی څه کوي.

دغه چارواکي، چې د لانجمنو او بې باوره ټاکنو په پایلو کې واک ته وسیدل، دوی باید د خپل مسؤولیت احساس وکړي.

ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله د واک په وېش سره سلا شوي او دوه کاله وروسته به لویه جرګه راغواړي، ترڅو اساسي قانون کې له تغییر وروسته اجرایوي پوسټ ته قانونه ارزښت ورکړای شي، ځکه چې تر اوسه د افغانستان اساسي قانون کې د اجرایوي پوسټ نشته.

نوی حکومت باید داسې جدي کارونه وکړي، چې د تېرې لسیزې تېروتنې هم جبران کړي او راتلونکې لپاره هم ځانونه د تاریخ له ملامتیا وژغوري.

سرچینه: نیویارک ټایمز

په جهاد کې دلاري غبار.

عن عبدالرحمن بن جبیر رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم :يقول : من اغبرت قدماه في سبيل الله ،حرمه الله على النار . البخاري برقم :٩٠٧

ژباړه : له عبدالرحمن بن جبیر (رض) نه روایت دی ،وایي : چې ماله رسول الله صلى الله عليه وسلم نه آوریدلي دي چې ویل یې : دچاپښې چې دالله تعالى په لاره (جهاد) کې ګردجني سپېره شي الله تعالى هغه تن په اورباندې حراموي .

تشریح : په جهاد کې ویښه ،خوب ،ناسته ،ولاړه ،ګرزیدل ،تمیدل ، دجنګ میدان یا دمورچل پیره هره شیبه اوهر څه یې دمجاهد لپاره ستر غنیمت اولوی اجر دی ، په ذکر شوی حدیث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم امت ته دجهاد دګردونو ،دوړو ،اومزل اهمیت په ګوته کوي :وایي چې دجهادپه لاره کې دمجاهد پښې په ګردونو سپیره شي نودجهنم اوربه پرې حرام وي ، په یوه بل حدیث کې بیا داسې راځي :ولایجتمعان في جوف عبد: غبارفي سبيل الله ودخان جهنم الحديث مسلم برقم :١,١٩١*

ژباړه :دیوه بنده په جوف کې به دالله دلاري (جهاد) غبار اودجهنم لوګي یوځای نشي . .

اوپه بل حدیث کې راځي : ولایجتمع غبارفي سبيل الله ودخان جهنم في منخري مسلم ابدا، سنن الترمذي :١٦٣٣

ژباړه : اونه به هیڅ کله یوځای شي دالله تعالى دلاري (جهاد) غبار دوړه اودجهنم لوګی دیومسلمان دپوزې په ټینګې کې .

زمور فقهاو لیکلي :چې دمجاهدلپاره مول وهل کراهیت لري ؛ ځکه دجهاد له غبارنه ځان ساتل دفضیلت نه ځان محرومول دي

دجهاد فقهي مسائل

جهادکی محرمات او مکروهات

غدر، غلول، مثله

مفتي ابو محمد (حقاني)

څوارلسمه برخه

لکه څنګه چې غلول نا روادی، همداسې غدر هم نا روا دی ،او غدر دکریمه خصایلو اوښو اخلاقو سره منافي عمل دی ،چې مسلمان ته ترې اجتناب ضرور دی ،دغدر معنی دوئ په (خیانت او نقض العهد) سره کړي ،چې دا دواړه ناروا خصلتونه دي ،داچې غدر دخیانت اونقض العهد په دواړو معانیو سره ناجایز او ځینو فقهاوو ورته حرام ویلې دی ،شک نشته چې خیانت ځکه حرام دی ،چې دا یو جرم او غیراخلاقي کار دی او معمولا شریعت کې دا سې امورات نا روا وي . غدرکه دنقض العهد په معنی واخلو، نو هم یې عدم جواز له نصوصو څخه ثابت دی ،لکه چې الله تعالی فرمایي { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ }ترجمه:ای هغو خلکو چې ایمان مو راوړی ، په خپلو وعدو وفا وکړئ. { إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ) ترجمه:مګرپه مشرکینوکې مو چې له چا سره عهد کړی وی ، او له عهد وروسته یې نقصان اوکوتاهي نده کړي (په پټه یې کوم ډول تخلف له ژمنې ندی کړی) اونه یې ستاسو خلاف دبل چا ملاتړ کړی، نوددوئ سره تر خپلو ټاکل شویو وختونو پورې خپلې ژمنې تر سره کړئ، یقینا الله تعالی پرهیزګاران خوښوي.مفسرین وایې چې که چیرته حلیفو کفارو په څرګند ډول عهد کني وکړه ،نو قتال به یې پر خلاف له خبرداري پرته پیل کیږي او که چیرته یې په څرګند ډول ه مسلمانانو سره کړې معاهده نه وه ماته کړي، بلکې داسې نښې پکې کتل کیدي، چې عهد شکني کوي او له شوي تړون څخه تخلفات کوي ،نودې صورت کې به (نبذ العهد)ورسره وکړي،

یعني تصادفا به پرې حمله نه کوي، چې هغوئ دمعاهدې په فکر کې وي او مسلمانان پرې برید وکړي، بلکې یو ځل به یې پدې خبره خبرکړي، چې زمونږ او ستاسو سره معاهده ماته شوه، نو بیابه پرې حمله وکړي ؛لکه همدا مفهوم څښتن تعالی څومره په ښه اسلوب باندې بیان کړی { وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ}.نو غدر کول خلاف شریعت عمل دی او جوازنلري ،او دوعدې ماتول له غدر څخه شمیرل کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمایي ، څوک چې غدر کوي ،دقیامت په ورځ به یې ځانګړی بیرغ وي، چې خلک به یې پدې سره غادر پیژني (وَنَقْضُ الْعَهْدِ يُعَدُّ مِنَ الْغَدْرِ ، وَقَدْ شَهَّرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْغَادِرِ فِي قَوْلِهِ: (لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ).

تراوسه خو مو دومره ثابته کړه، چې غدر یو مستکره او ناروا کار دی او دا غدر دخیانت او نقض العهد په معنی ګانو سره مستعمل دی ،علماوو په وعده باندې دوفا کولو یا نه کولو دجوب ،حرمت ،استحباب او کراهت تر منځ نظریې ورکړي ، (مجلة المجتمع الفقه الاسلامي)په دې موضوع کې ښه ډیر تفصیل ورکړي او دټولو دنظریاتو دتایید دلایل یې هم په پوره وضاحت راوړي ،همداسې دحنفي مذهب دظاهرالروایة کتاب (المبسوط)همداسې د(حاشیته ردالمحتارللشامي رح) او نوروځینې عبارات هم ددې توضیح ملاتړ کوي ،خودلته به یې مونږدمقام دزیات وضاحت په آند اودیوې دیني مسئلې دلا ډیر توضیح په نیت په مختصر شکل سره درې ګوني اقوال له ځینو دلایلو سره مله رانقل کړو !

په (مجلة المجمع الفقه الاسلامی ج۵ص۲۷۰)کې ددې موضوع په باب علماء درې ډلو باندې سره ویشلې دي ، او هرې یوې ډلې ته یې بیل مذهب ویلی ، په نومورې مرجع کې داسې دي چې : اختلف العلماء في لزوم الوفاء بالعهد. فقال بعضهم: يلزم الوفاء به مطلقاً. وقال بعضهم: لا يلزم مطلقاً. وقال بعضهم: إن أدخله بالوعد في ورطة لزم الوفاء به، وإلا فلا. ومثاله- ما لو قال له: تزوج. فقال له: ليس عندي ما أصدق به الزوجة. فقال: تزوج والتزم لها الصداق وأنا أدفعه عنك، فتزوج على هذا الأساس، فإنه قد أدخله بوعده في ورطة التزام الصداق.....یعنې په وعده باندې دوفاکولو په لزوم باندې دعلماووتر منځ ژور اختلاف دی ،هغه داسې چې:ځینې وایي چې په وعده وفا مطلقا واجب ده ،ځینې وایي چې:مطلقا په وعده وفا واجب نه بلکې مستحب ده ،اوځینې علماء پکې داسې تفصیل کوي، چې که چیرته دده وعده ددې سبب شوه ،چې دا پکې دتکلیف ،نقصان یا اهلاک له مواردو سره مخامخ کیده ،نو بیا پرې وفا واجب ده او که داسې کوم خطر په وعده خلافی کې نه پیدا کیده، نو بیا پرې وفا واجب اولازم نده ،ددې لپاره داسې بیلګه وړاندې کوي، چې یو کس بل چا ته ووایي ،چې ښځه وکړه !دا سړی

ورته ووايي چې پيسې نلرم ،نو دا ورته ووايي چې ښځه وکړه او صداق يا مهر پر ځان لازم کړه، زه به يې ورکړم ،نو دې سړي پدې اساس ښځه يا کوژدن وکړه، نو دې ته وايي (ورطه)ياد استهلاک او تاوان ځای !چې صورت کې په وعده وفا لازم ده، ځکه که دا سړی په خپله وعده وفا ونکړي ،نو خامخا هغه بل چې دمهر وسه نلري، له شرم او خجالت سره مخامخ کيږي او دا ورته دهلاکت سره مصادف ده.

المذهب الأول: وجوب الوفاء بالوعد مطلقا.

په وعده باندې وفا کول واجب دي او دا نظريه ددې لاندينو اشخاصو رايه ده (دراشده خليفه عمربن عبدالعزيزرح ،چې قاضي ابوبکر ابن العربی الاندلسی يې په باب وايي چې ((أجل من ذهب إلى هذا المذهب عمر بن عبد العزيز. ذكره الإمام النووي في الأذكار.)) همداسې ددې لاندينو مشاهيرو رايه ده: وهو قول الحسن البصري ، ومذهب الصحابي الجليل سمرة بن جندب رضي الله عنه، ورأي الإمام إسحاق بن راهويه ، ورأي الفقيه المالكي المشهور ابن شبرمة ، وبه قضى القاضي سعيد بن عمر بن الأشوع الهمداني.. وغير هؤلاء من السلف والخلف كما في "فتح الباري" و "عمدة القاري" و "المحلي".دوئ ټول وايي چې وعده مطلقا ملزمه ده او وفا پرې ديانة او قضاءً واجب ده

همداسې په (مجلة المجمع الفقه الاسلامی ج۵ص۲۷۰) کې وايي ،چې د(علامه تقي الدين السبكي الشافعي) همدرايه ده، امام غزالي رح وايي، چې که عذر نه وي او په وعده جزم وي، نو وفا پرې لازم ده ،همداسې دقاضي أبو بكر ابن العربي المالكي نظر هم دی ،کما ذکره القرطبي في كتابه "الجامع لأحكام القرآن ".

په (جامع العلوم والحكم) کې د(ابن رجب حنبلی)ځخه همدا دوجوب قول را نقل شوی دی ،په(شرح المقنع.) کې دحافظ ابن تيميه رح ځخه هم ددې مذهب تصحيح رانقل شوي ده ،نو ددې علماوو او په مذاهبو کې دنوماندو نظريات داسې خلاصه کووچې که عذر نه و، نو لزوم پر وعده واجب دی.

ددې مذهب دلايل هغه آيتونه او احاديث دي، چې هر چاته معلوم دي، خو څو به يې دلته وليکو . لکه {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ(٢) كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ} [الصف٢-٣]

ياد آيت کريمه چې {وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا} [البقرة: ١٧٧] يا دا آيتونه: {وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ} [الروم: ٦] وقوله تعالى: {وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ} [الزمر: ٢٠] يالکه دا مشهور حديث: ما أخرجه البخاري ومسلم عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال ((آية المنافق ثلاث إذا حدث كذب وإذا وعد أخلف وإذا اؤتمن خان)). وفي رواية ((من علامات المنافق ثلاث إذا حدث كذب وإذا وعد أخلف..إلخ "وفي رواية "آية المنافق ثلاث إذا حدث كذب وإذا وعد أخلف. وإن صام وصلى وزعم أنه مسلم.....)چې ددې مذهب دتوثيق نه

پریمانه دلایل شته ،چې دلته یې را وړل پوره حوصله غواړي او ډیري پاڼې غواړي ،نو ښه داده چې دچاړتیاوه، نو مذکور وکتابونو او مراجعوکې کې دې یې وګوري !

المذهب الثاني: استحباب الوفاء بالوعد لا وجوبه مطلقا.

١-وهو مذهب جمهور العلماء أبي حنيفة والشافعي ، وأحمد بن حنبل ، والظاهرية، وبعض من علماء المالكية، وغيرهم من علماء الإمامية

وخلاصة قولهم في هذه المسألة "أن الوفاء بالوعد مستحب مندوب إليه ، وليس بواجب ولا فرض ، فلا يقضى به على الواعد إذا أخلف، ولكن الواعد إذا ترك الوفاء بالوعد فإنه الفضل، وارتكب المكروه بسبب خلفه".

لنډه ژباړه:دویم مذهب یکې دادی ،چې په وعده وفا کول واجب نه، بلکې مستحب عمل دی ،چې داد جمهورو علماوو مذهب دی ،لکه امام ابو حنیفه رح ،امام شافعي رح ،امام احمد بن حنبل رح ،ځینې علماء دامام مالک رح .....چې ددوئ دقول خلاصه داده، چې په وعده وفا مستحب او مندوب الیه عمل دی ،فرض او واجب ندی ،نو قضاء کې به پر وعده خلاف فیصله نه کیږي، لکن وعده خلاف شخص دفضل ترک وکړ او په وعده خلافی سره دیوه مکروه عمل مرتکب شو.: قال الإمام النووي في "الأذكار "(ذهب الشافعي وأبو حنيفة والجمهور: إلى أنه مستحب ، فلو تركه فاته الفضل، وارتكب المكروه كراهة تنزيه شديدة. ولكن لا يأثم)ژ: امام نووي رح وایي:چې امام شافعي رح ،امام ابو حنیفه رح او جمهور و دې ته ذهاب کړی، چې پر وعده وفا مستحب ده، چې په پرینښودلو سره یې دې تاریک فضل فوت کړ،اودیوه داسې مکروه عمل مرتکب شو ،چې شدید تنزیهي دی، لکن ګنهګار نه دی.

ابن علان شافعي) په خپل کتاب (الفتوحات الربانية "کې لیکي: وقد تقرر في مذهبنا أن الوفاء بالوعد مندوب لا واجب "ژباړه :زمونږ دمذهب کره خبره داده، چې په وعده وفا واجب نه، بلکې مستحب ده.

په (الموسوعة الفقهية) کې لیکي:چې دشافعي علماوو مقتضی حکم لکه څنګه د (الروضة) ،(القیلوبي)او دابن علان (شرح الاذکار)کې دامام نووي رح له کلام څخه ښکاري داده چې وعده خلافي مطلقا په کراهت شدیده سره مکروه ده ، او اووعده خلاف به دوعدې په تنفیذ نشي مجبورولای.

وقال الإمام أبو بكر الجصاص في كتابه " أحكام القرآن " "إن الوعد بفعل يفعله الإنسان في المستقبل مباح إذا كان الفعل مباحا ، وأن الوفاء به أولى من إخلافه مع الإمكان ".ترجمه :امام ابوبکر جصاص په خپل کتاب (احکام القرآن)کې لیکي: چې پداسې یوه کار سره وعده کول ،چې انسان یې راتلونکې کې کول غواړي، یومباح فعل دی ،او وفاپه وعده باندې له خلاف الوعد نه دامکان په صورت کې اولی یا غوره ده

وقال ابن حزم الظاهري في "المحلى": "من وعد آخر بأن يعطيه مالا معينا أو غير معين، أو بأن يعينه بعمل ما، حلف له على ذلك أو لم يحلف، لم يلزمه الوفاء به، ويكره له الخلف، وكان الأفضل لو وفى به، وسواء أدخله بذلك في نفقة أم لم يدخله، وهو قول أبي حنيفة والشافعي وأبي سليمان". ژباړه: ابن حزم ظاهري په (المحلي) کې وايي، چې يوکس دبل چا سره وعده وکړه، چې څه مال به ورکوي، دامال که معين وي که غير معين، يا به ورته يو کار کوي، نو پده ددې وعدې وفا لازم نده، خو وعده خلافي يې مکروه عمل دی، که پرې وفا وکړي نوورته به غوره وي، عام ددې ده چې نفقه پکې داخل وي که نه، دا دامام ابو حنيفه رح، امام شافعي رح او سليمان قول دی.

وقال برهان الدين ابن مفلح الحنبلي في كتابه "المبدع" "لا يلزم الوفاء بالوعد وقال نص عليه -الإمام أحمد -وقاله أكثر العلماء". ترجمه: برهان الدين ابن مفلح حنبلي په خپل کتاب (المبدع) کې ليکي: چې: په وعده وفا لازم نده او پدې امام احمد رح هم تصريح کړې ده.

ترجمه: او حافظ ابن حجر عسقلاني په (الفتح) کې د (المهلب) څخه نقل کړي، چې دا وايي چې دوعدې پوره کول، دتولو په نزد مامور به او مندوالیه عمل دی، او دا فرض نده، ځکه ددوئ اتفاق پدې دی، چې موعود له به دقرضدارانو سره په وعده نه وهل کيږي، خو (ابن حجر) بيا پدې کې داجماع ادعا رد کړي ده، او پدې يې تعليل کړی، چې پدې مسئله کې اختلاف مشهور دی، که څه هم پدې قائلين کم ترسترګو کيږي، خو بعضې علماوو ويلې، چې حقيقتاً هغه علماء چې دوئ دوعده خلاف څخه دګناه نفي کوي، ددوئ نيت ددې څخه دمجرد وعده خلافي دی، که چيرته دوعده کوونکې قصد اواراده په وعده خلافي کې دهغه بل موعودله شخص تکليف او ضرروي، نو حتمي ده، چې دا پرې ګناهګار دی.

.دابن عبدالبر په کتاب (التمهيد) کې ليکلي چې امام ابو حنيفه رح او ملګرويې، امام اوزاعي رح، امام شافعي رح، عبدالله بن حسن رح او نورو فقهاوو ويلې چې: چې په وعده څخه شئ لزوم نه راځي، دا داسې منافع دي، چې په عاريت کې لا قبض شوي نه دي، ځکه دا طارئ دي او په غير دعاريت څخه اشخاص او اعيان موهوبه دي، چې لا قبض شوي نه دي او صاحب يې ترې رجوع کولای شي.

په (مجلة المجمع الفقه الاسلامی ج۵ص۲۷۰) کې ليکي چې ((ومن هذا كله نعلم: أن هذا المذهب هو مذهب أكثر العلماء والفقهاء، لكن قد لا يوجد له دليل قاطع وصحيح من حيث النقل فلننظر إلى تلك الناحية)). ژباړه: ددې پورته تحقيق نه مونږ داسې فهمولای شو، چې دا دويم مذهب) چې (پروعده وفا واجب نه، بلکې مستحب ده) دا مذهب داکثرو فقهاووا و زياتو علماوو مذهب دی، لکن داثبات لپاره يې په اړه پريکنده او صحيح نقلي دليل نشته.

خوزما په آند به دا خبره به بشپړ انصاف نه‌وي ، ځکه چې لاندینۍ روایات ددې مذهب لپاره په دلیل کې راوړل شوي نقلي دي او بل داچې دا دامت دسترو سترو امامانو مذهب دی ،نو هغوئ سره چې داسې کوم دلیل نقلي نه‌وی، نو ولې یې بیا داسې ضعیف حکم باندې قول کاوه (والله اعلم).

ددې مذهب دلایل دادي:منها ما أخرجه الإمام مالک في "الموطأ ((أنه قال رجل لرسول الله صلى الله عليه وسلم: أكذب لامرأتي؟ فقال صلى الله عليه وسلم "لا خير في الكذب" فقال: يا رسول الله أفأعدها وأقول لها؟ فقال صلى الله عليه وسلم "لا جناح عليك")).وجه داستدلال ددې حدیث داسې ده، چې:پیغمبر صلى الله عليه وسلم پوښتونکی دمستقبل سره د ترلو دروغو ویلو څخه منع کړ،اوهم یې دوعدې په وجه دګناه یا وبال نه نفي وکړه ،نو وعده خلافي په دروغو مسمی نه شوه ،ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې قسیم وبلله ،که چیرته دا وعده خلافي دکذب نه شمیرل کیدلای، نوبیا به یې ددې کذب قسیم نه بللی بلکې ددې قسم به یې بللای وی ،نو ځکه وعده خلافی کې ستر حرج نشته ،نوددې نه څرګنده شوه چې ددې سایل مقصود دخپلې ښځې دحال اصلاح ده، په هغه څه چې دا یې نه کوي،نودې کې ورته دحرج تخیل پیدا شو،نو پیغمبر صلى الله عليه وسلم څخه یې نور وضاحت وغوښت.

ددې مذهب داثبات بل حدیث: ما أخرجه أبو داود في سننه من حديث زيد بن أرقم: أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ((إذا وعد الرجل أخاه ومن نيته أن يفي له، فلم يف ولم يجئ للميعاد، فلا إثم عليه)) ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایي:چې کله چې یو سړي دخپل ورور سره وعده وکړه او نیت یې داوي چې په وعده به وفا کوي ،(دوعده خلافی نه‌وي) مګر وفا یې پرې ونکړه او دوعده ځای ته رانغی نو ده باندې ګناه نشته.

بل دلیل: ددې دلیل حاصل دادی ،چې په وعده کې دتبرع معنی پرته ده ،امام نووي رح په (الاذکار)کې وایي، چې هغه څوک چې په وعده وفا واجب نه بولي، استدلال پدې کوي، چې داد هبې په معنی ده. هغه چې له قبض نه مخکې وي ،او هبه دجمهورو علماوو په عقیده له قبض نه وړاندې نه لازمیږي ،مګرپه قبض سره لازمیږي، اومالکیان وایي چې له قبض نه مخکې لازمیږي ،نو هبه لکه دوعدې محض تبرع ده ،او دمحض تبرع په وجوب شریعت کې په هیڅا دلیل نشته.

د دویم مذهب اصحاب دلومړي مذهب دلایلو کې ، چې وجوب تري ثابتیده، تاویلات کوي او ورته ځواب کوي، لکه چې دې کې:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ} [الصف:٢].

دوئ وایي چې دا آیت په هغه قوم باندې نازل شوی ،چې دوئ دجهاد دفرضیت تمنا کوله ،خوکله چې پرې جهاد فرض شو ،نو ځینو تري انکار وکړ،نو دا آیت خاص دې قوم سره دی او

ځانته په جهادي امورو کې دی، لکه چې همدا نظر د(ابن جریر او ابن عباس رض) دی. یا داچې مراد تري واجب امورات دي، لکه د قرض ورکولو وعده ،دیوه چا دحق ورکولو وعده یا داسې نور.....

کما تأولوا الآية الثانية {وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ..} إلخ [التوبة ۷۵].. بأنها تخبر عن النذر ، والوفاء به فرض وواجب.

او دوئ وایي چې په هغو مذکورو احادیثو کې چې وعده خلافي د نفاق علامه یا نښه ښودل شوي ،ددې حدیث نه مراد ظاهري معنی نده او هم دې حدیث کې د نفاق څخه هم غرض حقیقي نفاق نه دی ،دوئ داسې وایي، هغه چې (فتح الباری)کې راغلي دي، چې:مراد په اطلاق د نفاق سره د مسلمان انذار،ویرونه او تخویف دی ،اوداسې خصلتونو دارتکاب او اعتیاد څخه تحذیر دی ،ددې وجه نه چې ددې نه به حقیقي نفاق ته مفضي شي .بعضي علماوو ویلې چې مراد په حدیث کې صرف هغه منافقین دي، چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت کې وو ،او کثرو علماوو ویلي:چې په حدیث کې چې کوم خصلتونه د نفاق علامې ښودل شوي ،دا د منافقت خصایل دي او هغه څوک چې دا خصایل پکې شته ،هغه د منافقینو سره مشابه دی ،او دا د منافقینو په خویونو پسوللشوی دی، خو مراد تري هغه منافق ندی، چې هغه اسلام کې منافق شوی وي،هغه چې اسلام ښکاره کوي، خو حقیقت کې کافر وي ، الموسوعة الفقهیه لیکي چې: فلیس مراد النبي صلی الله علیه وسلم بهذا الحدیث نفاق الکفار المخلدین في الدرک الأسفل من النار، وقالوا: إن معنی قوله صلی الله علیه وسلم ((کان منافقا خالص)) ، أي شدید الشبه بهم بسبب تلک الخصال.

امام ترمذي په خپل سنن کې د دې حدیث دابن عمر رض نه وروسته لیکي چې: ((أربع من کن فیه کان منافقا.. إلخ))چې د اهل علم په عقیده تري مراد نفاق العمل دی ،او نفاق التکذیب درسول الله صلی الله علیه وسلم په دوره کې وو ،هکذا روي عن الحسن البصري شيء من هذا. وارتضاه کل من القرطبي والعسقلاني- کما في "الفتح". ولکن العسقلاني قال فیه "إن أصحاب هذا التفسیر قد استدلوا بأحادیث ضعیفة ولو صحت لوجب المصیر إلیها ".

دریم مذهب:په وعده دوفا وجوب دی او دا داکثرو مالکیانو نورو مذهب دی ،دوئ دوه ډلې دي، یوه ډله یې وایي چې په وعده وفا لازم ده او قاضي به په وعده کوونکې هغه وخت قضاء کوي، چې کله په سبب پوره شي او موعود له دسبب الوعد په یوه شئ کې داخل شي ،که دا شرایط پوره نه وي، نو بیا پرې نه قضاء کولای شي او نه پرې وفا واجب ده ،او دا د امام مالک رح دمذهب راجح قول دی، چې (قرافي)یې پخپله ده ته ،ابن قاسم او سحنون ته نسبت کړی دی ،

او دويمه ډله چې (اصبغ) او دسلفو او خلفو نه دده هم نظري پکې ورسره ملګري دي، داسې وايي چې: وعده باندې وفا لازمه ده، او قاضي به هم په واعد باندې دسبب د بشپړاوي په صورت کې قضاء کوي. که څه هم موعود له په ممارست د يوه شئ دسبب داخل نه وي..... !

داچې دلايل ددې مذهب هم ډير دي، نو ددې پرځای مو يوازې دمذهب په تذکر بسنه وکړه، خلاصه داچې وعده باندې دوفا کولو کې ددريو معتمدو علماوو اقوال دي: دجمهورو علماوو مذهب، چې په وعده وفا مطلقا مستحب ده، او وعده خلافي کول شديد مکروه عمل دی، دويم مذهب پکې دعمر بن عبد العزيز رح ابن شبرمه رح امام سبکي رح او نورو علماوو دی، چې وايي چې په وعده وفا واجب ده، او دريم مذهب پکې دمالکيانو دی چې دوئ تقسيم کوي، مجرد وعده او غير مجرد وعده !

وَفِي الْمَبْسُوط: لَوْ قَالَ: إِنْ فَعَلْت كَذَا فَأَنَا أُحْرِمُ فَإِنْ نَوَى بِهِ الْعِدَةَ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ أَوْ الْإِيجَابَ لَزِمَهُ إذَا فَعَلَ ذَلِكَ حَجَّةٌ أَوْ عُمْرَةٌ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ فَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَلْزَمَهُ شَيْءٌ.

وَفِي الِاسْتِحْسَانِ يَلْزَمُهُ لِلْعُرْفِ فِي إرَادَةِ التَّحْقِيقِ لِمِثْلِهِ لِلْحَالِ كَقَوْلِ الْمُؤَذِّنِ وَالشَّاهِدِ أَشْهَدُ.

وَمِثْلُهُ مَا ذُكِرَ فِيهِ لَوْ قَالَ أَنَا أَمْشِي إلَى بَيْتِ اللَّهِ إنْ نَوَى الْعِدَةَ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَلَكِنْ يُنْدَبُ الْوَفَاءُ بِالْوَعْدِ.

(فتح القدير ج۲ ص۳۲۰)

ترجمه: فتح القدير کې د (المبسوط) په حواله ليکي: چې که څوک ووايي چې که ما دا کار وکړ، نو زه به احرام ترم که نيت يې وعده وه، څه شئ پرې نه لازميږي، که نيت يې دنذر وغيره وو، او دا کار يې وکړ، حج يا عمره پرې لازم شوه او که هيڅ نيت يې نه وو، نو استحساناً پرې دعرف له کبله لازميږي، لکه دمؤذن او شاهد دا قول چې (اشهد) يا لکه داچې ووايي زه به بيت الله ته پياده ځم، نو که اراده يې دوعدې وه، نو څه شئ پرې نه لازميږي، لکن وفا په وعده مستحب عمل دی.

په مجموع کې که دلايلو ته خبر شو، يوې خواته جمهور علماء او دامت ائمه ولاړ دي، دوئ هم په روايتونو باندې استدلال کوي، اوبل طرف ته دخليفه راشد عمر بن عبد العزيز رح غوندې لوی شخصيتونه په ښوډيرو آيتونه او احاديثو استدلال کوي او حافظ ابن عبد البر رح يې هم په باب وايي چې: (وقال ابن عبد البر وابن العربي أجل من قال به عمر بن العزيز)، دطبراني په يوه حديث کې حتى دماشوم سره هم وعده خلافي نده جايز، لکه چې داسې دي: رواه الطبراني في الأوسط والقضاعي وغيرهما عن ابن مسعود بلفظ قال: "لا يعد أحدكم صبيه ثم لا ينجز له). چا يوه او چا بل مذهب ته ترجيح ورکړي، خو دا يوه خبره چې مونږه يې ددې پورتنۍ تحقيق نه په نتيجه کې ترلاسه کولای شو، هغه داده، چې په وعده باندې وفا کول که واجب وي يا مستحب خو دانساني مروّت له عاداتو څخه

دی، او په ژمنه دریدل دلویو هستیو له حمیده اخلاقو او حسنه خصلتونو څخه دي ،همداشان په ژمنه نه دریدل یا وعده ماتول که حرام وي ،که مکروه ،خومجموع کې یو ناجایز عمل دی او داکار دانساني مرؤت نه خلاف کار دی ، کونکی یې په ټولنه کې بې اعتباره او دخلکو منځ کې یې شخصیت ددې بد خصلت په وجه مجروحیږي .وعده خلاف سړي باندې څوک باور نه کوي او تل خلکو کې باور له لاسه ورکوي.

فقهاء وایي له چاسره وعده کول ،کله په معروف کاروي ، لکه د قرض حسنه ،صدقه ،عطاء،اعاره ،تملیک عین وغیره وعدي ،کله وعده په عقود و لازمه وي، لکه وعده دنکاح دعقد ،بیع ،شراء ،اجاره وغیره ،کله وعده په مؤانست وي، لکه:دملګرو دملاقات وعده ،دمریض دعیادت وعده ،دشریک سفر او اوسیدلو وعده ،کله وعده په ادا دواجب شرعي کې وي ،لکه دقرض اوامانت ورکولو وعده ،کله په معصیت کې لکه غلا ،دچا قتل وغیره....

دفقهاوو په اتفاق سره په واجباتو کې پر وعده وفا واجب ده ،لکه دین ،قرض،پردی حق وغیره ،همداسې په اتفاق دفقهاووسره په معصیت کې وعده خلافي واجب ده، لکه غلا ،زنا ،دچا قتلول وغیره ، اودفقهاوو په اتفاق سره په مندوباتو کې پروعده وفا یو مناسب عمل او دمروؤة او خصالو حمیده وو څخه دی !

والله اعلم

نجات از سکته مغزی

در یک پارتی خانمی پایش به سنگی خورد و با بشقاب غذا در دستش به زمین خورد، علت زمین خوردنش کفش جدیدش بود که هنوز به آن عادت نکرده بود. دوستان کمک کرده و او را از زمین بلند و بر نیمکتی نشاندند و جویای حالش شدند. جواب داد حالش خوب است و ناراحتی ندارد. مهماندار بشقاب جدیدی با غذا به ایشان داد.... خانم بعد از ظهر خوبی را به اتفاق دوستانش گذراند و بسیار راضی به اتفاق همسرش به خانه برگشت. چند ساعت بعد همسرش به دوستانی که در پارتی بودند تلفن کرد و اطلاع داد که ژولی را به بیمارستان برده اند. خانم ژولی در ساعت ۱۸ همان روز در بیمارستان فوت کرد و پزشکان علت مرگ را سکته مغزی A.V.C (Accident vasculaire c.ébral)تشخیص دادند..

چند لحظه از وقت خود را به مطالبی که در پی می آیند معطوف کنید، شاید روزی شما با چنین اتفاقی برخورد کنید و بتوانید زندگی شخصی را نجات دهید.

متخصص می گوید یک شاهد حادثه با آشنا بودن به علائم خون ریزی مغزی می تواند با سه سئوال ساده از مریض به سهولت او را نجات دهد. اگر در آن گاردن پارتی یک نفر سئوالهای زیر را از ژولی کرده بود حتما" آن زن زیبا و جوان اکنون زنده بود...

۱ــ از بیمار یا شخص ضربه مغزی خورده بخواهید بخندد.

۲ــ از بیمار یا شخص ضربه خورده بخواهید دو دستش را بالا نگه دارد..

۳ــ از بیمار یا شخص ضربه خورده بخواهید یک جمله ساده را تکرار کند. مثلا" بگوید خورشید در آسمان بسیار خوب می درخشد.

اگر بیمار یا شخص ضربه خورده قادر به انجام یکی از این کارها نباشد باید فوری امبولانس را خبر کرده و بیمار را به بیمارستان منتقل کرده و به مسئول مربوطه عدم اجرای یک یا چند اعمال فوق را اطلاع داده تا ایشان پزشک را در جریان گذارد.

اگر کسی این پست را میبینند و آنرا به اشتراک میگذارند ،مطمئن باشد که در زندگی اش جان یک یا چند فرد را نجات داده است..

توجه کنید، تعداد افرادی که این روزها با اینترنت کار میکنند در دنیا چقدر است و اگر پست را به اشتراک بگذارید ،تعداد افراد آشنا با این سئوالها به صورت تابع نمایی در کمتر از یک ماه به میلیونها نفر خواهد رسید...

د اسلام غزوات او سرایا

احد جنګ

ابو ظهیر

۲۷مه برخه

د حضرت خیثمه ﷺ شهادت:

خیثمه ﷺ (دنومورې خوی سعد ﷺ په بدر کې شهید شوی و) رسول الله (ﷺ) ته راغی او عرض یې وکړ:

یارسول الله! افسوس زه له بدر نه پاتې شوم، کنه زه په کې ګډون ته ډېر لیوال وم، تردې ما ددې نیکمرغۍ (شهادت) مندلو لپاره د خپل خوی سعد سره قرعه (پچه) وکړه، لیکن دا نیکمرغې دهغه په قسمت کې لیکلې وه، دهغه د نوم په وتلو هغه ته شهادت نصیب شو او زه پاتې شوم.

ما بیګاه دشپې خپل خوی په خوب لیدلی، هغه ډېر ښکلی او ښایسته شوی و، دجنت په بنونو اونهرونو کې یې سیلونه کول، ماته یې وویل پلاره! ته هم دلته راځه! دواړه به جنت کې یوځای اوسو، ما سره خدای (ﷻ) کومه وعده کړې وه هغه یې پوره کړې.

یارسول الله (ﷺ)! زه له هم هغه وخته خپل خوی سره ملګرتیا ته لیوال یم، نورسپین ګیری شوی یم او هډوکي مې کمزوري شوي، یواځې دا ارزو لرم چې څنګه به دخپل رب سره یو ځای شم، دالله رسوله ماته دعاء وکړه چې الله (ﷻ) ماته شهادت راکړې او جنت کې مې دسعد سره ملګرتیا په نصیب کړي.

رسول الله (ﷺ) خیثمه ﷺ لپاره دعاء وکړه، الله (ﷻ) درسول الله (ﷺ) دعاء قبوله

کړه او احد کې هغه هم شهید شو (زادالمعاد ، سیرة المصطفی دوهمه برخه ۵۲۵مخ)

د حضرت اُصَیرِم ﷺ شهادت:

عمروبن ثابت چې د اُصَیرم په لقب مشهور و، همیش به له اسلام منحرف و، کله چې د احد جنګ ورځ شوه، زړه ته یې اسلام ننوت او توره په لاس د جنګ میدان ته ووت، د کافرانو یې په کلکه مقابله وکړه، تردې چې ټپي شو او پریوت، خلکو چې کله هغه (اُصیرِم) ولید، نو په زیات تعجب یې تري وپوښتل:

ته! څنګه جنګ ته راغلي، د اسلام په رغبت او که په قومي غیرت او حمیت؟

اُصَیرِم ﷺ وویل:

بَل رَغبةً فی الاسلام فامنتُ بالله ورسوله فآ سلمتُ وآخذتُ سیفی وقاتلتُ مع رسول الله ﷺ حتی اصابنی ما اصابنی

زه د اسلام رغبت راوستی یم، ما په الله ایمان راوړی او د هغه په رسول، مسلمان شوم، بیا مې توره را واخیسته د رسول الله سره مې یو ځای د هغه د دښمنانو سره جنګ وکړ، تردې چې زه ټپي شوم

د دې خبرو وروسته نوموړی شهید شو ﷺ "انه لمن اهل الجنة" بیشکه هغه د جنتیانو څخه و، (ابن اسحاق و اسناده حسن)

ابو هریرة (ﷺ) به فرمایل:

هغه څوک دی چې جنت ته لاړ خو یو لمونځ یې هم ندی کړی؟

هغه هم د غه صحابي و (اصابة ترجمة عمروبن ثابت ﷺ)

د رسول الله (ﷺ) حالت پوښتلو لپاره د میرمنو اونارینه وو هجوم

د جنګ په اړه مدینه منوره کې وحشتناک خبرونه رسیدل، له دې وجې د مدینې میرمنو اونارینه وو ماشومانو او بوډاګانو له خپلو خپلوانو نه زیات د رسول الله (ﷺ) عافیت او سلامتیا پوښتلو ته لیوال او ورځطا ول

د سعد بن وقاص (ﷺ) روایت دی:

بیرته ستنیدو کې رسول الله (ﷺ) په یوې داسې انصاری میرمنې تیر شو، چې د هغې میړه، ورور او پلار د رهواړه احد کې شهیدان شوي وو، هر کله چې هغې ته د خپل میړه، ورور او پلار د شهادت خبر ورکړل شو، هغې وپوښتل: لومړی دا وویه! چې رسول الله (ﷺ) څنګه دی؟ خلکو وویل: الحمد الله هغه روغ دی.

هغې وویل:

ماته د رسول الله (ﷺ) ښکلی مخ را ښکاره کړئ! څو پخپلو سترګو یې وګورم، او پوره یقین مې راشي.

خلکو ورته په اشاره وویل: هغه رسول الله (ﷺ) دی! کله چې هغې رسول الله (ﷺ) ولید وې ویل:

کُلُّ مصیبةٍ بعدک جلل

هر مصیبت د رسول الله (ﷺ) وروسته هیڅ دی (ابن هشام ۱ټوک ۱۲مخ)

په صحابه وو فراموښې راتلل:

هرکله چې کوم شیطان داخبر خپور کړ، چې رسول الله (ﷺ) شهید شوی، په دې سره دبشریت په مقتضاء ځینې مسلمانان اندیښمن شول، ددې اندیښنې او پریشانۍ په حالت کې دلږ ځنډ لپاره دهغوئ قدمونه دجګړې له ډګره وروسته شول اودکومو لپاره چې دشهادت نیکمرغي مقرره وه هغوئ شهیدان شول او دکومو لپاره چې وروسته تلل مقدر وو، هغوئ وروسته شول، اوکوم چې دجنګ په ډګر کې پاتې شول هغوئ مخلص مومنان، اهلِ یقین او د توکل خاوندان ول په هغوئ د الله (ﷻ) له لوري دخوب پراموښې راغله او په ولاړه خوب ونیول، په هغوئ کې ابو طلحه (رضي الله عنه) هم و، نوموړی وایي:

ځو ځله زما دلاس نه به توره زمکې ته پریوته مابه بیا را پورته کړه.

دا یوښه اثر و، دهغه باطني ډاډ چې الله (ﷻ) مومناتو ته په ورکړ، په وجه یې دکافرانو ډار دهغوئ له زړونو نه یومخ لیرې شو اودمنافقانو کومې ډلې چې په جنګ کې ګډون درلود هغوئ په سخته ورخطایې او اضطراب کې وو، هغوئ سره یواځې دخپل ځانو دژغورنې فکرو، هغوئ کم بختو ته خوب ورنغی اوپه باره کې یې دا ایتونه نازل شول:

ثُمَّ اَنزَلَ عَلَيكُم مِن بَعدِ الغَمِّ اَمَنَةً نُعَاساً يَغشَى طَآئِفَةً مِنكُم وَطَآئِفَةٌ قَد اَهَمَّتهُم اَنفُسُهُم يَظُنُّونَ بِاللهِ غَيرَ الحَقِّ ظَنَّ الجَاهِلِيَّةِ

بیا الله (ﷻ) ددې غم نه وروسته په تاسې باندې دامن اوسکون کیفیت نازل کړ، یعنې له تاسې نه په یوه ډله باندې فراموښې راغله، کومې چې هغوئ نیول، اوبله ډله داسې وه چې هغوئ دخپلو ځانو ژغورلو په فکر کې وو اوپه خدای (ﷻ) دجاهلانو په څېر بدګمانۍ کې مبتلی ول (الِ عمران ۱۵۴ ایت)

حافظ ابن کثیر وایي:

په کومه ډله چې فراموښې (خوب) راغله هغوئ مومنان وو، کوم چې دیقین، ثبات، استقامت توکل او صدق په صفاتو موصوف ول، هغوئ په دې خبره یقین درلود چې الله (ﷻ) دخپل رسول سره دنصرت کومه وعده کړې هغه به خامخا پوره کېږي

اوبله ډله چې دخپلو ځانو په فکر کې وو، په همدې ډار اوفکر کې دهغوئ خوب غایب و، دا دمنافقانو ډله وه چې یواځې دخپلو ځانونو غم ورسره و، هغوئ داطمینان او امن له خوب محروم وو. نوربیا

د شهادت غوښتنې

په تېرېسې:

لیکوال: علي بن نایف الشحود الدمشقي

او ندايي عملياتو په هکله شرعي دلائل:

ژباړه: شیخ ابو عبدالله مخلص

٨ - عَنْ نُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم -: أَيُّ الشُّهَدَاءِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "الَّذِينَ إِنْ يُلْقَوْا فِي الصَّفِّ لَا يَلْفِتُونَ وُجُوهَهُمْ حَتَّى يُقْتَلُوا، أُولَئِكَ يَتَلَبَّطُونَ فِي الْغُرَفِ الْعُلَى مِنَ الْجَنَّةِ، وَيَضْحَكُ إِلَيْهِمْ رَبُّكَ، وَإِذَا ضَحِكَ رَبُّكَ إِلَى عَبْدٍ فِي الدُّنْيَا فَلَا حِسَابَ عَلَيْهِ (مسند أحمد ط الرسالة (٣٧/ ١٤٤) (٢٢٤٧٢) صحيح).

ژباړه: د همار له زوي نُعَيْم نه روايت دی نو موړی وايي له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه يو سړي پوښتنه وکړه، په شهيدانو کې کوم يو شهيد غوره دی؟ رسول صلى الله عليه وسلم ورته وويل: هغه شهيدان غوره دي چې له دښمن سره په صف کې پداسې حال کې مخامخ شي چې مخونه له دښمنانو نه بل لوري ته نه اړوي، دغه کسان به د جنت په لوړو پوړيو ودانيو کې ګرځي راګرځي، او الله جل جلاله ورته خاندي، کله چې الله جل جلاله يو بنده ته په دنيا کې وخاندي له هغه سره به حساب نه کېږي.

٩ - عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: "ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، يَضْحَكُ إِلَيْهِمْ وَيَسْتَبْشِرُ بِهِمْ، الَّذِي إِذَا انْكَشَفَتْ فِئَةٌ قَاتَلَ وَرَاءَهَا بِنَفْسِهِ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَإِمَّا أَنْ يُقْتَلَ، وَإِمَّا أَنْ يَنْصُرَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَيَكْفِيهِ، فَيَقُولُ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي كَيْفَ صَبَّرَ لِي نَفْسَهُ، وَالَّذِي لَهُ امْرَأَةٌ حَسْنَاءُ وَفِرَاشٌ لَيِّنٌ حَسَنٌ، فَيَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ فَيَذَرُ

شَهْوَتَهُ فَيَذْكُرُنِي وَيُنَاجِينِي وَلَوْ شَاءَ لَرَقَدَ، وَالَّذِي يَكُونُ فِي سَفَرٍ وَكَانَ مَعَهُ رَكْبٌ فَسَهِرُوا وَنَصَبُوا ثُمَّ هَجَعُوا فَقَامَ فِي السَّحَرِ فِي سَرَّاءَ أَوْ ضَرَّاءَ (الأسماء والصفات للبيهقي (٢/ ٤٠٨) (٩٨٣) والمستدرك على الصحيحين للحاكم (١/ ٧٧) (٢٨) صحيح).

ژباړه: له ابو الدرداء نه روایت دی، هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: درې کسان دي الله جل جلاله مینه ورسره کوي، ورته خاندي (خوښي ورنه څرګندوي) زهری ورکوي. یو هغه کس دی چې ملګري یې د جګړې له میدان نه وتښتي او دی د الله جل جلاله لپاره یوازې او تنها له دښمن سره ترهغو جګړه وکړي چې یا الله جل جلاله مرسته ورسره وکړي او له دښمن نه یې وساتي، او یا هم شهید شي، الله جل جلاله وایي: زما بنده ته وګورئ! څرنګه یې زما لپاره صبر وکړ، دویم هغه کس دی چې بښه بنایسته بښځه او بښه نرمه بستره لري د شپې د لمانځه لپاره راپورته شي، خپل شهوت پرېږدي، ما یاد وي، او ماته زاری کوي، که یې خوښه وای ویده شوی به وای، او دریم هغه کس دی چې په سفر کې له نورو ملګرو سره وي، ډېر ښې خوبه، ستړي، او په تکلیف شي، بیا هغوي ویده شي، او دی په هغوي کې د شپې په وروستۍ برخه کې په سختۍ او یا هم اسانۍ کې د لمانځه لپاره راپورته شي.

د دلیلونو څرګندونه:

له دې دري واړو احادیثو نه دا څرګنده شوه چې په جهاد کې ترټولو غوره عمل هغه دی چې په غالب ګمان سره انسان پکې روغ نه پاتې کېږي، او د جهاد لپاره ځانګړي دلایل پدې دلالت کوي کوم عمل چې په بل ځای کې ناروا وي په جهاد کې بیا هغه روا وي.

١٠- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم-: «عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ رَجُلَيْنِ: رَجُلٍ ثَارَ عَنْ وِطَائِهِ وَلِحَافِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ، فَيَقُولُ اللهُ جَلَّ وَعَلَا لِمَلَائِكَتِهِ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي، ثَارَ عَنْ فِرَاشِهِ وَوِطَائِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي، وَشَفَقَةً مِمَّا عِنْدِي، وَرَجُلٍ غَزَا فِي سَبِيلِ اللهِ، فَانْهَزَمَ أَصْحَابُهُ، وَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فِي الِانْهِزَامِ، وَمَا لَهُ فِي الرُّجُوعِ، فَرَجَعَ حَتَّى هُرِيقَ دَمُهُ، فَيَقُولُ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي، رَجَعَ رَجَاءَ فِيمَا عِنْدِي، وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِي حَتَّى هُرِيقَ دَمُهُ» (صحيح ابن حبان - مخرجا (٢/ ٢٩٨) (٢٥٥٨) والسنن الكبرى للبيهقي (٩/ ٢٧٢) (١٨٥٢٣) صحيح)).

ژباړه: له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روایت دی نومورې وایي: رسول صلی الله علیه

وسلم ويلي: الله جل جلاله له دوه کسانو نه د خوښۍ څرګندونه کوي، يو هغه کس دی چې له خپلې بسترې او د خپلې بيبۍ له څنګ نه لمانځه ته پورته شي، الله جل جلاله خپلو ملائکو ته وايي: زما بنده ته وګورئ، له خپلې بسترې او خپلې بيبۍ نه زما د جنت د هڅې او زما له وېرې نه لمانځه ته پورته شولو، او دويم هغه کس دی چې د الله جل جلاله په لاره کې غزا کوي، ملګري يې شاته شي، او دی پدې پوهېږي چې له دښمن نه د تېښتې او شاته کېدلو څومره ګناه ده، او په بېرته راګرځېدلو کې ورته څومره ثواب دی، بېرته د جګړې ميدان ته راوګرځي، ترهغو له دښمن سره وجنګېږي ترڅو يې وينه تويې شي، الله جل جلاله ملائکو ته وايي: زما بنده ته وګورئ چې زما د جنت په تمه او زما له وېرې بېرته د جګړې ميدان ته راوګرځېد ترڅو يې وينه تويې شوه

د دليل څرګندونه

ابن النحاس وايي: که پدې اړه يوازې همدا صحيح حديث هم موجود وای زمونږ لپاره يې د دښمن په صف کې د ننوتلو په اړه په دليل نيو نه او د هغه د فضيلت په هکله بسنه کوله

١١ - عَنْ زَيْدِ بْنِ ظَبْيَانَ، رَفَعَهُ إِلَى أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللهُ رَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ بِاللهِ، وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ بِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوهُ، فَتَخَلَّفَهُمْ رَجُلٌ بِأَعْقَابِهِمْ فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللهُ، وَالَّذِي أَعْطَاهُ، وَقَوْمٌ سَارُوا لَيْلَتَهُمْ حَتَّى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِمَّا يَعْدِلُ بِهِ نَزَلُوا فَوَضَعُوا رُؤُوسَهُمْ، فَقَامَ يَتَمَلَّقُنِي، وَيَتْلُو آيَاتِي، وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَلَقُوا الْعَدُوَّ فَهُزِمُوا، فَأَقْبَلَ بِصَدْرِهِ حَتَّى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهُ (السنن الكبرى للنسائي (٢/ ١٢١) (١٣١٢ و١٣١٧) صحيح).

ژباړه: د ظبيان له زوي زيد نه روايت دی چې ابو ذر رضي الله عنه ته يې د حديث سند رسولی هغه له رسول الله صلی الله عيله وسلم نه روايت کوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: له درې کسانو سره الله جل جلاله مينه کوي، يو هغه کس دی چې يو قوم ته يو سړی د سؤال لپاره راشي او له هغوي نه له خپلو لې نه پرته او يوازې د الله جل جلاله په نوم څه وغواړي، هغوي څه ورنه کړي، په هغوئ کې يو کس له هغوي نه وروسته او په پټه سره يو څه ورکړي، چې په ورکړه يې يوازې الله جل جلاله او هغه کس چې څه يې ورکړي خبروي، او دويم له هغه کس سره مينه کوي چې له يوې ډلې سره پداسې حالت کې ټوله شپه سفر وکړي چې کله خوب هغوي ته له هرڅه نه غوره وي، هغوي خپل سرونه د خوب کولو په موخه کېږدي، او دغه سړی ماته زاری پيل کړي، او زما ایاتونه تلاوت کوي، او دريم له هغه سړي سره مينه کوي چې په يوه غزا کې له دښمن سره

مخامخ شي، هغوي په شا شي او دی یوازې را مخامخ شي ان تردې چې یا الله جل جلاله بریا ورپه برخه کړي او یا هم شهید شي.

۱۲- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ -صلى الله عليه وسلم-، أَنَّهُ قَالَ: «مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ، رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ، كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً، أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ، يَبْتَغِي القَتْلَ وَالمَوْتَ مَظَانَّهُ، أَوْ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هَذِهِ الشَّعَفِ، أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هَذِهِ الأَوْدِيَةِ، يُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيَعْبُدُ رَبَّهُ حَتَّى يَأْتِيَهُ اليَقِينُ، لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ» صحيح مسلم (۳/ ۱۵۰۳) ۱۲۵ - (۱۸۸۹).

ژباړه: له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی نومورې وایي: رسول صلی الله علیه وسلم ویلي: د خلکو تر ټولو غوره ژوند د دوه کسانو دی: یو د هغه کس ژوند چې د الله جل جلاله په لاره کې یې د خپل اس واګې یې په لاس کې نیولې وي، کله چې وبرووڼکی اواز واوري د هغه اس په شا په ډېره تېزی سره ورشي، د مرګ او وژلو ځایونه لټوي، دویم هغه کس دی چې د غرو له سرونو نه د یو غره په سر او یا هم له درو نه په یوه دره کې له خپلو لږو مېړو او وزو سره او سېرې، لمونځ کوي، زکواة ورکوي، او تر مرګه پورې د الله جل جلاله عبادت کوي، په خلکو کې یوازې همدغه دوه کسان په خیر کې دي.

۱۳- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم-: "لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، يَكُونُ أَفْضَلُ النَّاسِ فِيهِ بِمَنْزِلَةِ، رَجُلٍ أَخَذَ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، كُلَّمَا سَمِعَ بِهَيْعَةٍ اسْتَوَى عَلَى مَتْنِهِ، ثُمَّ طَلَبَ المَوْتَ مَظَانَّهُ، وَرَجُلٌ فِي شِعْبٍ مِنْ هَذِهِ الشِّعَابِ، يُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيَدَعُ النَّاسَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ (مسند أحمد ط الرسالة (۱۵/ ۴۵۰) (۹۷۲۳) صحيح).

ژباړه: له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی نومورې وایي: رسول صلی الله علیه وسلم ویلي: په خلکو به داسې یوه زمانه راشي چې ترټولو غوره کسان به یې دوه کسان وي: یو به هغه کس ترټولو غوره وي چې د الله جل جلاله په لاره کې یې د خپل اس واګې په لاس کې نیولې وي، کله چې وبرووڼکی اواز واوري د هغه اس په شا په ډېره تېزی سره ورشي، د مرګ او وژلو ځایونه لټوي، دویم هغه کس دی چې د غرو له سرونو نه د یو غره په سر او یا هم له درو نه په یوه دره کې له خپلو لږو مېړو او وزو سره او سېرې، لمونځ کوي، زکواة ورکوي، او تر مرګه پورې د الله جل جلاله عبادت کوي، په خلکو کې یوازې همدغه دوه کسان په خیر کې دي.

د دلیل څرګندونه:

دا تېرشوي دواړه حدیثونه پدې دلالت کوي چې په تنها او یوازې ډول سره د شهادت غوښتنه په اسلامي شریعت کې ممدوح او یو د ستاینې وړ عمل دی.

۱۴ ژباړه: له انس ابن مالک رحمه الله نه روایت دی نومورې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم بُسَيْسَة صحابي رضي الله عنه د دې لپاره د څارنې او جاسوسۍ لپاره ولېږه چې د ابو سفیان د قافلې په هکله معلومات تر لاسه کړي، پداسې حالت کې راغی چې په کوټه پرته له ما او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نورڅوک نه ؤ، له نومورې نه روایت کوونکی راوي وایي زه پدې نه پوهېږم چې انس رضي الله عنه دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې بې بیانې هم مستثنی کړې وي، بسیسة رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبره وکړه، له دې نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم له کوټې نه را ووتلو او داسې یې وویل: یو چا پسې ځو د چا سپرلۍ چې سم له لاسه تیاره وي هغه دې له مونږ سره روان شي، ځینې کسانو اجازه ورنه غوښتله چې زمونږ سپرلۍ د مدینې په عوالي نومي ځای کې دي که ستا خوښه وي مونږ به یې راولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: نه، د چا سپرلۍ چې حاضره وي هغوي دې له مونږ سره لاړ شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو ملګرو سره روان شولو او له مشرکینو نه مخکې بدر ته ورسېدل، مشرکان هم بدر ته راغلل، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: داسې جنت ته چې پلن والی او سوریې د اسمانونو او ځمکې د پراخوالي په اندازه دی ورودانګئ او ورپورته شئ، انس ابن مالک وایي: د عمیر بن الحمام په نوم یو انصاري صحابي وویل: ایاد ځمکې او اسمانونو په اندازه یې سور او پراخوالی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هو، دغه صحابي وویل: بخ بخ، دا کلمات د خوشحالۍ او حیرانتیا په حالت کې ویلی شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ولې دې بخ بخ وویل، نومورې صحابي وویل: د الله جل جلاله استازیه ! یوازې ددې لپاره مې وویل چې الله جل جلاله ما د جنت له او سېدونکو نه وګرځوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ته دې جنت له او سېدونکو نه یې، نومورې صحابي یوڅو کجورې او خرما له خپل تبراق او چانتې نه راووېستلې د هغو په خوړلو یې پیل وکړ، له دې نه وروسته یې وویل: زه چې ترڅو د دې کجورو خوراک پای ته رسوم داخو ډېر اوږد ژوند دی، هغه کجورې او خرما یې وغورځولې له کافرانو سره ترهغو و جګنېد ترڅو شهید شولو. (صحیح مسلم (۳/ ۱۵۱۰) ۱۴۵ - (۱۹۰۱).)

د دلیل څرګندونه:

له دې حدیث نه دلیل داسې څرګندېږي چې رسو الله صلی الله علیه وسلم د بدر په غزا کې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته داسې امر وکړ چې په یو صف کې برابر چې یو له بل نه وړاندې نه وي ودرېږي چې له همدې امله به یې هغوي

په نېزه سره سمول ترڅو يو کس هم په نورو وړاندې نشي، کله چې عمير رضي الله عنه د جنت فضيلت واورېد له صف نه وړاندې شولو او په دښمن يې په تنها او يوازې ډول سره برید وکړ او د هغوي په صف کې ور ننوتلو، نبي صلى الله عليه وسلم د هغه په عمل څه انکار ونه کړ سره له دې چې پدې پوهېده چې د کړنې پايله يې يقينا وژل کېدل دي.

۱۵ ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی نومورې وايي: زما تره انس بن النضر د بدر په غزا کې موجود نه ؤ، نومورې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: ای د الله جل جلاله استازيه زه له مشرکانو سره په لومړۍ جګړه کې موجود نه وم، که الله جل جلاله له مشرکانو سره کومې جګړې ته حاضر کړم الله جل جلاله به زما بهادري ووينې، کله چې د احد د جګړې ورځ شوه او مسلمانانو په شا شول نومورې وويل: ای الله ! زه د صحابه کرامو رضي الله عنهم له کړنې نه بېزاريم، او د مشرکانو له کفر او شرک نه بېزاريم، له دې نه وروسته جګړې ته وړاندې شولو له نومورې سره سعد بن معاذ مخامخ شولو سعد ته يې وويل: ای سعده ! په خپل رب او پالونکي مې قسم زه د احد ترڅنګ د جنت خوشبويي محسوسوم، سعد وويل: ای د الله جل جلاله استازيه ! نضر چې کوم د بهادرۍ عمل ترسره کړ هغه زما په وس هم پوره نه ؤ، انس بن مالک رحمه الله وايي: نضر مونږ په داسې حالت کې شهيد وموندلو چې څه له پاسه اتيا ځايه په تورو، غشيو، او نېزو سره زخمي شوی ؤ، او مشرکانو د هغه غوږونه پوزه، شونډې، پرې کړې وې او هغه يې بدرنګه کړی ؤ، پرته له خور نه يې چې په ګوتو سره يې وپېژندلو نور هېڅوا هم ونه پېژندلو، مونږ دا ګمان کولو چې دا آيت د ده او ده ته د ورته کسانو په هکله را نازل شوی چې الله جل جلاله وايي: ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ﴾ [الأحزاب:۲۳] إلى آخر الآية ژباړه: په مؤمنانو کې داسې کسان شته چې له الله جل جلاله سره يې خپله وعده رښتيا کړه. (صحيح البخاري (۴/ ۱۹) (۲۸۰۵).)

۱۶ - عَنْ مُجَاهِد، قالَ: قدْ بَعَثَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُود وَخَبَّابًا سَرِيَّةً، وبَعَثَ دِحْيَةَ سَرِيَّةً وَحْدَهُ (السنن الكبرى للبيهقي (۹/ ۱۷۰) (۱۸۱۹۹) صحيح مرسل.

ژباړه: امام مجاهد وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم عبد الله بن مسعو او خباب بن الارت رضي الله عنهما په يوازې او تنها توګه سره غزا ته ولېږلي وو.

۱۷ - عَنْ حُذَيْفَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَهُ يَوْمَ الْأَحْزَابِ سَرِيَّةً وَحْدَهُ»[1]

ژباړه: له حذيفة بن اليمان رضي الله عنه نه روايت دی نومورې وايي: زه رسول الله صلى

الله علیه وسلم په یوازې سر د سرییې په توګه غزا ته ولېږلم. (المعجم الکبیر للطبراني (۳/ ۱۷۲) (۳۰۰۳) صحیح.).

ژباړه: ابراهیم التیمي له خپل پلار نه روایت کوي هغه وایي: مونږ له حذیفه بن الیمان رضي الله عنه سره وو، یو سړي وویل: که ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانه موندلې وای ما به د هغه په ملتیا کې جهاد کړی وای، او خپله بهادري به مې څرګنده کړې وای، حذیفه رضي الله عنه ورته وویل: تا به داسې کار کړی وای؟ مونږه یوه ورځ د خندق د غزا په شپه موجود وو، ډېر سخت باد را والوتلو او یخني وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: داسې یو سړی نشته چې مونږ ته د کافرانو خبر راوړي الله جل جلاله یې له ماسره د قیامت په ورځ ملګرتیا په برخه کړي؟ مونږ ټول چپ شولو یو کس هم ځواب ورنه کړ، دغه خبر یې درې ځلې تکرار کړ. ټول چپ شولو او چا ځواب ورنه کړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وویل: ای حذیفه پورته شه او د کافرانو خبر مونږ ته راوړه، کله یې چې زما نوم ذکر کړ چاره مې نه وه چې لاړ نشم، خو ماته یې وویل: د هغوي خبر ماته راوړه له مانه یې مه وېروه، کله چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه جدا شوم داسې په تېزۍ سره ورغلم او بدن مې ګرم شولو ان تر دې چې د کافرانو لښکر ته ورسېدم، ابو سفیان مې ولید چې خپله شا یې په اور سره تودوله، غشی مې د لیندۍ په منځ کې کېښود او اراده مې وکړه چې ویې ولم، د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا راته یاد شوه چې له مایې مه وېروه، که مې ویشتلی وای وژلی به مې وای، بېرته پداسې حالت کې راو ګرځېدم چې بدن مې ګرم ؤ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم او خبر مې ورته راوړلو، بدن مې یخ شولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د خپلې شېړۍ چې لمونځ یې پکې کولو زیاته برخه را واغوستله او زه یې ورباندې پټ کړم، زه ترسهاره ویده وم، کله چې سهار شولو رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وویل: ای ویده له خوبه پاڅېږه. (صحیح مسلم (۳/ ۱٤۱٤) ۹۹ - (۱۷۸۸))

د دلیل څرګندونه:

د اتېرشوي دواړه احادیث پدې دلالت کوي چې په جهادي عملونو او کړنو کې چې څومره خطر زیاتېږي ثواب یې ډېرېږي، د خطر د زیاتوالی له امله عمل نه حرامېږي، بلکې څومره چې په کوم عمل کې خطر زیات وي هغومره یې ثواب زیات وي.

امروزت با دیروز فرق داشته باشد!

(کتاب: از زندگی لذت ببر)

دکتور محمد العریفی

با یک فردی می‌نشینی که بیست سال عمر دارد، وی را در یک اسلوب، منطق و تفکر مشخصی می‌بینی و باز وقت دیگری با او می‌نشینی که به سن سی سالگی رسیده است؛ اما توانمندی‌هایش عین زمان سابق (یعنی بیست سالگی‌اش) بوده و در آن هیچ پیشرفتی نکرده است! در عین حال با افراد دیگری می‌نشینی و درمی‌یابی که از زندگی خویش استفاده کرده‌اند؛ می‌بینی هر روز از روز قبل‌شان بیشتر پیشرفت و ترقی کرده‌اند. بلکه هر لحظه‌ای که می‌گذرد در امور دینی یا دنیوی بالا می‌روند، اگر خواسته باشی انواع مردم را در این مورد بشناسی بیا تا در احوال و نگرش‌های آن‌ها بیندیشیم.

مثلاً شبکه‌های ماهواره‌ای را مورد بررسی قرار دهیم، برخی از مردم برنامه‌هایی را دنبال می‌کنند که از نظر فکری رشد کرده و ذکاوت و تیزهوشی آن‌ها پیشرفت می‌کند و در خلال پی‌گیری گزارش‌های هدفمند، از اطلاعات دیگران استفاده می‌کنند و بدین شکل در طول بحث‌های آنان مهارت‌های زیبایی از قبیل: زبان، فهم، سرعت اندیشه و حاضرجوابی، قدرت مناظره، و شیوه‌های خاموش‌کننده و قانع‌کننده‌ی طرف مقابل را کسب می‌کنند.

اما دیگری فقط به دنبال سریال‌هایی می‌گردد که از یک داستان عاشقی بی‌ارزش، یا یک نمایش عاطفی، یا یک فیلم وحشتناک خیالی حکایت می‌کند و نمایانگر فیلم‌های فرضی و بی‌ارزشی است که هیچ حقیقتی ندارند. تو را به خدا بیا و بعد از پنج یا ده سال، حال شخص اول و حال شخص دوم را باهم مقایسه کنیم، کدامیک در کسب مهارت‌شان، در قدرت درک مطالب، در توسعه‌ی فرهنگی، در قدرت بر قانع ساختن افراد، در اسلوب برخورد با

رخدادها و حوادث بیشتر پیشرفت کرده است؟

قطعاً اولی؛ زیرا شیوه اولی را متفاوت از شیوه دومی می‌بینی، چون استنادات اولی براساس نص شرعی بوده و با موازین عقلی و حقایق قابل قبول مطابقت دارد. ولی دومی به اقوال بازیگران، هنرمندان و خوانندگان استناد می‌کند، تا جایی که یکی از آن‌ها در طی سخنانش گفت: خداوند می‌فرماید: ای بنده‌ی من! تو تلاش کن و من نیز با تو تلاش می‌کنم! در این وقت ما وی را متوجه نمودیم که این آیه‌ای نیست. آنگاه چهره‌اش عوض شده و خاموش شد. سپس من در این عبارت اندیشیدم و برایم معلوم شد این یک ضرب المثل مصری است که در یکی از سریال‌ها در ذهن وی نقش بسته است!

آری، از کوزه همان تراود که در اوست.

اکنون به جانب دیگری نگاه کرده و مطالعه‌کنندگان روزنامه‌ها و مجلات را مورد بررسی قرار دهیم! می‌بینیم چه تعداد کسانی هستند که به اخبار مفید و اطلاعات سودمندی که در پیشرفت و رشد مهارت‌ها و افزایش معلومات‌شان کمک می‌کند، اهتمام می‌ورزند در مقابل چه تعدادی از انسان‌ها وجود دارند که توجه آن‌ها فقط به اخبار ورزشی و هنری است، تا جایی که روزنامه‌ها در نشر صفحات ورزشی و هنری باهم به رقابت می‌پردازند، به همین صورت هستند مجالسی که ما تشکیل می‌دهیم و اوقاتی صرف می‌کنیم.

لذا اگر می‌خواهی رهبر باشی نه زیردست، پس در جستجوی مهارت‌ها حریص باش و هرکجا که یافت شوند، با تمرین آن‌ها را کسب کن.

نمونه:

عبدالله شخص پرتلاشی بود، اما در برخی مهارت‌ها نقص داشت.

روزی جهت ادای نماز ظهر از خانه‌اش بیرون آمد. محبت و علاقه نماز، او را بیرون آورده و تعظیم و احترام دین وی را تحریک کرده بود، گام‌هایش را با شتاب زیاد برمی‌داشت تا مبادا قبل از رسیدن او به مسجد نماز اقامه شود.

در مسیر راهش درخت نخلی وجود داشت که بالای آن شخصی با لباس کار مشغول اصلاح درخت خرما بود. عبدالله از این شخص که نسبت به نماز بی‌توجه بود، شگفت‌زده شد! انگار اذان را نشنیده و در انتظار اقامه نماز نیست! لذا از روی خشم فریاد زد: بیا پایین وقت نماز است. آن فرد در کمال خونسردی جواب داد: خب، باشه.

باز عبدالله افزود: علجه کن ای خر! نمازت را بخوان!

آن مرد فریاد زد: من خرم! سپس شاخه‌ای از آن درخت برید و پایین آمد تا سر عبدالله را با آن بشکند. عبدالله چهره‌اش را با گوشه عبایش پوشاند تا آن مرد او را نشناسد و دوان دوان به طرف مسجد فرار کرد. آن شخص خشمگین از نخل پایین آمد و به خانه‌اش رفت و نمازش را خواند و اندکی آرام شد. دوباره به سوی نخلش

رفت تا باقیمانده کارش را تکمیل نماید. وقت نماز عصر داخل شد و عبدالله دوباره به طرف مسجد رفت و از کنار نخل که گذشت باز آن شخص را بر بالای آن درخت دید .این بار روش تعامل خویش را عوض نمود. گفت: السلام علیکم حال شما چطور است؟ آن شخص گفت: «الحمد لله خوبم». عبدالله گفت: «مژده بده» محصول امسال چگونه است؟

وی گفت: الحمد لله، عبدالله افزود: خداوند تو را موفق بدارد و در روزیت برکت عنایت فرماید و تو را از پاداش کار و زحمتی که برای فرزندانت می کشی محروم نسازد، آن مرد با این دعا شادمان شد و آمین گفت و خدا را سپاس گفت، باز عبدالله ادامه داد، خداوند تو را سالم نگه دارد، شاید بر اثر شدت مشغولیت متوجه اذان عصر نشده‌ای !اذان عصر گفته شده است و وقت اقامه نماز فرا رسیده است ممکن است پایین بیایی تا اندکی استراحت کنی و نماز را با جماعت ادا کنی، و بعد از نماز، کارت را به پایان برسانی. آن شخص گفت: إن شاء الله، إن شاء الله و کم کم با نرمی پایین آمد، سپس به سوی عبدالله رفت و با محبت و از صمیم قلب با او مصافحه نمود و گفت: من از شما با این اخلاق زیبا سپاسگزاری می کنم، اما کسی که وقت ظهر از کنار من گذشت، کاش او را می دیدم تا به او نشان می دادم که خر چه کسی است!

به کدام دروازه ئی که خواسته باشد به بهشت داخل شود

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِذَا صَلَّتِ الْمَرْءَةُ خَمْسَهَا وَحَصَنَتْ فَرْجَهَا وَاَطَاعَتْ بَعْلَهَا دَخَلَتْ مِنْ اَیِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ (ابن حبان ترغیب ج ۳ ص ۳۳ کنزص۴۰۲ج۱۲)

ترجمه: حضرت ابوهریره رضی الله عنه می فرماید: رسول الله (صلی الله تعالیٰ علیه وسلم) فرمود هرگاه زن پنج نمازهارا اداکند حفاظت ناموس وعزت خود رابکند واطاعت شوهرخود رابکند پس اوکه به کدام دروازه جنت خواسته باشد داخل شود.

فایده: برای زنان چقدر فضیلت بزرگ ومرتبه عالی است وچقدر نسخه آسان داخل شدن بهشت است به طور عموم زنان درنماز کوتاهی میکنند نمازنمی خوانند نمازهای تان رابکنید واطاعت شوهرتان رابکنید به خوشی به بهشت داخل می شوید، درین حدیث شریف بازنان به عمل کم واسان وعده بهشت شده است، درمقابل مردها ازایشان مطالبه عمل کم است، رفتن زنان به بهشت آسان است، ازگناهان خود رانگاه دارند، نماز راترک نکنند، شوهررا به خدمت اطاعت خوشنود داشته باشند، پس مستحق بهشت می شوند، وبه کدام دروازه ایکه خواسته باشد داخل شوند.

دهيواد مشاهير

عبدالرؤف حكمت

د شهيد شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب ژوند ته کتنه

علم الهي صفت دی ، او علماء کرام نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل وارثان بللي دي ، له همدې ځايه ديوه عالم وفات دامت لپاره ستر مصيبت بلل شوی دی ، دلته که د ديني علم او علماء کرامو په ټولنيز او شرعي منزلت باندې تم کيږو شايد اصلي موخه رانه پاته شي ، خو دومره ويلی شو چې ديوه ديني مقتدا او عالم وفات په دنيايي ممکنو تحولاتو او حوادثو کې لکه څنګه چې عادي شميرل کيږي په حقيقت کې کوم عادي يا معمول رويداد نه دی.

الله تعالی فرمايي (أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ) {الأنبياء۴۴ ترجمه: آيا دوی نه وينې چې مونږ له هرې خوا ځمکه راکموو؟ نو آيا دوی غالب کيدونکي دي؟. قال ابن عباس رضي الله عنه خرابها بموت فقهاء وعلمائها وأهل الخير منها ، وكذا قال مجاهد أيضاً: هو موت العلماء)رئيس المفسرين حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه او لوی مفسر حضرت مجاهد رحمه الله وايي چې دلته چې الله تعالی وايي ځمکه راکموو مراد يې د ځمکې خرابيدل دي په وفات د فقهاء او علماء سره ، ځکه چې علماء له ځمکې وکوچيږي نو جهل او فساد خپريږي.

دغه راز نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يوه متفق عليه حديث کې د ديني علماء کرامو درحلت په اړه داسې فرمايي (إن الله لا يقبض العلم انتزاعاً ينتزعه من صدور الناس، ولكن يقبض العلم بقبض العلماء، حتى إذا لم يترك عالماً اتخذ الناس رؤوساً جُهّالاً. فسئلوا فأفتوا بغير علم ؛ فضلوا وأضلوا. " (متفق عليه) رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې بې له شکه الله تعالی

علم په داسې ډول نه قبض کوي چې د خلکو له سینو یې وباسي، بلکې علم قبض کوي په وفات او اخیستلو د علماء سره، تر دې چې الله تعالی یو عالم هم په ځمکه پرینږدي، نو خلک به جاهلان خپل مشران مقرر کړي، نو دوی به له هغو پوښتنې کوي او هغه به پرته له علم څخه فتوا وې وركوي نو هغه به هم په خپله ګمراه شي او هم به نور خلک ګمراه کړي.

په لوړ آیت کریمه کې ثابته شوه، چې د علماء کرامو او فقهاء و وفات په حقیقت کې د ځمکې او نړۍ لپاره نقصان او نړبدل دي، دغه راز په نبوي حدیث کې هم دامت د علماء رحلت د عمومي ګمراهۍ او ضلالت مقدمه بلل شوې ده، دامت د علماء کرامو په رحلت چې وخت په وخت دامت لو یانو کوم تأثرات څرګند کړي، له هغه څخه هم په څرګنده فهمولی شو، چې دیوه دیني مقتدا وفات په حقیقت کې څومره ستر ویر دی، چې زیاتره انسانان تړې ناخبره دي.

حضرت امام حسن رضی الله عنه فرمایي (د عالم وفات په اسلام کې دیوه لوی شګاف (چاود) مثال لري، چې ترڅو ورځ او شپه راځي هیڅ شی به یې هم جبیره نه کړای شي) حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله بیا د علم د منزلت په اړه فرمایي (الناس أحوج إلى العلم منهم إلى الطعام والشراب، لأن الطعام والشراب يحتاج إليه في اليوم مرتين أو ثلاثاً، والعلم يحتاج إليه في كل وقت) خلک له ډوډۍ او څښاک څخه علم ته ډیر محتاج دي، ځکه ډوډۍ ته خو به په ورځ کې دوه یا دری ځله ضرورت احساسوي خو علم ته دژوند په هره شیبه کې محتاج دي.

له لوړ وضاحت څخه څرګنده شوه، چې دیوه ربښتیني دیني عالم او فقهي رهنما رحلت د اولس لپاره خورا درونده غم بلل کیږي، خو د تأسف ور داده چې نن سبا د اخرالزمان په فتنو کې راګیر مسلمانان د دا ډول درنو غمونو او ویرونو له درک او احساس څخه په بشپړ ډول عاجزه شوي دي.

په دې وروستیو کې د سترو مصائبو له جملې یو هم د مخورو علماء کرامو پرلپسې شهادتونه وو، د شیخ الحدیث مولانا عبدالغني صاحب، شیخ الحدیث مولوي عبدالغني مهاجر صاحب، شیخ الحدیث مفتي رحمت الله صاحب او نورو زبده علماء کرامو له شهادتونو وروسته په وروستیو کې تازه پیښې شوې د شهادت وقائع د شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب او شیخ الحدیث مولوي عبدالله ذاکري صاحب شهادتونه وو، چې د ایمان او علم د خاوندانو زړونه یې سخت و دردول، په دې لیکنه کې د علم او شهادت دهمدې منورې قافلې د یوې لاروی شیخ الحدیث شهید مولوي عبدالسلام صاحب د ژوند او کارنامو په اړه درسره لنډ معلومات شریکوو، هیله ده چې راسره ویې لولئ.

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب

شیخ عبدالسلام صاحب د حاجي خانګل زوی په قوم خروټی بانزی چې اصلي وطن يې د پکتیکا ولایت د ګومل سیمه وه، په ۱۹۴۷ میلادي کال کې په یوه دیندار کورنۍ کې دنیا ته راغی، نوموړی د خپل ۴ وروڼو له جملې دریم و، چې پلار يې په ۴ کلنۍ کې د دیني علومو زدکړې ته رهنمایي کړ.

هغه مهال چې شیخ صاحب ماشوم و ددوی کورنۍ به په اوړي د افغانستان د زابل ولایت د دایچوپان سیمې ته تلله او د ګرمۍ موسم به يې د بلوچستان په سیوی/سبي او شاوخوا سیمو کې تیراوو. د شیخ صاحب ورور وایي چې نوموړی څلورکلن ماشوم و چې د خپل پلار لخوا دیني علم ته وقف شو، د دایچوپان په خاکران سیمه کې یو مشهور دیني عالم او مدرس و، شیخ صاحب په څلورکلنۍ کې د هغه په درس کې شامل شو، او چې کله به ددوی کډې د یخ په موسم کې سیوی ته تلې هم نوموړی به همالته په خاکران کې په کلیوالې مدرسه کې پاتې وو او دیني زده کړو ته به يې دوام ورکاوو.

د شیخ صاحب د قریبانو په وینا دده یو خصوصیت داو چې له دیني تعلم او تعلیم پرته يې بل هیڅ دنیوي مصروفیت نه دی درلودلی، ځکه نوموړی په څلورکلنۍ دیني زدکړو ته شامل شو، نوموړي تر ۱۳ کلنۍ پورې په خاکران کې دیني زده کړې کولې، په همدې عمر له دې سیمې لاړ او د زابل په نورو سیمو کې يې په مشهورو علماء کرامو لکه د زابل د شاجوی ولسوالۍ مشهور عالم مولوي سردار صاحب چې د پاسنو په اخندزاده صاحب مشهورو، د قلات ستر عالم مولوي عنایت الله اخندزاده صاحب چې د غبرګي په اخندزاده صاحب يې شهرت درلود، په دې سربیره يې په کندهار، میدان وردګو، غزني او دهیواد په نورو مختلفو سیمو کې يې له مشهورو علماء کرامو څخه دیني کتابونه ولوستل، تردې چې دیني فنون يې په مکمل ډول پای ته ورسول.

شیخ صاحب د طالب العلمۍ په دوران کې د کابل د قلعه جواد له حضرت ضیاء المشائخ محمد ابراهیم مجددي صاحب سره د تصوف بیعت وکړ، او تر پایه يې د نقشبندیه مجددیه طریقې د یو سالک په حیث د تصوف او تزکیې لاره پالله، دا چې شیخ عبدالسلام صاحب په ډیر کشرتوب کې دیني زده کړه پیل کړې وه نو په خوانۍ کې يې ټول دیني کتابونه پای ته ورسول او د احادیثو د لویې دورې لپاره د پاکستان او سیمې مشهورې مدرسې دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک ته لاړ.

شیخ عبدالسلام صاحب په دارالعلوم حقانیه مدرسه کې د ستر دیني عالم او شیخ الحدیث مولانا عبدالحق صاحب سره د احادیثو دوره ترسره او د عمر په ۲۵ کلنۍ کې یې د دیني علومو د فراغت سند ترلاسه کړ.

تدریسي ژوند

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب له فراغت وروسته د دیني علومو په تدریس پیل وکړ، نوموړي د تدریسي ژوند په لومړیو دریو کلونو کې عام دیني کتابونه تدریس کړل او له هغه وروسته یې د احادیثو د کتابونو تدریس پیل کړ چې د وفات نیټې پورې یې د یوه پیژندل شوي شیخ الحدیث په حیث د صحاح سته تدریس ته دوام ورکړ.

شیخ صاحب لومړی تدریس د پاکستان د بلوچستان د سیوی/سبي په سیمه کې په مفتاح العلوم مدرسه کې پیل کړ، له هغه وروسته د کوټې په بروري روډ باندې په بحرالعلوم مدرسه کې مدرس شو، دلته له څه وخت تیرولو وروسته د کوټې په شابو کلي کې دارالعلوم قاسمیه ته لاړ، او له هغه وروسته یې د کوټې په حاجي محمد ایوب کلي کې واقع په خیرالمدارس مدرسه کې تر ۱۹۹۴ میلادي کال پورې تدریس ته ادامه ورکړه.

په ۱۹۹۴م کال کې د پاکستان د پښتونخوا ایالت ډیره اسمعیل خان ته لاړ، او هلته یې په پهړپور سیمه کې د مولوي عبدالجبار صاحب په مدرسه کې د احادیثو تدریس پیل کړ، په همدې مدرسه کې یې ۳ کاله تیر کړل او بیا د جنوبي وزیرستان په مرکز وانه کې مشهورې مدرسې دارالعلوم جنوبي وزیرستان کې د شیخ الحدیث په حیث مقرر شو چې شپږ کاله یې په همدې مدرسه نبوي احادیث تدریس کړل او ګڼو طالب العلمانو تریې د فراغت اسناد ترلاسه کړل.

په جنوبي وزیرستان کې له شپږ کاله تدریس وروسته دیوه کال لپاره بیا په ډیره اسمعیل خان کې د مولوي عبدالجبار صاحب مدرسې ته لاړ او له هغه وروسته په ۲۰۰۲ م کال کې یوځل بیا د بلوچستان مرکز کوټې ته لاړ او د حاجي محمد ایوب کلي سیمه کې په خیرالمدارس مدرسه کې یې د احادیثو دوره پیل کړه، همدلته یې د شهادت تر نیټې ۲۰۱۴ م کال پورې د صحاح سته تدریس ته ادامه ورکړه چې هرکال به ورسره سلګونه د احادیثو طالب العلمانو درسونه ویل او په سلهاوو فاضلان به یې له مدرسې فارغیدل.

شیخ صاحب په خپل ژوند کې دری ځله په ۱۹۹۹ م- ۲۰۰۵ م- او ۲۰۰۹ م کلونو کې د حج د مبارکې فریضې اداء کولو لپاره حرمینو ته هم تللی و.

شهادت یې

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب په خپله مدرسه خیرالمدارس کې د نبوي احادیثو تدریس ته ادامه ورکوله دتدریس ترځنګ د خیر او صلاح په چارو او داولسي مشکلاتو د حل په چارو هم بوخت و ، نوموړي چې په عامو مسلمانانو کې يې پراخ محبوبیت درلود ، هرچا يې خبرې ته غوږ نیو او دده په منځګړیتوب لو يې لانجې په ډیره اسانۍ هواریدلې.

د ۱۴۳۵ هـ ق کال د محرم میاشتې د ۲۷ په شپه چې کله شیخ صاحب له خپل یوه بل ملګري سره له یوه دعوت څخه بیرته د کور په خوا روان و ، د شپې ۹ بجې ددوو تنو موټرسایکل سپرو کسانو لخوا په تفنګچه دوه مرمۍ وویشتل شو او سخت ټپي شو.

شیخ صاحب چې سخت ټپي شوی و ، روغتون نه نقل شو ، خو دری ورځې بعد د محرم د میاشتې په ۳۰ مه د شپې په ۱۱ بجې يې د سختو ټپونو له امله خپل روح خپل مالک ته وسپارله او د شهادت جام يې نوش کړ. انا لله وانا الیه راجعون

د شیخ صاحب د شهادت خبر د یوې غمونکي حادثې په حیث د علم او عمل د خاوند انو په منځ کې خپور شو ، عام مسلمانان، طالبان او علماء کرام يې وژړول ، داحادیثو نیمه خوا شاګردانو يې په هجران او ښکې تویې کړې ، دافغانستان داسلامي امارت رهبري شورا يې په اړه د غمرازۍ اعلامیه صادره کړه او ټول مؤمنانو ددې ستر عالم د شهادت له امله دده په نامرده قاتلانو نفرین ووایه.

د شیخ صاحب د جنازې لمونځ د محرم په دیرشمه نیټه د نوموړی د نړدې ملګري او دهیواد دتکړه عالم شیخ الحدیث هیبت الله اخندزاده صاحب په امامت اداء او له هغه وروسته په کویټه کې خاورو ته وسپارل شو.

د شیخ صاحب دری زامن پاته شول چې دوه يې فارغ علماء او دریم يې په دیني زده کړو بوخت دی.

د شیخ صاحب د شهادت په اړه د اسلامي امارت د رهبري شورۍ د تسلیت پیغام

اعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا (الاحزاب ۲۳(

په ډیره خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې دهیواد وتلی او منلی عالم جهادي شخصیت شیخ الحدیث والتفسیر مولوي عبدالسلام صاحب چې درې ورځې وړاندې داسلام اودین ددښمنان له لوري پرې ناڅوانمردانه حمله ترسره شوه او شدید ټپي شو ، تیر ماخستن ناوخته يې

دهجرت په دیار د پاکستان هیواد دکوټې ښار په یوه روغتون کې داخیستو زخمونو له امله ساه ورکړه او د ۷۷ کالو په عمر په شهادت ورسید ، انالله وانا الیه راجعون.

څرنګه چې مرحوم شیخ صاحب دافغانستان په سطحه یو وتلي عالم او داسلامي امارت له پیاوړو علمي او جهدي شخصیتونو څخه وو ،داستاد کل حیثیت یې درلود ،زرګونو طالبانو تربې ددیني زده کړو او پوهې علمي فیض تر لاسه کاوه ، شهادت یې دافغانستان او سیمې د علمي او جهادي خوځښتونو لپاره یوه ستره او نه جبرانېدونکې ضائعه ده.

مرحوم شیخ صاحب (رحمه الله) دحاجي خان ګل زوی د پکتیکا ولایت او سېدونکي وو دنومورې خپل ټول عمر د دین په خدمت کې صرف شوي ،نومورې په ۲۵ کلنۍ کې له دیني علومو فارغ شوی، له فراغت دوه کاله وروسته یې دنبوي احادیثو (لوې دورې) ددرس په ورکولو پیل کړی له تیرو ۳۴ کلونو راهیسي په مختلفو مدرسو کې دلوې دورې په درس ورکولو بوخت وو. په جنوبی وزیرستان دارالعلوم وانه ،د ډیره اسماعیل خان په لویه مدرسه او دبلوچستان دکوټې ښار دشیخ مانده په جامعه خیرالمدارس او داسي نورو مدرسو کې دحدیثو د شیخ او استاد په توګه پاته شوي.

شهید شیخ صاحب یو ستر دیني عالم وو ،دخپلې پوهې، تقوی او له خپلو عقیدتمندانو سره دزیاتې مینې او محبت کولو له امله یې د عامو خلګو په زړونو کې ځان ته ځای پیدا کړي وو. نومورې په سیمه کې دیوه وتلي شیخ الحدیث په توګه دشهرت تر څنګ د ستر مبلغ او جهادي بلوونکي په حیث پېژندل شوی شخصیت وو ،همیشه به یې په ستړو ناستو او جهادي غونډو کې په خپلو جراتمندانه ویناوو کې دمجاهدینو حمایت کاوه او دمجاهدینو د ذهن سازۍ او اصلاح تر څنګ به یې عام خلګ داشغالګرو په خلاف ځاني او مالي جهاد ته هڅول.

شهید شیخ صاحب له کلنو راهیسي داحادیثو لویه دوره او دقران کریم تفسیر کاوه، هرکال تر یو نیم سلو زیاتو طالب العلمانو له نومورې څخه علمی فیض حاصلاوه او دفضیلت دستار تړلو ویاړ یې ترلاسه کاوه.

دا چې دشهید شیخ صاحب ژوند او موجودیت د دین ښمنانو ونه زغملای شو ، او دیوې بزدلانه حملې په ترڅ کې یې نومورې په شهادت ورساوه ،د دښمن دا کرغیړن عمل د شیخ صاحب د دارینو سرلوړي او دقاتلینو لپاره د دنیا او اخرت دمختورۍ سبب شو.

.دافغانستان اسلامي امارت د دې ستر ویر له امله دشهید شیخ صاحب کورنۍ ،شاګردانو او دحق دلارې مبارزو مجاهدینو او ټولو هیوادوالو ته دغمرازۍ او تسلیت مراتب وړاندې کوي، څښتن تعالی دې دمرحوم شیخ صاحب شهادت قبول او لوی خدای ج دې دنومورې کورنۍ ،زامنو ،قریبانو او شاګردانو ته د دې ستر ویر دزغملو توان او دصبر جمیل توفیق ورنصیب کړي.

د افغانستان اسلامي امارت رهبري شوري د شيخ عبدالسلام صاحب د شخصيت په اړه

شهيد شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب په دې سربيره چې متبحر عالم ، د احاديثو استاد او د قرآن د تفسير ، احاديثو او حنفي فقهې يو منل شوی پوه و ، د روس ضد جهاد په مهال او اوس د امريکا ضد جهاد په مهال د جهاد کلک ملاتړی او د مجاهدينو لپاره يې د يو لارښود حيثيت درلود ، نو موږ هميشه له مجاهدينو سره ليدل ، هغوی ته يې توصيې کولې او د خپل توان په اندازه يې ورسره د خير په چارو کې همکاري کوله ،

شيخ صاحب په خپل ژوند کې د تدريس ترڅنګ د عامو مسلمانانو په ژوند چارو کې هم د خپل شخص و ، د خلکو جنجالونه او تنازعات يې هوارول او حتی د قومونه په سطحه د لويو لانجو مخنيوی يې کاوو ، شيخ صاحب لکه څنګه يو دقيق عالم و په عامه عرف هم پوره خبر و ، نو موږ د مسلمانانو ترمنځ د بديو په شان لويې لانجې هوارولې مسلمانان يې سره پخلا کول او د مرګونو او جنجالونو مخنيوی يې کاوو ، نو موږ د مسلمانانو په غم غمشريک شخص و او ډير کوښښ يې کاوو چې مسلمانان له جنجاله خلاص او زړونه يې خوشاله شي.

د نو موږ په نړۍ ملګری جيد عالم شيخ الحديث هيبت الله اخندزاده صاحب وايي: د حضرت شيخ صاحب سره زما ډيره علاقه او ملګرتيا وه او ډير ليرې او نږدې سفرونه مو سره وکړه ، په مختلفو مجلسونو او جلسو کې به مو شرکت کاوو ، د حضرت شيخ صاحب امتيازي خصوصيت دا و چې ده به ډير کوښښ کاوو چې ديوه مؤمن مسلمان زړه خوشحاله وساتي او د مسلمانانو ترمنځ به يې خصوصا د علماء کرامو اتفاق او اتحاد کوښښ يې ډير کاوو ، لهذا چې کله به مو ډير يو جلسې يا يو فاتحې يا د مسلمانانو يو بل اجتماعي أمرته ورغلو ، د بيرته راتلو به شيخ صاحب ويل: څه ښه کار و سوچې دغه مسلمانان خوشحاله سوه په تقرير کښې به يې علماء ته ويل چې تاسو ولې اختلاف کوئ له اختلافه ځان وساتئ.

د افغانستان و تلې جهدي شخصيت او ديني عالم مولوي فريد صاحب چې شهيد شيخ صاحب يې له نږدې پيژاند د نو موږ په اړه وايي: د شهيد علامه شيخ عبدالسلام رحمة الله عليه ژوند واقعې په دې پُرفتن دور کې د فخر او تقليد وړ و ، د اسلافو يوه نمونه وه ، صورت او سيرت يې په شريعت برابر و ، باطن يې تر ظاهر ماته غوره ښکاريده ، بې ريا او مخلص انسان و ، د شپې په آخر کې به راجګ شو د تهجد لمونځ به يې په پته طريقه اداء کړ ، بيرته به آرام پرې ووت ، خلکو ته به يې دا په خيال کې ورکوله ، چې ګويا زه بالکل د شپې تهجد ته پورته شوی نه يم ، ماله ده سره د ملګرتيا په وخت کې د ده د احالت په خپله ليدلی دی.

ډیر باجرأته جید عالم ،خوش اخلاقه د شاګردانو محبوب او جذاب شخصیت و ، د مسلمه امت په موجوده دربدره حالت او د کفري نړۍ په دسیسو خبر سړی و ، همدا وجه وه چې د دین او وطن دښمنانو ته دده مبارک وجود د زغم وړ نه و ، نو دسیسه په کار شول او مسلمانان یې د غم په تغر کینول.

که خپلې خاطرې په لنډو ټکو کې راخلاصه کړم، نو باید ووایم چې که د شهید شیخ صاحب رحمة الله علیه په شان ډیر خلک موږ درلودلای ،نو دنیا ته مو د صحابه کرامو رضی الله عنهم په شان به زغرده دا اعلان کولای شوای چې: کونوا مثلنا .. یعنی لکه دا موږ داسې شئ ، چې دا قول به صحابه کرامو دنیاوالو ته کاوو.

د هیواد نومیالی عالم شیخ الحدیث و التفسیر مولوي عبدالحکیم صاحب د شهید شیخ عبدالسلام صاحب په اړه وایي: حضرت شیخ الحدیث شهید عبدالسلام صاحب مرحوم ډیر عابد او متقي شخص و ،زموږ سره په ډیرو سفرونو کې ملګری شوی و ، دنومورې یوه خاصه دا وه چې هرځومره ستړیا به وه د تهجد لمونځ یې نه پریښود.

علمی استعداد یې دومره قوي و ، چې کله به د یوې مسئلې ذکر وشو یا به د کوم حدیث شریف پوښتنه وشوه ،نو ده به د کتاب له ذکر سره د هغه حواله ورکړه ،په فقهي مسائلو کې ډیر محتاط و همیشه یې په معتبرو کتابونو حواله ورکوله ،د اخلاقو او تواضع یې دا حال و چې یو وخت په سفر کې سره ملګري و ، ملګرو خوراک تیار اوو . نو شیخ صاحب په خپله د اور په بلولو او خدمت باندې اخته و.

د نومورې اخلاق د اسلامي اخلاقو یوه نمونه وه ، د خوشطبعی یو ځانګړی مزاج یې درلود چې هیڅوک نه ورسره تنګیدل، دملګرو د طبیعت د راستګي لپاره به یې ډیر خوږ مجلس کاوو . له کشر او مشر سره به یې د هغوی د مرتبې په مناسب انداز خبرې کولې.

شیخ صاحب یو دلاوره او جرأتمند سړی وه ، مـ هیڅکله د وهم او ویرې خبره نه ده ځینې اوریدلې ،د مجاهدینو سره یې ځانګړی محبت درلود ،همیشه یې له مجاهدینو سره لیدل کتل، ښې ښې توصیې یې ورته کولې او دهغوی پوښتنې یې په ډیر ښه انداز په سړه سینه ځوابولې.

د شهید شیخ صاحب په اړه د څو تنو علماء کرامو تأثرات مو د نمونې په حیث راواخیستل، د شیخ صاحب په اړه هرچا چې لیدلی همداسې نیک تأثرات لري، نومورې ته الله تعالی خورا ښه اخلاق او ستر علمي استعداد ورکړی و ، الله تعالی ته خواست کوو چې دده برکات یې په زامنو او شاګردانو کیږدي او د علم خیر دي یې الله تعالی همداسې جاري ولري. آمین یارب العلمین

دننګرهار مجاهدولس اوس داربکي جوړونې له پروسې سره پریکون کړی اودا پروسه اوس په ضعیف حالت کې ده!

مرکیال (بت شکن)

۱-محترم مولوي صیب !که مورچلوالوته دځان په پیژندنه (اصلي ټاټوبی ،زوګړ ځای ،تحصیلي درجه ،تحریکي مخینه ،او نورو...) خواله پیل کړئ مننه به وي !

ځواب: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد: زه مولوی میر احمد اغا مشهور په میر صاحب له نن څخه ۴۱ کاله وړاندی دلوګرولایت مرکزد(پادخواب شانه)کلي کې زیږیدلی یم. او په خته سادات له دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک څخه فارغ شوی یم. له دې وړاندی دلوګرولایت دجهادي چارو عمومي مسول اودنظامي کمیسون غړی،بیادموسساتود کمیسون مسؤل،بیا دننګرهارولایت جهادي مسؤل اوله دوه نیم کاله له زندان څخه وروسته دادی ،دوهم ځل دننګرهار ولایت دجهادي مسؤلیت راپه غاړه دی .

۲-ننګرهار کې روان جهادي جریانات څنګه ارزوئ ؟

ځواب : دننګرهارولایت جهادي بهیر دلوی خدای په نصرت او دملګروپه ښه اخلاص اوصمیمیت سره په خورالوړمورال ښه په مخ روان دی ، دښمن ترسخت فشارلاندی دی. دننګرهارولایت د۸۰فیصده څخه زیاته سیمه دمجاهدینوترښکاره کنټرول لاندی ده. دولسوالیومراکزدمحاصرې لاندې دي. ټولي اکمالاتي لارې دمجاهدینو واک کې دي. تاسوګورئ چې

دطورخم جلال آبادلويه لاره دمجاهدينود كنټرول لاندې ده. داسلامي امارت محاكمې فعاله دي. دمسلمانانو ټول حقوقي مسايل داسلامي امارت په محاكمو كې حل اوفصل كيږي. اودمسؤلومجاهدينوله خواتطبيق كيږي.

۳-د(خيبر) سړنيو عملياتو كې دتيركال (خالد)په تناظر څومره اغيزمنتوب وينئ ؟

ځواب: دخيبر سړني عمليات او دخالد بن وليد رض عمليات الحمدلله دوړه پخپل ځای ددښمن لپاره خطرناک اوځپونكې دي.البته دخيبر دعملياتو له خالد بن وليد عملياتو سره توپير دادی چې سړ كال الحمدلله دډيروولسواليومراكز دمجاهدينوله خوا قبضه اوډليزبريدنه پرې ترسره شول.چې دا په خپل ځای كې بې ساری توپيردی ،تاسوسړ كال وليدل چې دهلمندسنګين ولسوالی، موسی قلعه ولسوالی، ژيړی ولسوالی، دننګرهارحصارک ولسوالی، شيرزادوولسوالی اودورباباولسوالی باندې مجاهدينوښه تعروضي بريدونه وكړل، چې څومياشتوجګړې پكې دوام وكړ، چې دا دخيبرعملياتوښكاره بريا ده.

۴-آيا ويلای شئ چې دننګرهار په كوموهغو ولسواليو كې داسلامي امارت دمجاهدينو بريدونه له نورو هغوپياوړي او دښمن ځورونكي دي ؟

ځواب: ستاسو ددې پوښتنې په رابطه به داسې عرض وكړم، چې الحمدالله دننګرهارټوله خاوره دښمن ته اور ګرځيدلي.البته دحصارک، شيرزاد، خوګيانې، چپرهار، پيچيرآګام، ده بالا، سپين غراوبتې كوټ ولسواليو كښې له دښمن څخه دخلاصون لاره ورکه ده، همدا اوس چې تاسو سره په خبرولګيايو دشيرزادتوولسوالی داجيړې اداری ولسوال احوال راليږلی ،چې مونږ ته دسرامن اوخوندې لاره راكړئ ،مونږولسوالی تخليه كوو. مونږورته ويلې چې دتسليمی وخت راغلی روغ نشئ وتلای. داهغه اجيرولسوال دی ،چې څوكاله پخوا يې دمجاهدينولټون پسې كلی په كلي ګرځيده.اوس دسرامن غواړي، اكمالاتي لارې پرې بندي دي. حتی هوايي لاره هم دايوه مياشت كيږي چې بنده ده، طيارې نشي كيناستلی، ترڅوددوئ اكمال وكړي !

۵-ولسي همكاري درسره ننګرهار كې په كومه كچه ده، او تاسو تري څومره راضي ياست ؟

ځواب: الحمدالله دننګرهارمجاهدولس په عمل كې داثابته كړي، چې مجاهدينوسره په ډيراخلاص ولاړدي، خلص داچې دهرننګرهاري كوردمجاهدينومركزدی .اومونږه ددوئ ددغه اخلاص اوولاړې همكاری څخه ډيرراضي يو ،اومننه ورڅخه كوو !

۶-دننګرهار غلامه اداره دولسونو دجلب او جذب لپاره دملي شوری ګانو ،ملي پيوستون او نورو نومونولاندې خپل پروګرامونه پر مخ بوځي ،آيا تاسوهم په ورته ډول ننګرهار كې كومه داسې پروسه لرئ يا به يې پيل كړئ، چې له امله يې ددې ولايت علماء ، سپين ږيري او مصلح ولسي مخور درسره په مشورو كې ناسته پاسته ولري ،په نيكو مشورو مو پياوړې كړي او ځان درسره يو ډول په امارت كې شامل محسوس كړي ؟

ځواب: زمونږ اداري تشکیلات الحمدالله ډیر فعال دي، دهرې ولسوالۍ لپاره ملکي ولسوال لرو، چې په دوامداره توګه دخپل ولس، علماء کرامو، قومي سپین ږیرو، جهادي قومندانانو، دمکاتبوله استاذانوسره وخت په وخت مشورې اوناستې کوي، همدارنګه دولایت دادارې رئیس په توسط دولایت مرستیال او دنظامي ولایتي کمیسون رئیس په ټولو مسایلو کښې دولس له مشرانوسره په تماس کښې وي. اوزمونږ علماء اوقومي مشران هم خپلې ښې مشورې اونظرونه راسره شریکوي، میاشتنۍ غونډه له علماوو او قومي مشرانوسره لرو، اوددوئ مشکلاتو دحل لپاره په ګډه لارې پیدا کوو.

۷- کله نا کله ننګرهار کې دسړي تښتونې یا اختطاف دپیښو خبرې اوریدل کیږي، ددې پیښو تر شا دچا لاس وینئ؟ ددې مجرمانه عمل دمخنیوي لپاره مو څومره هلې ځلې کړي؟ او آیا کله مو داسې مجرم عناصر لاس په لاس دمحاکمې میز ته کش کړي؟ هیله ده چې ددې جرایمو دمخنیوي ځوبیلګې هم لوستونکیو ته په ګوته کړئ!

ځواب: واقعاًځه موده مخکې داسې پیښې وې، خو الحمدالله دایو کال کیږي. چې داختطاف مسئله (اغوابرای تاوان) نه لرو، ددې دمخ نیونې لپاره مونږ دننګرهارټولې ساحې دمجاهدینوپه مینځ کې تقسیم کړي. چې هره ساحه خپل مسؤل لري، چې دهغې ساحې ذمه وار بلل کیږي، دولس له امنیت څخه نیولې بیا داشغالګروسره دمقاومت پورې تاسوته بهتره معلومه ده، چې داختطاف دمخنیوي او په دغه جرم باندې مرتکب اشخاص اسلامي امارت په لایحه کې دسختې جزاوړ بلل کیږي، داسلامي امارت ټول مجاهدین ددې بدعمل دمخنیوي لپاره کوښښ کوي، او ددغې اختطافونوترشا دمرتدحکومت لاس دی، تراوسه چې کومې ساحې دمجاهدینوپه لاس کښې دي، اختطاف وجودنلري. ددې لپاره به څونمونې درته ذکر کړم، څومیاشتې وړاندې دبتې کوټ ولسوالۍ په سل متري کښې دمحب الله په نوم یو کس چې فعلادپاکستان دپیښورپه کارخانو کښې اوسیږي، وتختول شو. چون ساحه دحکومت وه، زمونږ دمجاهدینوساحه نه وه، کوښښ موبیا هم وکړ، ترڅویې پیدا اومجرمین ونیسو، بالاخره دمحب الله له کورنۍ څخه ۳۰لکه کلداری وغوښتل شوي، دا موضوع زمونږ دخپلو استخباراتي شبکوپه وسیله ترتعقیب لاندې وه. یوه شپه داسې حالت مینځ ته راغې، چې دمحب الله کورنۍ دمجبوریت په اساس ۳۰لکه روپۍ ور روانې کړي، غلوسړی ورته راروان کړ، دولسوالۍ په خواکې دغه تبادلې صورت نیوه، چې زمونږ اتلومجاهدینوساحه دخپل کنټرول لاندې راوسته. هغه ۳۰لکه کلدارې او مختطف محب الله زمونږه لاس ته راغې، اودوه تنه مختطفین دمجاهدینوپه ډزو ووژل شول. محب الله او ۳۰لکه کلدارې مودمحب الله کورنۍ اوورځو ته وسپارلې، دورځې په اوږدو کې معلومه شوه، چې اختطاف ګر دولتي عسکرول. یوه بله واقعه به هم درته ذکر کړم. څومیاشتې وړاندې دعبدالرحمن په نوم یو تن دروداتو له ولسوالۍ څخه وتښتول شو. مونږه یې په تلاش کښې وو، چې بالاخره مودغه عبدالرحمن نامی (ده باله) ولسوالۍ کې دیو کورڅخه لاس ته راوړ. عبدالرحمن موخپلې کورنۍ ته رخصت کړ، دکورځښتن راسره بندي دی، او موضوع یې محکمې ته تللې، دحکم په انتظار یو. دا ځواب راڅخه اوږدیږي. یوه بله واقعه به هم درته ذکر کړم. څه وخت وړاندې دبتې ولسوالۍ کښې یوتن دبتې کوټ ولسوال ته راپورورکړی

و،چې يو کال مخکې زه وتښتول شوم،او په داسې يوځای کې ساتل کيدم.بالاخره مې ځان په ۹لکه کلداړې خلاص کړ. ولسوال په هغه ځای چاپه ووهله ټول اسناداو شواهد يې پرې موجود کړل ،دپيښې عامل شخص راسره بندي دی. موضوع يې محکمه کښې ده. دلوی خدای په نصرت دا يو کال کښې داختطاف ورته موضوع نه لرو،وس موږه ارامه ژوند کوي،په هغوساحو کښې چې زمونږ تر کنترول لاندې دي اومجاهدين شپه اوورځ ددغومجرمينوپه تلاش کښې دي،دمخنيوي شه لاره يې همداده ،چې سيمې مجاهدينوته تقسيم شي. دغم اوخوشحالی مسول معلوم شي ،دازمونږ تجربه اوعملی يې وينو.

۸-له نيکه مرغه چې مو دامارت په تشکيلاتوکې د(کانال دپروژې) رياست فعال کړی ،که ددې اقتصادي پروژې دکار ،عوايدو ،زراعتي ځمکو دويش،دمالټو او زيتونوباغاتو په څرنګوالې اودولتي ځنګلاتو په حفاظت کې لوستونکيو ته معلومات ورکړئ ممنون به شو؟

ځواب: الحمدالله دننګرهار دښيرازه ولايت څخه مونږ ته ډيرعوايدلاسته راځي،چې داسلامي امارت عمومي بوديجې ته تحويليږي، اودمجاهدينومشکلات پرې حل کيږي ،يو ددغومنابعوڅخه دننګرهار دکانال ځمکې دي، چې يو کال وراندې زمونږپه لاس کښې نه وي،اوس دکانال رياست فعال دی، ډيرزيات پرسونل لري،ډيرعوايدورڅخه ترلاسه کيږي،دمالټو اوزيتونو دونو په شه طريقه حفاظت کيږي،او زراعتي ځمکې يې په عادلانه ډول زمونږداسلامي امارت دکانال پخواني رئيس صاحب دښې تجربې له کبله ويشل کيږي،هرمستحق شخص ته ځمکه ورکول کيږي او اجاره ورڅخه اخيستل کيږي،همدارنګه دوزيرو ،شيرزادواوپچيرآګام دځنګلونوشه حفاظت اوساتنه کيږي. ترڅو دهيوادعامه شتمنی محفوظ پاتې شي،هيڅ چاته اجازه نه ورکول کيږي، چې دغره يادفارمونو ونې خرابې يا له منځه يوسي.

۹-که دننګرهار دمعدنياتواوصنايعو دځرنګوالې په هکله لوستوالو ته خپل کاري فعاليت تشريح کړئ خوښ به شو؟

ځواب: معدنيات دافغانستان په سطحه يو شه فعال کميسون لري،ددغه کميسون نماينده ګان په ننګرهار کښې دمعدنياتو کارونه په خورا شه طريقه دمحلي نماينده ګانو په توسط پر مخ وړي،چې ډيرزيات عوايد ورڅخه ترلاسه کيږي، لکه دشيرزادومعدنيات،دحصارک معدنيات،دآګام معدنيات،د ده بالا معدنيات اوداسې نور..... چې دننګرهار دمجاهدينوپه پوره اخلاص اوهمکاری کافي عوايد ورڅخه لاسته راځي !

۱۰-کوم عسکر چې دغلامې اداري څخه رابيل او له مجاهدينو سره يوځای کيږي ،تاسو ورته دژوند داسانتياووا و امنيت څه ډول تضمين ورکوئ؟ اوآيا دننګرهار ددعوت او ارشاد کميسون هم دې برخه کومه هماهنګي درسره لري ؟

ځواب: هو! ټول هغه کسانوته چې له اجيرې اداري څخه راجلاشي،دمجاهدينو په ساحو کښې ورته دشه آرام ژوندزمينه برابروو،هيڅ قسم ډار او تشويش په دې رابطه ورته نشته،په هرځای کې چې وغواړي ژوند کولی شي،مونږورته ديو قدرمندورور په ستر ګه ګورواو ددعوت ارشاد کميسون په دې رابطه ډيره دلچسپي

لري .دننګرهارلپاره يې خورا ښه تکړه مجاهددیني عالم ددعوت ارشاددرئیس په توګه ټاکلی، چې په دې رابطه خورا ډیره همکاري او هم آهنګی سره لرو .دهمدی همکاری په نتیجه کښې الحمدالله تاسو ګورئ چې روزانه له لسو ترپنځلسوپوری کسان ددعوت ،رشاد په رهنمایي او دمجاهدینوپه همکاری داجیرې اردوځخه داسلامي امارت صفونوته داخلیږي اوښه پرامنه او عادي ژوند کوي.

۱۱–دې وروستیو کې اشغالګرو دبي پیلوټه الوتکوله لارې حملې ډیرې کړې ، کوم لامل یې تر شا وینئ ؟او آیادمجاهدینو دمصؤنیت لپاره مو کوم داسې تکتیک په کار اچولی، چې دیر غلګرو دا وسله هم ناکامه شي ؟

ځواب: تاسو ته معلومه ده، چې ګډدښمن دمخامخ مقابلې کولوتوان له لاسه ورکړی .دمجاهدینوسره پراخه ولسي همکاري زیاته شوی ده .دښمن دمجاهدینوله ګوزاره نشي بچ کیدلای ،هره ورځ ډیرزیات مالي اوځاني تلفات وینې. همدالامل دی ،چې اوس دبي پیلوټه طیارولې لارې په مجاهدینوحملې کوي،مجاهدین ددې بزدلانه حملوپه وړاندې ډیروښې دي .الحمدالله ددوئ ډیربریدونه بې ځایه اویا په ملکي خلکوباندی کیږي. ځکه هغه څه چې ددې حملې دکامیابۍ وجه ده ،هغه تلیفون یاجاسوس دی ،مجاهدینوته مطلق امر دی ،چې تلیفون مه استعمالوئ، اوپه ټول ولایت کښې مودمخابری سیستم فعاله کړی، چې دا دمجاهدینودمصؤنیت ښه ذریعه بلل کیږي. او ټول مشکوک افراد له ساحې ویستلای شوي. زه تاسوته اطمنان درکوم ،چې پورته هدایت عملي شي داپروسه ناکامه ده،هیڅ هم نشي کولای .اودډیر ضرورت په وخت کښې دمؤسساتو دکمیسون په همکاری دتلیفون پایه هم بندوو !

۱۲–دننګرهار ولایت ځینو ولسوالیوکې داربکي تر نامه لاندې دملیشووسله والې ډلې جوړې شوي ،ددې امریکایي پروسې دمخنیوي لپاره موځه تدابیر نیولې که بیلګې وښایاست؟

ځواب: هو! په ځینوسیمو کښې مکاردښمن کوښښ کړی ،چې یوتعدادخلک چې په یو ځو روپیواخیستل کیږي، داربکیو په نوم پروسه یې روانه کړي،البته سږ کال په پسرلي کښې مونږ دقومونودمخوروا و علمای کرامو سره لویي غونډې وکړي .الحمدالله دننګرهار مجاهدولس له دې بدنامې پروسې سره پراخه پریکون وکړ .دمثال په توګه دشینوارو په ولسوالیو کښې قومي مشرانوداپروسه له مینځه یوړه :اودکوټ ولسوالۍ خلکودیوې میاشت په مهلت اخیستوسره داپروسه ختمه کړه، په هغه ځایونو کښې چې دقوم دمشرانوخبره ونه منل شوه، دولس په ملاتړ مجاهدین هغه سیموته داخل شوي .اودغه پروسه اوس په ډیر ضعیف حالت کښې روانه ده .قومي مشران اوعلمای کرام له مجاهدینوسره پوره همکاري کوي اوداربکیانویوتعدادمشران لکه(ملک نواب) خوګیانو کښې اوداسی نور ....له مینځه لاړل، داپروګرام اوس ناکام دی.

۱۳–ځینې داسې معلوم الحاله خلک شته ،چې دکابل دادارې لپاره دملي پیوستون .دسولې ملي پروسه اوځینو نورو نومونوتر عنوان لاندې کار کوي ،تاسو داسې خلکو ته په کومه سترګه ګورئ او څه یې په وړاندې کوئ ؟

ځواب: دننګرهارولایت مجاهدین هر یې هغې پروسې ته چې ددښمن لپاره په هرعنوان کارکوي، ددښمن په ستر ګه ورته ګوري.او هیڅ کوم شخص اوډله چې ددولت په چوکاټ کښې کارکوي، دمصؤنیت احساس دې نکوي !

۱۴-پخپلو عملیاتو کې ځومره دولسي وګړودژوندساتلو هڅه کوئ؟

ځواب: تاسوبه خبریاست! چې مونږځومیاشتې وړاندې دننګرهارښارمیشتوته یوپیغام خپورکړ.چې تاسوددولتي تاسیساتوڅخه لرې شئ.داخبرموددې لپاره ورکړ.چې زمونږدډیرو عملیاتودمخنیوي سبب دا ولسي خلک ګرځیدلي. ترډیره حده کوښښ کوو. چې ولسي خلک دمجاهدینوپه حملوکې متضررنشي.حتی ډیرځله داسې پیښه هم شوي ده، چې ماین دریموټ په وسیله ددښمن په ټانک برابرشوی، خوخواته یې ملکي موټریاخلک رامخې ته شوي. مونږله خپل پروګرام څخه تیرشوي یو. البته یوځل بیاستاسوله لارې دښاراوسیدونکیوته وایو!چې ددښمن له مراکزولیږې واوسئ. ترځومجاهدین په پراخه پیمانه دښمن وځپي!.

۱۵-دپوهنې په برخه کې مې پوښتنه داده.آیااسلامي امارت دخپل (پوهنې کمیسون)په بریدونوکې کوم داسې مکتب یا مدرسه ننګرهارکې لري.چې نیغ په نیغه یې ځارنه کوي اوداوسني دیموکراتیک نصاب پر ځای پکې اسلامي نصاب تطبیق وي؟

ځواب: ننګرهارولایت دعلم اوعرفان زانګوبل کیږي.تر اته سوه اتیاو(۸۸۰)څخه ډیر مکاتب لري،دننګرهار ولایت دپوهنې رئیس دپوهنې کمیسون په هدایاتودولایت په هغوساحو کښې چې مجاهدین یې تر واک لاندې لري، نبه ځارنه اونظارت کوي:دبیلګې په توګه دخوګیانیوشیرزادو دناثولیسې ،چې وخت په وخت یې ځارنه اوپوښتنه کیږي، همدارنګه په ټولومجاهدمیشتوساحوکښې داستاذانودحاضرۍ وغیرحاضرۍ حال احوال اخیستل کیږي.اوهغه نصاب چې دپوهنې دکمیسون له خوا ورته ورکړل شوی عملی کیږي.

۱۶-پداسې حال کې اشغالګر زیات ترکیز دنجونودښوونځیوپه زیاتولو او جوړولوکوي ،پدې ستاسو پالیسي څنګه ده؟

ځواب: دافغانستان سلامي امارت تعلیم او تربیې ته په لوړ ارزښت قایل دی.دشرایطوپه برابرولوسره څنګه چې مناسب اولازم ده، دنجونوتعلیم سره مخالفت نلري، البته دشریعت په رڼاکښې بایدهرڅه برابروي.اشغالګرغواړې، چې ددغې لارې ځخه زمونږدعفیفوخویندوعزت پیمال کړي، لکه دشرعي حجاب نه مراعت کول، دهلکانواونجونوګډتعلیم، چې دانه شرعي اونه افغاني صبغه لري، چې په مجموع کې دداسی تعلیم هرمسلمان مخالف دی.

۱۷-کله ناکله ددښمن میډیا د ډاکټر ،انجنیر ،معلم ،مدیر یا دبل کوم ملکي مامور دځوروني خبرونه په پرسول شوي بڼه خپروي ،آیا داسې کومه پیښه ستاسواړوند ساحه کې شوي، چې داډول وګړې چې په ولسي ټولنیز خدمت بوخت وي ،دمجاهدینو خواخوږي دي .اشغالګروته په نفرت ګوري او مجاهد ته شپه او ورځ پخپل کور کې مصؤنیت ورکوي ، رښتیا هم داډول حالاتو سره مخامخ دي او که داهسې تبلیغاتي جګړه ده، چې دښمنان یې پر مخ بوځي ؟

ځواب: بایدپه تعجب سره ووایم، چې مجاهدین چیرته تداوي کیږي! دمجاهدزوی چیرته تعلیم کوي اودمجاهد زوی ته څوک تعلیم ورکوي!!(که نه دغسي ګرځي) همدغه ډاکټران زمونږټپیان تداوي کوي،همدامعلمان زمونږبچیانوته

درس وايي ،همداډاکټر ،معلم اوانجينر دهمدې خاورې يوه لويه حصه تشکيلوي ،بيابه څنګه مجاهدين ددوئ دځورونې هڅه وکړي داد دښمن پروګرام دی ، چې ممبرله ډاکټر ،عالم له معلم ،مدرسه له پوهنتون څخه بيله اويوبل ته يې په کمين کښې کښينوي . البته اسلامي عقيده دوحدت مرکزدی ،هغه که په درسګاه اومکتب ،مدرسه اوپوهنتون ،دطالب اومحصل ،ډاکټراوانجينر په لباس کښې وي ،سره واحداويو موټی مسلمانان دي ،هيڅوک يې دجلاوالي فکربايدونکړي ،داد دښمن تبليغات دي ، هيڅ حقيقت نلري ، که لازم واى . مابه درته داسې مثالونه ذکرکړي واى چې چابه يې تصورهم نه واى کړى ؛چې معلم ،انجنير ،ډاکټر زمونږپوره همکاران دي .

۱۸–لکه مخکې موچې ورته نغوته وکړه ، ننګرهاريان چې خورا په اخلاص داسلامي امارت سره اوږه په اوږه ولاړدي ، او په يوه نه يوه شکل روان جهاد کې سهيم دي ،خو ځيني وخت سيمه ايز وګړي له امنيتي پلوه شکايتونه کوي . لکه دسړې تښتونې اواختطاف پيښې ،دطالب دسپيڅلې ټوپک تر نامه لاندې شخصي تربګنې پالل ،او يا داسې نور ...څه فکر کوئ ، دا کارونه . ددښمن داستخباراتي شبکو کاردی ، او که دسيمې دځينې مغرضو اشخاصومجرمانه عمل ؟ او تاسوددې ډول غميزوپه مخنيوي کې څومره اغيزمن ګامونه اخسيتي دي ؟

ځواب : ماتاسوته مخکې عرض وکړ ،چې مونږدامنيت په خاطرپه هره ولسوالي کښې سيمې اوساځې تقسيم کړي ،له ولس سره نژدي رابطه لرو ،يوبل سره همکاري کوو . دشپې له مخې باقاعده پهرې او ګزمې روانې دي او هيڅوک دچاحق نشي ضايعه کولاى اونه څوک شخصي تربګنې پالل شي . ځکه هره ولسوالي کښې اوبيا دولايت په سطحه نظامي ولايتي کميسون وجودلري ،چې دمجاهدينودصفونونظارت کوي ،څوک دمجاهدپه نامه بده استفاده نشي کولى ، خودښمن کوښښ کوي ،چې خلک دطالب په نامه وځوروي .لکه تاسوبه کله په ميډياکښې اوريدلې وي ، چې ننګرهار کې دومره طالبان دولت ته تسليم شول ،داد دښمن استخباراتي فعاليت دی ،ترڅوخلک په تشويش کښې واچوي . اوله ننګرهارنه بهر خلک فکر وکړي ، چې ربښتياطالبان ددولت سره يو ځاى شول . کله څوکسانوته جعلي لنګوټې هم ورپه سر کړي ،ماتاسوته مخکې وويل چې مونږدداسې پروګرامونودمخنيوي لپاره پوره آماده ګي لرو .

۱۹–دې وروستيو کې مو داسلام او خاورې پر دښمنانو مؤثربريدونه وکړل او درانده تلفات مو وراړول ، آيا راتلونکی به هم دداسې پرمختګونو شاهد وي ؟

ځواب : الحمدالله لکه چې تاسو مهرباني وکړه ، چې په دې وروستيوڅومياشتو کښې دننګرهارولايت کښې ډيرمؤثرعمليات وشول ، که لږوضاحت وکړم ، لکه په جلال آبادښار کښې په لومړۍ حوضې لوى فدايي بريد ،دوهم دعدليې په رياست باندې فدايي بريد ،دريم دفاملیودټانګونوپه لوى تمځاى باندې بريد .څلورم دطورخم په لويې هډې باندې بريد ، پنځم په رينګ روډ داشغالګروپه کتاربريد .شپږم دفارمې هډې فدايي بريد .اووم په امنيت ملي باندې

پراخه برید ،اتم دطورخم په بیز برید .نهم دحصارک په ولسوالی برید .لسم دغني خیلوسیمه کښې فدایي برد ،یوولسم طورخم او جلال آبادپه لویه لاره شاړلس ټانکروسوځیدنه .دولسم دطورخم دټانکونوپه تمځای برید .دیارلسم دشیرزادو ولسوالی برید اومحاصره ،څوارلسم ددورباباوسوالی باندی پراخه تعارض ،پنځلسم دبهسودوپله موټربم برید اوداسې نور غټ او بې شمیره واړه بریدونه اوفدایی حملې په دښمن ترسره شوي . اوهمداسې دننګرهار لویه هوایي هډه پرلپسې دمزایلودګوزارونولاندې ده. وړاندوینه نه کوم ، البته دخپلو کاري پروګرامونوله مخې اطمینان درکوم ، چې راتلونکې کښې به په دښمن تردې سخت هدفي بریدونه جاري وساتو !انشاالله ..

۲۰-داسلامي مقاومت په روان بهیر کې دجهادي مطبوعاتو له منځه د(مورچل مجلې) قلمي سنګر څنګه ارزوئ ؟

ځواب : داسلامي مقاومت په روان بهیر کښې د(مورچل مجله) اوزمونږ نورې مجلې اواونیزې واقعاًچې ددښمن په وړاندې یوه ښه موثقه اوپه جهادي روحیه ولاړه مجله ده ،همداراز مونږ اتل بیکوالان وو، چې دغلیم شوم اهداف اوپلانونه یې په ډیرسخت وخت کښې زمونږدمظلوموموسلمانانوغوږونوته ورسول، پدې لاره کښې ورته دلازیات بریالیتوب غوښتنه دلوی خدای ج څخه کوو.....

۲۱-دخپلو تجربو او جهادي سړو تودو د ګالنو په رڼا کې خپل ولس او مجاهدینو ته څه پیغام لرئ ؟

زماپیغام:

زماپیغام دافغانستان قهرمان ولس اودننګرهارشریفو خلکوته دادی، چې یوازې اسلامي امارت کولای شي، دستاسوارمانونه پوره اوستاسودشهداوو،وبندیانو ،ټپیانو پوښتنه وکړي، پام چې دمرتدې اداړې په تشو وعدوغلط نه شئ. هغه وخت نیږدی دی. چې زمونږولس داشغالګروله ظلمونواو وحشتونوځخه ترسپین بیرغ لاندې محفوظ او مصؤن شي،تل دخپلو مجاهدینومرستوته دوام ورکړئ، اوزماهیله له مجاهدینوځخه داده، چې دخپل دمجاهدملت په سردترحم لاس راکش کړي. اوله خپل ولس سره رابطه نوره هم مضبوطه اوله خپل ولس سره دګذشت سیاست غوره کړي،خپلومنځونوکښې داتحاد،اتفاق،اخلاص،امانتداری،روحیه ژوندی،وساتي،شرعي اصولواوداسلامي امارت لوایحوته ژمن واوسي،دخپلو مشرانواطاعت وکړي ، په خپلوکشرانوشفقت اودګذشت معامله کوئ،ترڅومولوی خدای ج نورهم نصرت اومدد وکړي،دریاء ،غرور، ظلم اواسراف څخه ځانونه وساتئ .لوی خدای دې له مونږ،ټولونه راضي شي !!

والسلام

مورچل دارالافتاء

مفتي أسدالله

دمجاهدينو دچندي روپۍ په مضاربت يا مشارکت ورکول ؟؟؟

الاستفتاء: يودلګي مشر دملګرولپاره دزکات روپۍ تولي کړي دي، په يوڅه روپيې سلاح اونوراکمالاتي شيان واخستل، اوپاتې روپۍ دمجاهدينودنفع لپاره يوچاته په مضاربت ورکوي، نوپوښتنه داده چې دزکات روپۍ په مضاربت يامشارکت ورکول صحيح دي ؟

الجواب حامداومصلياوبعد :

په مذکوره صورت کې دفقراوو له تمليک څخه پرته دزکات په روپو سلاح اخيستل يابله معامله کول صحيح نه ده، البته: که دهمدي مجاهدينو له خوا وکيل شوی وي اوبيا سلاح يادجهاد نورسامان واخلي نواخستلی يې شي ،

اوځرنګه چې دزکات داداء کولو يولامل دفقراوو دارتيا پوره کول دي، نودزکوت روپۍ چې له حاجت څخه زياتي شوي ،نو په هماغه فقراوومجاهدينودې تقسيم کړي، چې دهغوئ لپاره يې قبض کړي دي

په مشارکت يامضاربت دې چاته نه ورکوي.

لمافی الدرمختارعلی هامش الشامي ۱۴-۲/۱۳ : (وقيل فوري) أی واجب علی الفور وعليه الفتوی کمافی شرح الوهبانية ،فيأثم بتأخيرهابلاعذر.

وفی الطحطاوي علی مراقی الفلاح ص ۷۱۳: وهي واجبة علی الفوروعليه الفتوی ،فيأثم بتأخيرهابلاعذر .

وفي الدر مختار على هامش الشامي ٢/٢٨: يصرف المزكي الى كلهم ،اوالى بعضهم... .تمليكالااباحة .

زمورلمونځونه څرنګه دي ؟

الاستفتاء:مورڅوتنومجاهدينوپه يوه چمن کې لمونځ کاوه، سجده موپه وښووه، دزمکې ټينګوالى مونه و محسوس کړى،خولمونځ ټولووکړ،همداسي ډيروخت مجاهدين په وښويا چمنونوکې لمونځ کوي،نوچې تندى زمکي تەونه رسيږي لمونځ صحيح کېږي اوکنه؟ ستاسوورورىو مجاهد

ألجواب حامداًومصلياًوبعد:

په مذکوره صورت کې چې ترڅوپوري په سجده کې دځمکي يادهغه شي چې په معنى دځمکي وي ټينګوالى محسوس نه کړي لمونځ يې نه صحيح کېږي.

لمافي البحر١/٥٥٨:والأصل كماأنه يجوزالسجودعلى الارض يجوزعلى ماهوبمعنى الارض مماتجدجبهته حجمه وتستقرعليه.وتفسيروجدان الحجم أن الساجدلوبالغ لايستفل رأسه أبلغ من ذالك،فيصح السجود .....وكذااذاألقى ألحشيش فسجدعليه ان وجدحجمه جازوالافلا،وكذاالتبن والقطن.

وفي الخلاصة١/٥٤:ولوسجدعلى الحشيش اوعلى التبن اوعلى القطن،اوعلى الطنفسةان استقرجبهته وأنفه ويجدحجمه يجوز،وان لم يستقرلا.

وكذافي مرافي الفلاح على صدرالطحطاوي ص٢٣١.

وكذافي مجمع الانهر١/١٤٨.

ومثله في الشامي٢/٢٥٢.

دشهيددميرمني په اړه

الاستفاء:يوه ميرمن چې واده شوي نه ده اودپلاريه کورناسته ده ،مګرخوندي شهيدشو،اوس دغه ميرمن عدت لري اوکنه ؟ځکه خپل خوندي نه دي ليدلى. المستفتي حمدانور

ألجواب حامداًومصلياًوبعد:هو؛په ذکرشوي صورت کې ددغه ميرمني لپاره دنورومیرمنو په څېردځلورومياشتو اولسو شپودوفات عدت شته .

لمافي البحر٢/٢٢٤:وأطلق في عدة الحرة للموت ، فشمل المسلمة والكتابية تحت المسلم صغيرة كانت أوكبيرة أوآيسة سواء كان زوجها حراًأوعبداً ،قبل الدخول أوبعده ،ولم يخرج عنها الاالحامل فانهاتعتدبالوضع في الوفاة أيضًا .

ومثله في التبين الحقائق ٣/٢٧ باب العدة .

وفي الهندية ١/ ٥٢٩: عدة الحرة في الوفاة أربعة أشهر وعشر أيام سواء كانت مدخولاً بها أولا .
ومثله في مجمع الأنهر ٢/ ١٢٣-١٢٤ باب العدة .
وفي الدر مختار على صدر الشامي ٥/ ١٩٠-١٩١: والعدة للموت أربعة أشهر....
وعشرة من الأيام بشرط بقاء النكاح صحيحا الى الموت مطلقا: وطئت أولا ولو صغيرة او كتابية تحت المسلم ولو عبداً فلم يخرج عنها الا الحامل .
الاستفتاء: محترم مفتي صاحب ! مته ديوه مجاهد موټرسائكل امانت ولاړ ده ، كه زه خپل تيل وركړم اوداهم فرض كړم: چې كه خراب شوو رجوړوم يې ، نوزه دغه موټرسايكل استعمالولاى شم ؟
الجواب حامدا ومصليا وبعد: څرنګه چې دغه موټرسائكل له تاسو سره امانت دى . اوداامانت استعمال دمالک داجازي پرته خيانت ګڼل کيږي ، لهذا تاسوته ددې موټرسائكل استعمال نه دى جائز ،که څه هم تاسو يې مصارف په غاړه واخلئ.
قال الله تعالى: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا الاية النساء ٥٨ وعن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يقول: "أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ "رواه ابوداود باب الرجل ياخذ حقه.
في البحر ٧\ ٢٧٧ والوديعة لاتودع ولاتعار ولاتواجر ولاترهن وان فعل شيئ ضمن الخ
وفي مجمع الانهر ٣\ ٤٨٢ كمالاتوجر ولاترهن الوديعة لانها امانة ، فلايجوز التصرف فيها الخ.
وفي الموسوعة الفقهية ٤٣\ ٥٥\ ٥٢ استعمال الوديع للوديع والانتفاع بها كركوب الدابة ولبس الثوب ونحو ذلک اما ان يقع باذن صاحبه اوبغير اذنه فاذا استعملها الوديع باذنه فلاخلاف بين الفقهاء في حل فعله ، ومشروعيته ... اما اذا استعمل الوديع الوديعة بغير اذن ربها فقد اتفق الفقهاء على ان فعله هذا يستوجب الضمانة
والله تعالى اعلم
دزكات په پيسو مجاهد تداوي ؟
الاستفتاء: زمونږ مجاهد خوريې سخت زخمي دى، پلاريې هم زيات مسكين دى، زه دوا اخلم بيا يې مريض ته وركوم ،يوځل اپريشن كې هم څلويښت زره روپۍ زما ولګيدي، تول تل به زمايولک روپۍ لګيدلي وي، نواوس پوښتنه داده: چې زه دغه روپۍ په زكات كې حساب كولى شم اوكنه ؟
ألجواب حامداً ومصلياً وبعد:
په مذكوره صورت كې دغه لګول شوي روپۍ يادهغوروپو دوا په مجاهد يادهغه په فقيرپلار دزكات په نيت قبض شوي وي ،نوزكات كې حساب كيدلاى شي.
لما في الدر مختار على هامش الشامي ٢/ ٣: هي ....تمليک خرج الاباحة ،فلو اطعم يتيما ناويا الزكة لايجزيه الا اذا دفع اليه المطعوم كما لو كساه.

وفي الهندية ١/ ١٧٠: أما تفسيرها فهي تمليک المال من فقير مسلم.
ومثله في البحر ٢/ ٣٥٢ – مطبعة رشيدية كوئته.
ومثله في الفقه الحنفي ١/ ٣٥٢.
ومثله في الطحطاوي على مراقي الفلاح ص٧١٤.
په دوو اميرانو کې به دکوم يو اطاعت کوي ؟
الاستفتاء: ماته دولايت مسئول وويل چې ته فلانی کاروکړه ،ليکن ددلګۍ مشررا يه هغسي نه وه، زه دکوم يوه خبرومنم ؟ځکه دلته موضوع داطاعت ده.
او په ماباندي دکوم يوه اطاعت په دغه مسئله کې واجب دی؟.
المستفتي رحماني.
الجواب حامدا ، ومصليا وبعد:
په ذکرشوي صورت کې دولايت دمسؤل اطاعت لازم دی ؛ ځکه دهغه امرپه حقيقت کې دلګۍ مشرته هم راجع کېږي .
لمافی شرح سير الکبير ٥/٢١٨٠: لأن التأمير يقتضي أن يكون فعل الأمير كفعل المأمور والمؤمر وهو الخليفة .وكذا قال لان الخليفة لما فوض اليه أمر الحرب صار مفوضا اليه ماكان من اسبابه وتوابعه وماهو متعلق به .
وكذافی بدائع الصنائع للكاساني ٢/٢١ مطبعة رشيدية كوئته .

دزکوة په پيسود مجاهد تداوي ؟

پوښتنه: زما يو مجاهد خوريي سخت زخمي ده پلارئې هم زيات مسکين ده ،زه دوايي اخلم او بيا يې مريض ته ورکوم ،يوځل افريشن کې هم څلويښت زره روفی زما ولګيدي، ټول ټال به زما يولک روفۍ لګيدلي وي نو اوس پښتنه داده: چې زه دغه روفۍ په زکوة کې حساب کولی شم اوکنه ؟
جواب: که دغه لګول شوي روفۍ يادهغوروفو دوا په مجاهد يادهغه په فقيرپلار دزکوة په نيت قبض شوي وي نوزکوة کې حساب کيدلای شې.
لمافي الدرمختارعلى هامش الشامي ٢/ ٣: هي...تمليک خرج الاباحة ،فلو اطعم يتيما ناويا الزكاة لايجزيه الااذادفع اليه المطعوم كما لوكساه.
وفي الهندية ١/ ١٧٠: أما تفسيرها فهي تمليک المال من فقير مسلم.
ومثله في البحر ٢/ ٣٥٢ – مطبعة رشيدية كوئته.
ومثله في الفقه الحنفي ١/ ٣٥٢.
ومثله في الطحطاوي على مراقي الفلاح ص٧١٤.

د کابل فتحه

د هیواد د معاصر تاریخ کمساري حماسه

قاري حبیب

د ۱۳۷۵ هش کال د میزان د شپږم په شپه طالبانو کابل ښار ونیو، دا ښار چې دهغه مهال دربانې د ایتلافي حکومت ځواکونو وربانديې شاوخوا امنیتي کمربند راګرځولی و، طالبانو د خورا پیچلیو عملیاتو او پراخې جنګي برنامې په نتیجه کې فتحه کړ.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې د جګړو او نظامي بریاوو پیښې ډیرې دي، خو داسې نه دي پیښ شوي چې د یوې تمام عیارې جګړې په نتیجه کې یو لوری له بلې خوا د هیواد پلازمینه ونیسي، د طالبانو لخوا د کابل نیول د تاریخ همداسې یوه ندره او نه اټکلیدونکې پیښه وه.

طالبان چې د عقیدې او جهادي جذبې په روحیه جګړه کوي، له پیل څخه یې پوځي پرمختګ د نظامي چارو څارونکي هیښ کړي و، د کابل تر فتحې وړاندې دهیواد په جنوب او ختیځ کې د طالبانو برق آسا پرمختګونه دومره له اټکله لرې و چې اکثره نظرخاوندان خو یې په تحلیل کې پاته راغلل، ځینو دا د پاکستان مداخله وبلله او ځینو بیا طالبان پخواني کمونیستان وبلل، تردې چې په هغو شپو کې ځینو ناخبره خلکو دا تبلیغات هم کول چې د طالبانو مشري د پخواني کمونیست شاهنواز تنې په غاړه ده، دوی د کندهار دپنجوایي ولسوالی د تلوکان د کلي د اوسیدونکي او د کمونیزم خلاف مشهور مجاهد ملا بورجان اخند په خلاف چې د طالبانو نظامي مشري یې په غاړه وه همدا غلط تبلیغات کول.

د طالبانو نظامي مشري په پیل کې د تکړه مجاهد شهید ملا محمد اخند په غاړه وه، نوموړی چې له روسانو سره جنګیدلی او تجربه کار مجاهد و ډیر زر یې د افغانستان په جنوب کې د تپوپکي جګړه

مارانو تغر ورټول کړ، د نوموړي د جنګي تاکتیک په اړه دهغه وخت طالبان وایي. چې همیشه یې د شپې لخوا جنګي عملیات پیلول، یو وخت کوم خبرې ترې وپوښتل چې ولې د شپې لخوا تعرضونه کوي، ده ویل د شپې لخوا په ناڅاپي تعرض دښمن زر وارخطا کیږي او د تیښته لار نیسي، زما هدف دادی چې دښمن زر میدان پریږدي او د تیښتې لاره ونیسي تر څو په دواړو خواوو کې د ډیرې وینې توییدنې مخنیوی وشي، د شهید ملا محمد اخند دهمدې تاکتیک برکت و چې په جنوبي ولایاتو کې په جګړو کې له دواړو خواوو ډیرو لږو کسانو ژوند له لاسه ورکړ.

د کندهار له نیولو وروسته چې د طالبانو لښکرې د لویدیځ او ختیځ په خوا لاړې په لویدیځ کې یې قومنده د ملا محمد اخند په غاړه وه او په ختیځ کې یې مشري ملا بورجان اخند کوله، د ملا بورجان اخند تر ټولو ستر کارنامه د پلازمینې کابل فتحه وه، هغه چې نوموړي یې خوشحالي په ژوند ونه لیده، بلکې د فتحې له شیبو لږ وړاندې یې د شهادت جام نوش جان کړ.

د کابل د نیولو لپاره د ملا بورجان اخند ستراتیژي خورا بریالی وه، نوموړي دشمن په خورا پراخه سیمه کې په جګړه کې ښکیل کړ تر څو یې په پای کې دې ته وادار کړ چې هر استقامت شکست ومني، نوموړي خپله حرکت له ګردیز څخه پیل کړ، میرزکه او ځاځي احمد خیل یې ونیول چې تر دې مهاله د سیاف او حکمتیار د کسانو په لاس کې و، ورپسې یې ځاځي ایوب ونیو او له هغه ځایه په ازره او حصارک ورغلل، له همدې ځایه یې ځینې ځواکونه د جلال اباد، کنړ او لغمان د تصفیې لپاره وخوځیدل او نور په کابل څو اړخیز برید ته چمتو شول، څو ورځې وروسته یې د ننګرهار له پل سرخکان او حصارک څخه په یوه ځل هماهنګ برید پیل کړ. په پرلپسې تعرضونو یې د کابل د حکومتي قواوو روحیه په بشپړ ډول وځپله او دې ته یې تیار کړل تر څو د تیښتې لاره ونیسي.

د طالبانو د دې جګړې ښ چلند د بریا په اړه د دوی سرسخت مخالف احمد شاه مسعود هم تعجب کوي، له کابل څخه له تیښتې وروسته د سیدا قا سانچارکي له قوله احمد شاه مسعود د خنجانو په غونډه کې د طالبانو پر مختګ بیخي حیرانوونکی وبالله، چې له نظامي اصولو سره سرنه خوړ مسعود وویل: یک عمل تهاجمی نیازمند چندین روز برنامه ریزی و اکمالات است اما شگفت آور این است که طالبان در یک شب، به شش تا هفت عملیات تهاجمی پشت سرهم دست می زنند و آن چنان با سرعت و گستاخی عمل می کنند که هر مقاومتی را در مقابل خود می شکانند.

د کابل د فتحې جګړه نړیوالو رسنیو هم کمساري وبلله، د انتوني ډیوس په نوم لویدیځ لیکوال لیکلي چې طالبانو په خپلو مسلسلو بریدونو د شورای نظار ځواکونه بشپړ اغفال کړ او ابتکار یې ترې په لاس کې واخیست، طالبانو چې د پکتیا، لوګر، ننګرهار، کونړ او لغمان سیمې یې پرلپسې نیولې وې، احمد شاه مسعود فکر کاوو چې دوی به ستومانه وي او شاید د سروبي له نیولو وروسته

دمه وکړي، ترڅو د کابل دنیولو لپاره خپل اکمالات وکړي، خو طالبانو پرته له دې چې کوم توقف وکړي په کابل برید وکړ.

طالبانو نه یوازې کابل ونیو بلکې تر هغه شیبې یې پرمختګ ته دوام ورکړ چې احمد شاه مسعود یې د دالان سنګ تنګي په الوزولو د هندوکش په خوا دوړاندې تګ مخه ډب کړه.

برتانوي ژورنلیست ډیوید لاین بیا د افغانستان نظامی چارو له یوه کارپوه څخه په نقل قول د کابل دفتحې جګړه داسې تعبیروي: دا د خوځنده جګړې یوه خورا نادره او اغیزمنه بیلګه وه د افغانستان په جګړه ایز تاریخ کې تر اوسه هیڅ کومې ډلې هم په دومره پراخه عملیاتي سیمه کې په داسې پیچلو او پریکنده عملیاتو لاس نه وو پورې کړی.

د کابل د فتحې جګړه چې د طالبانو دښمنان یې هیښ کړل نو په مختلفو تبلیغاتو یې لاس پورې کړ، ځینو پرته له سند څخه وویل چې په دې جګړه کې ګاونډیو هیوادونو شرکت درلود او یا دې ورته دروغجن تبلیغات، خو په حقیقت کې دا یوازې له طالبانو سره د الهي نصرت ښکاره بیلګه وه.

الله تعالی فرمایلي څوک چې زما درضاء لپاره جهاد او هڅه کوي، زه به ورته لارې وښیم. د کابل په فتحې سره همداسې وشول، الله تعالی هغو طالبانو ته چې د شر او فساد څواکونو هیڅ نه بلل خورا تاریخي بریا ور نصیب کړه او د شر او فساد د رژیم نړیوال ملاتړی یې له نهایي شوی وضعیت سره مخامخ کړل په داسې توګه چې له هغوی سره هیڅ مرستې ته اوزګار نه شول.

اوس هم زیاتره ناخبره کتونکي دا نظر ګردانوي چې د امریکا تر حمایه لاندې دپ یتخت سقوط یو محال او ناممکن کار دی، او د امریکا په ضد جنګیدونکي مجاهدین دا وړتیا نلري چې په جبهه یې جنګ کې کومه ستره بریا ترلاسه کړي، زما په نظر خو دوی باید په دې نظر ډیر اصرار ونه کړي، ځکه جګړه خورا پیچلي عملیه ده چې د پایلو په اړه یې قاطع اټکلونه نه شي کیدلی، کیدای شي د امریکا تر حمایه لاندې پلازمینه کابل هم د افغان جهادي خوځښت په وړاندې داسې سقوط وکړي لکه په ۱۹۷۵ م کال کې چې د امریک تر حمایه لاندې د ویتنام پایتخت سایګون سقوط وکړ او امریکایانو یوازې په تیښته غوړونه خلاص کړل.

د میزان د شپږمې حماسه د افغان پایتخت د امریکایي غاصبانو لپاره د عبرت یو باب دی چې باید ډیر څه ترې زده کړي.

دروان (۲۰۱۴.ز) کال دسپتمبر دمیاشتي په ۲مه نیټه اربکیانواوپولیسود ننګرهار ولایت د غني خیلو ولسوالۍ د ۲۷، ۲۸ او ۲۹ ویالو سیمو باندي چاپې وهلې، دتلاشۍ پرمهال یې خلګو ته زیات مالي زیانونه اړولي اوپنځه نوي (۹۵)تنه ولسي هیوادوال یې دځان سره دبندیانو په توګه وړي دي .

دسپتمبر په ۲مه دزابل ولایت د میزاني ولسوالۍ دشملزو په کلي کي کورنیو عسکرو یوملکي وګړی شهید کړی دی .

دسپتمبر په ۳ مه دکندهارولایت د خاکریز ولسوالۍ دلام له سیمي څخه یرغلګرو دچاپې پرمهال پنځه تنه ولسي هیوادوال دبندیانوپه توګه له ځان سره وړي دي .

دسپتمبر په ۵مه نیواکګرو ځواکونو د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ روضې غره ته څېرمه پر ملکي خلګو بمبار کړی . چې له املې یې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي .

دسپتمبر په ۵ مه دیرغلګروبې پیلوټه الوتکې دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ د سرو غونډو په سیمه کي یوتنکی شپونکی(جلیل د شادي زوی)شهید کړی دی .

دسپتمبرپه ٦مه د لغمان ولایت د بادپښ ولسوالۍ په توده چینه سیمه کي داردو عسکرویو۱۲ کلن ماشوم شهید کړی دی

دسپتمبر په ۷ مه دزابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ د چینو دسیمي اربکیانودرې تنه ماشومان (نور الله دسرورقلعه ، سعیدالرحمن او حضرت محمد دمانده دکلي اوسیدونکي)لومړی وهلي او بیاشهیدان کړي دي .

دسپتمبر په ۷ مه د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ په اچین سیمه کي کورنیوعسکرودچاپې پرمهال یو ملکي وګړی شهید کړی اودرې تنه یې بندیان کړي دي .

دسپتمبر په ۹ مه دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ د ځنګله په سیمه کي یرغلګرودالوتکو په برید کي دوه کوچیان شهیدان کړي دي .

دسپتمبر په ۱۰ مه دکونړ ولایت دنرنګ وسوالۍ په باډیل دره کي داشغالګرو په وحشیانه بمبار کي څوارلس تنه ولسي هیوادوال دکوچنیانوپه ګډون شهیدان شوي اودیارلس نفره ژوبل شوي دي، دکونړ والي شجاع الملک هم تائید کړې چې په یادشوي بمبار کي ملکي وګړي په پراخه پیمانه متضرر شوي، دنومورې په وینادبهرنیو ځواکونو په دغه برید کي لس تنه عام افغانان وژل شوي اودوولس کسه ټپیان شوي دي .

دسپتمبر په ۱۱مه د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ په سبکه سیمه کي یرغلګرو ځواکونودداخلي عسکرو په ملتیاچاپه وهلې . دتلاشۍ پرمهال یې درې تنه ولسي وګړي (مستري حبیب الله ، معلم خلیل او د هغه کمکی زوی)شهیدان کړي ،دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولي ، دتیلو۱ پمپ او۴ دوکانونه یې سوځولي دي .

دسپتمبر په ۱۲ مه اشغالګرو دکندهارولایت د خاکریز ولسوالۍ په چینارتو سیمه باندي تر چاپې وهلو وروسته بمبار کي پنځه نفره ولسي وګړي شهیدان کړي دي .

جنګي جنايتونه

(سپتمبر)

سید سعید

دسپتمبر په ۱۲مه دکندهارولایت دارغستان ولسوالی د پیتاوي په سیمه کي سرحدي عسکرویودوکان چور کړی اودخلګوځلور موټر سایکلونه یې سوځولي دي ،اوهمدا راز دیادي شوي ولسوالی دماکیانوپه کلي کي یې یوملکي سړی شهید کړی دی .

دسپتمبر په ۱۴مه دفر ه ولایت دښارولی په مربوطاتو کي داخلي عسکرویوپنځه شپیته کلن سپین ږیری (حاجي فیض محمداکا)شهید کړی دی .

دسپتمبر په ۱۴ مه اشغالګرو عسکرود نورستان ولایت د واما ولسوالی په کودر دره کي پر یو کور بمبار کړی چي له امه یې ځلور تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي .

دسپتمبر په ۱۵مه دکندهارولایت د میوند ولسوالی دکلانکیچي دغونډی په سیمه کي داردو عسکرودرې تنه ملکي وګړي چي په لاره روان وو ،نیولي ،لاسونه یې ور تړلي اوبیا یې شهید ن کړي دي .

دسپتمبر په ۱۵ مه دکندهارولایت دمیوند ولسوالی په بند تیمور سیمه کي پرغلګرو اوداخلي عسکرو په ګډو عملیاتو کي یوسپین ږیری دوه کوچنیان بندیان کړي اودولسي خلګو ۳ موټر او ۹ موټر سایکلونه یې سوځولي دي .

دسپتمبر په ۱۶مه دلغمان ولایت د عیشنګ ولسوالی دچاناک او اوزبین ترمنځ غره کي دیر غلګروځواکونوپه بمبار کي دولس تنه ولسي هیو دوال شهیدان شوي دي .عیني شاهد ن وایې چي : شهیدان شوي کسان دجلفوزو دشکولوپه موخه غره ته ختلي ووچې دامریکایې الوتکوپه بمبارکي ټول شهیدان شول .

دسپتمبر په ۱۶مه دزابل ولایت دسیوري ولسوالی په کاټلي سیمه کي اربکیانوپو شپونکی د رمې څرولو پرمهال شهید کړی دی .

دسپتمبر په ۱۷ مه داشغالګروپه بمبار کي د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالی په موتي سیمه کي یو ملکي وګړی شهیدشوی اودوه تنه ژوبل شوي دي .

دسپتمبر په ۱۸ مه یرغلګرو ځواکونودشپنیوعملیاتو په لړ کي د پکتیکا ولایت د نکه ولسوالی په صدقو او توري خیل سیمو چاپې وهلې،خنګوته یې دتلاشی پرمهال مالي زیانونه اړولي اویه اخر کي یې پنځه تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي او دوه نفره یې بندیان کړي دي .

دسپتمبر په ۱۸ مه دهرات ولایت د رباط سنګي ولسوالی په مربوطاتو کي دکورنیو عسکروپه ډزو کي یوه ښځه او یوماشوم شهید شوی دی .

دسپټمبر په ۲۱مه دهلمندولایت د مرکز (لشکرګاه) د خوشکاوې د دربار په سیمه کې نیواکګرو ځواکونودداخلي عسکروپه ملتیاچاپه وهلې،دچاپې پرمهال یې دوه تنه ولسي هیوادو ل (عبدالصمد ومحمدرسول)له خپلو کورنو څخه را یستلي اوشهیدان کړي دي،د عیني شاهدانوپه ویناپرغلګروورو سته دشهیدانوجسدونه سوځولي هم وو.

دسپټمبر په ۲۲مه د خوست ولایت د باک ولسوالي په انار کلي کې دکورنیو عسکرودهاوان په ډزوکې پنځه کسه ملکي هیوادوال دښځوپه شمول شهیدان شوي دي .

دسپټمبر په ۲۴مه دکندهارولایت د ارغستان ولسوالي په شګو ګودر سیمه کې داخلي عسکرو یوسپین ږیری کلیوال شهید کړی دی .

دسپټمبر په ۲۴مه اشغالګرو دکونړ ولایت د غازي اباد ولسوالي په هیل ګل ګردو سیمه کې پر یوه مدرسه بمبار کې یوطالب شهید کړی دی .

دسپټمبر په ۲۵ مه دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالي په بازار کې ځایې اربکیانودوه تنه ولسي وګړي (پلار اوزوی)دخلګو په مخ کې شهیدان کړي دي .

دسپټمبر په ۲۵مه د غزني ولایت مرکزته څېرمه شهباز سیمه کې ځایې عسکرو دشلګر ولسوالي یو کیوال (محمدطاهر)چې دسودالپاره بنار ته راغلې ؤشهید کړی دی .

دسپټمبر په ۲۷مه دزابل ولایت د ارغنداب ولسوالي په شیرواني کلي کې دداخلي عسکرودهاوان په برید کې یوملکي سړی شهید شوی دی .

دسپټمبر په ۲۷ مه د ننګرهار ولایت د رودات ولسوالي په بړو سیمه کې دیرغلګرو ځواکونو په ډرون حمله کې دوې ښځې شهیداني شوي اویوماشوم ژوبل شوی دی .

دسپټمبر په ۲۹مه دهلمندولایت د کجکي ولسوالي دګندم ریز بازار په سیمه کې نیو ګګرو ځواکونوچاپه وهلې،دخلګو ۱۲۰ دوکانونه یې سوځولي اوددغه بازار جامع مسجد یې په بمونو الوزولی دی، همدا راز یرغلګرو پردغه باز ړه بمبار کې دیوې ښځې او ماشوم په شمول دولس تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي هم دي .

دسپټمبر په ۳۰مه یرغلګرو دهلمندولایت د ګرشک ولسوالي په میرمندو سیمه باندې چاپه وهې، وروسته یې پرسیمه بمبار کړی چې څلور تنه ولسي وګړي پکې شهیدان شوي دي .

دسپټمبرپه ۳۰مه دډایه کندي ولایت داجرستان ولسوالي دعباس خپلو پرسیمې داخلي عسکروبرید کړی ، دتلاشۍ اوعمیاتو په پلمه یې دخلګو پیسې ، دښځوګېنې اونور قیمتي شیان وړي ، کورونواوفصلونو ته یې،ورونه اچولي اوحیوانان یې وژلي دي ،تردې یوه ورځ مخکې پرسیمه دیرغلګرو ځواکونوپه بمبار کې هم خلګوته ځاني اومالي زیانونه اوښتي دي .

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک =،خبریال ویبپاڼه ،لراوبر = ،نن ټکی اسیا=خبرپاڼه = اوبینوا=]

ددعوت ،ارشاد، جلب اوجذب کمیسیون

دسپتمبرد میاشتي راپور

دروان(۲۰۱۴م)کال دسپتمبر په میاشت کي هم دتبرومیاشتوپه شان داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون په هڅواودځايي مجاهدینوپه ملاترډافغانستان په مختلفوولایاتوکي ۳۳۹تنه چي دکابل اداري اړوندبیلابیلوارګانونوکي په کاربوخت وو دحقایقوپه درک کولوددغه فاسداوګډاګي رژیم څخه راووتل اوداسلامي امارت دمجاهدینوسره یوځای شول.

ګرانولوستونکوداهم دتسلیم شووکسانوتفصیلي میاشتني ارقام :

پکتیا: ۴تنه عسکر

کندوز:۱تنه عسکر

ننګرهار:۹۸تنه عسکر

بغلان: ۷ تنه عسکر

کونړ:۴ تنه عسکر

پروان: ۲تنه عسکر

جوزجان:۱۸تنه عسکر

لغمان: ۱۳تنه عسکر

بلخ: ۱۱ تنه عسکر

سرپل: ۸۰ تنه عسکر

زابل: ۱۵۰تنه عسکر

کندهار: ۱۰تنه عسکر

غزني:۴ تنه عسکر

هلمند: ۲۲تنه عسکر

فراه: ۵ تنه عسکر

فاریاب:۲۰تنه عسکر

ارزګان: ۳ تنه عسکر

اوپه هرات ولایت کي ۳تنه بااحساسه عسکر اومنسوبین داسلامي امارت داتلومجاهدینوسره یوځای شول بادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لوبي اووړي وسلې ،مخابرې ،وسایط اویوزیات شمېرمهمات مجاهدینوته وسپارل.

دکښل دمنفورړژیم څخه راجلاشوواوداسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شووهیوادوالووعده وکړه چي نوربه دخپل ددین اووطن دخرجي اوداخلي مزدورانوسره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینوورونوسره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زمونږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق ،،اشغال ،فحشاءاوګمراهیو کرغیړن تغرتول کړي اودمسلمانانودخوښي یوسوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چي دټول افغانان پرې راټول شي

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب او جذب کمیسیون مشرت به دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړي اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چي دیرغلګروا ولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیواد څخه دوحشي یرغلګرودشړلواوداسلامي اوملي نظام درامنځته کولوپه موخه دران سپېڅلی مقاومت په لړکي دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅې هم ګړندی کړي دي داسلامي امارت غښتلي مجاهدین دپراخوپوځي لاسته راوړنو څخه علاوه هره میاشت دهیواد په بیلابیلوولایتونواوولسوالیوکي ددعوت اوارشاد کمیسیون په هڅولکه پورته چي ذکرشول دکښل اداري څخه په سلهاووتنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیړي ته پناراوړي.

دعوت اوارشاد کمیسیون

مجاهد وروره السلام علیکم ! الله دې مجاهدین کامیاب کړي او کفاروته دې ذلت ورپه برخه کړي ،ګرانه وروره زما له تاسو نه داسوال دی،چې ، ان شاءالله لري نه ده که اسلامي امارت یوځل بیا په افغانستان کې کامیاب شي، نو تاسو به له هغو خلکو اوجهادي مشرانو سره څه معامله کوي چاچې له جهادنه ډډه وکړه او له کفارو سره ودریدل ؟

ځواب-وروره ستاسو دسوال په اړه دومره ویلای شم ،چې موږ به هرچاسره هغه څه کوو چې مقدس اسلام یې راته حکم کوی، موږ چون دخدای جل جلاله بندګان یو او پخپل سر هیڅ تصمیم نشو نیولای ،ټولې پریکړې او فیصلې به مو دهرچا په وړاندې دمقدس شریعت په رڼاکې ترسره کیږي نو ځکه هرمسلمان افغان ته ډاډ ورکوو ، چې په حق کې به یې ظلم نه کیږي چې دالله تعالی حکمونه په ځان عملی کړو ، نوربه په هیڅ ځای کې هم څه مشکل نه پیښیږي او که څوک خدای مکړه دخدای نظام ته غاړه نه ږدي، نو واضح خبره ده چې پرموږ یې هم مقابله واجب ده، او دالله حکم په تعمیل کې موږ مجبوریو چې ټوله سعي او کوښښ وکړو ، که غواړو او که نه دخدای قانون ته به غاړه ږدو. مننه

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

دا کوم بي ګناه ملکي خلک چې په بمونو او انتحاريو کې وړل کيږي فکر نه کوئ چې دا به يو لوی جنايت وي او ددې جواب به تاسو کې څوک الله تعالی ته ورکوي؟

ځواب ـ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته بلې منم چې دملکي خلکو وژل که هرڅوک وکړي دمنلو نه ده ، خو يو دملکي خلکو په ريښتيا وژل دي او يو ددښمن لخوا تبليغات دي ، تاسو پوهيږي چې اوسنی جګړه يو داسي جګړه ده چې عموما دبارودو نه پکې کار اخيستل کيږي نو دا تضمين هيڅوک نشي کولای چې ملکي خلک دې هيڅ تلفات ونه وينې ،بلکې په بيلابيلو عملياتو کې د ددښمن ترڅنګ کله ناکله ملکي خلک هم زيانمن کيږي دا يو واقعيت ده ، خو داخبره چې هغه ملکي خلک چې خدای مکړه کله کله دمجاهدينو په برید ونو کې په شهادت ورسيږي نو په باورسره درته ويلای شم چې هغه خلک په قصد نه وژل کيږي بلکې يا تخنيکي ستونځې او کله دهدف خطا کيدل ددې باعث شي چې داسي پيښې منځ ته راوړي ، ددې کار دبنديدو لپاره هم عاليقدر امير المؤمنين په خاصه توجه سره ټولو مجاهدينو ته دملکي خلک سره دپوره احتياط امرکړي او دتير اختر په پيغام کې يې په خورا جدي توګه مجاهدين مامورکړي چې په خپلو عملياتو کې د ملکي خلکو ژوند ته خاصه توجه وکړي ،اوهم داسلامي امارت په لائحه کي په دې اړه دخورازيات احتياط تاکيد شوي نو په ډاډ ويلای شم چې دمجاهدينو لخوا دملکي خلکو دمرګ ژوبلې لپاره کامله توجه شته ، افغان ملکيان زمونږ خپلو وروڼه او خويندې دي چې په وژلو سره يې مونږ هم خپل خلک له لاسه ورکوو او پرې خوابدي کيږو ، بل خوا تاسو جناب بايد يو ټکي ته متوجه وي چې اکثره وخت ماتې خورلی ، ناترسه او ظالم دښمن هم دملکي خلکو په وژنه کې خاص لاس اورول لری چې غواړي له دې لارې نه مجاهدين بدنامه کړي ، لکه په دا وروستيو کې تاسو دارزګان او هلمند په ولايتونو کې هغه هدفي چاودنې وليدې چې دملکي خلکو په موټر وشوې او هغه په داسي ځايو نو کې شوي دي چې هلته هيڅ اړتيا نشته چې مجاهدين ماينونه ځای په ځای کړي ، داسې عمل امريکايي عسکرو دکندهار دپنجوايي له پيښې نه دتوجه اړولو لپاره دهغې پيښې نه متصل ترسره کړ، خو ځينې مغرضې رسنۍ چې ژرنده بې له بهرنيو منابعونه چليږي هغو دحقايقو په خپرولو کې سترګې پټې کړې او زمونږ غربي کوشش وکړ چې چوپ وي ،بس په دې يې اکتفا وکړه چې محلي چارواکي وايي چې داکار دمخالفو وسلوالو ده !!!، اوډيرځله داسی پيښږي چې کله مجاهدين په دښمن برید وکړي بيادښمن بي توپيره ډزي کوی چې دهغوډزولـه آمـلـه زمـونږملکی کسـانوته مـرګ ژوبلـه اوړی نـو سـتاپه ګـډون لـه ټولـو

هیوادوالو هیله کوم چې په دې ځای ښه پوه شي چې دیو بی ګناه مسلمان وژنه لوی جرم ده له نوروخلکو مخکې دا سلامی امارت مجاهدین اومسئولین چې په شریعت باندې تربل هرچا ښه پوهیږي دې ټکې ته ښه متوجه دي او زمونږ مبارزه هم دیو دیني هدف او لارښود له مخې پرمخ ځي نو تاسو باید یقین ولري چې په اکثرو داسي پیښو کې مجاهدین نه بلکې زمونږ بهرني او کورني دښمنان لاس لري او صرف دمجاهدینو دبدنامی دهڅې لپاره له دې کار نه ګټه اخلي. له هر څه نه مخکې ټولو هیوادوالو ته خصوصا هغه مجاهدینو وروڼو ته سي اوس هم دالله په لار کي دسنګر شپې او ورځي تیروي او بالخصوص ذبیح الله مجاهد وروڼو ته چې له نورو مصروفیتونو سره سره دخپلو مسلمانانو وروڼو پوښتنو ته جوابونه وایي >دزړه له کومي سلامونه او نیکي هیلي وړاندي کوم.

بعد له سلامه غواړم دیو مجاهد په صفت یو څو نیکي مشوري درکړم دمجاهدینو دلا پیاوړتیا په باره کي او یوه پوښتنه چې خورا زیاته ضرور یې بولم ستاسي په حضور کي وړاندي کړم. تر څو د هغې جواب راکړی.

۱ -چونکه عام وطنوال دجهاد له فضیلت او اجر نه نا خبره یي ، نو مجاهدین باید له دوی سره له ډیري نرمي او حوصلي نه کار واخلي نه دا چې په زوره دیوه دا سي کارطمعه ترینه وکي چې هغه په حقیقت کي خو به ډیر اجر لري خو ولي هغه به یي داجر نه نا خبره یي او ددي په ځای چې دهغه له جهاد سره مینه پیدا سي کرکه به یي ورسره پیدا سي.

۲ -چونکه کشران اکثره له جذباتو کار اخلي نو باید په داسي وخت کي چې خدای ج مکړه کومه ستونزه له عامو کلیوالو سره راغلي وي باید کشران ورته مخي ته نه کړل سي .ځکه دا عمل په مشرانو ډیر بد تاثیر کوي.

۳ -چونکه تقوی او پرهیزګاري د جهاد لپاره شرط ده . او بغیر تقوی او دجهاد له پیژندني جهاد نه بلکه یو جنګ ده چې دجنګ کول له مسلمان سره نه ښایي. نو په همدي بناء باید له هري ډلګی او له هر ګروپ سره یو دا سي مربي او معلم یي تر څو د خپلو افرادو توجه صرف او صرف تقوی او جهاد في سبیل الله ته وګرځوي.

۴ -د عامو خلکو دجهاد سره اشناکول او دجهاد طرف ته ترغیب ورکول تر څو یو طرف ته خلک دمجاهدینو صفو ته راشي او بل طرف ته د دشمن له دي نوي چال نه مجاهدین په

امان کي شي .چي له هغي نه مي مطلب داربکيانو جوړول دي. او دا په هغه صورت کي کيږي چي په جمعه کي اقلاً دوه ځله په جومات کي دجهاد په باره کي تقرير وشي.

۵ -ددې په ځای چي مجاهدين په فارغ وقت کي په ګپ شپ يا صرف په ترانو اوريدلو انحصار وکي بايد دقرآن کريم تلاوت او ديني کتابو طرف ته متوجه شي.

هيله ده دا نقطي څوک په خپل ځان وانه خلي ځکه دا ما بحيثيت يو مسلمان مجاهد ديوي نيکي مشوري په خاطر خپلو مجاهدو وطنوالو ته کړي.

او زما صرف يوه پوښتنه داده چي ولي مشران مجاهدين دي يوي مسئلي ته بالکل توجه نه ورکوي چي خورا زيات ضرورت يي دی.

د مهر (ولور) مسئله!

چي دا يوه غټه او مهمه مسئله ده >په جنوبي ولايتونوکي لکه قندهار،ارزګان،زابل، غزنی او داسي نور.... ځکه يو خوا غربت زورنيولی او بلي خوا ته ولور تر ۱۲ لکه کلدارو زيات دی.

دا صحيح خبره ده چي په ولور کي څه ګناه نشته د دواړو کورنيو دجوړي خبرده چي څومره مهر ټاکي خو ولي متاسفانه چي دلته ټول کارونه رواجي دي نو که مالدار زيات مهر ورکوي غريب به هم همدغومره مهر ته غاړه ږدي کني واده نشتنه دغريب په قسمت کي.

نو زما پوښتنه همدغه ده چي ولي مجاهدين په دي باره کي خاموش دي حال دا که چيرته اعلان وکړي او يو مقرر مقدار کيږدي دمهر نو ټول غريب وطنوال به له دي غټ مصيبت نه خلاص شي .او بله خبره دا چي خپله خلک هم همد غي ته خوشحاله دي، چي مجاهدين دغه اعلان وکړي خو ولي له رواج نه مجبوره دي چي نه يي شي کولای.

دجواب په هيله (نيازی)

ځواب- محترم ورور نيازی صيب ! ستاسو نيکي مشوري بالکل دتاييد او منلو وړدي ،خو له نيکه مرغه اسلامی امارت په خپلو لارښونو او جهادي لائحه کي همداټکو

ته په يوه نوعه اشاره کړې چې بايد عملي کړل شي او د دعوت او ارشاد کميسيون يې دهمداسې لارښونو او دمجاهدينو داصلاح ساتلو په نيت په کار ګمارلی ده چې ان شاءالله ښې لاسته راوړنې او مثبتې نتيجې به له ځانه سره ولري، اوس هم غواړو کټ مټ ستاسو مشورې هم دمسئولينو او هم د افرادو لپاره نشر کړو ترڅو ټول هغه ورونه چې په جهادي مشترک صف کې خدمت کوي ترخپله وسه ستاسو نيکې مشورې په کلکه پام کې ونيسي او په خپل ځان او ماتحت باندې يې عملي کړي.

دا چې تاسو غوښتنه کړې چې په هيواد کې دمهر دلوړوالي په اړه اسلامی امارت ولې څه نه کوي ؟ نو دومره ويلای شم چې کوم شي ته چې زموږ او ستاسو خلک ولوروايي هغه شرعی مهر ده او په شرعی مهرکې يوه انجلی يا دهغې ولي شرعا دا اختيار لري چې هرڅومره مهر غواړي اخيستلای يې شي ،او په دې کار کې هيڅوک هم دهغو په تصميم کې مداخله نشي کولای ، که هغه امير وي که مامور يا بل څوک هيڅوک هم حق نلري چې په هغو جبرا يوه خبره ومنې چې دومره واخله او دومره مه اخله ! پاتې شوه دا خبره چې دخير په نيت مشوره ورکولای شي چې بايد په مهرکې هره مسلمانه خور او دهغې وکيل دخپلو خلکو ضرورتونه په پام کې ونيسي او داسې کار وکړي چې سبا ورځ ددواړو دوستانو کورنيو ترمنځ د خپلولی د لا پياوړتيا او صميميت سبب وګرځي ، هره مسلمانه خور او دهغوی مور اوپلار بايد دخپلو خلکو محتاجی او غربت په نظر کې ونيسي دبې ځايه اصرافونو لپاره درانه مهرونه تعين نکړي چې له هرچا ډير ددغې خور راتلونکی خاوند ډير ځوروي بلکې يوه مناسبه اندازه چې دمقابل جانب ترقدرت او توان لاندې وي تعين کړي ، نو په دې برخه کې ان شاءالله داسلامی امارت مسئولين هم لکه د هيوادنور سپين ږيري او مشران ،علماء او د نفوذ خاوندانو غوندې دنيکو مشوره ورکولای شي خو په دې کار کې شرعا امر نشي کولای ځکه دمهر تاکل ديوې مسلمانې خور حق ده او هغه چې هرڅومره غواړي خپل اختيار لري . اسلامی امارت به کوشش وکړي چې دخير دمشورو او دنصيحت په دود په دې برخه کې کار وکړي.

مننه

شهيدي قافلې

د محترم شهید رفیق الله یاد

محترم شهید رفیق الله چې د ملا حاجي عبدالله خان زوی او د رحمت خان لمسی د پکتیاولایت د جاني خیلو والسوالۍ د میرو خیلو د کلې اوسیدونکی، نومورې شهید د منګلو دیاري خیلو څخه و ،شل کاله مخکې په یوه دیندار ه کورنۍ کښې زیږدلی و ، نومورې د ښو اخلاقو او غوره صفاتو خاوند و ، دده د مشرورو (سخی بت خان) په وینا چې(رفیق الله) ته مونږ څو ځله وویل :چې وظیفه پریږده او پدې مو ورته ډیر اصرار هم کاوه ، خو محترم شهید به ویل، ((چې زما یو هدف دی، چې کله هغه هدف پوره کړم بیا به ګورو !)) داچې دا هدف یې رانه تر هغې پورې پټ وساته ،ترڅو چې پرې بریالی او خپل منزل مقصود ته ورسید ،دنومورې هغه فطنت ، تدبیر او ځیرکتیا وه ،چې اوس مونږ او ټول مسلمان ولس ته یې پایلې رابرسیره کیږي ،شهید رفیق الله به ډیر دا ویل:چې دامریکایانو او نورو کفارو څخه مې پدې سخته کرکه او نفرت راځي، چې قرآنکریم یې سوځولی دی او..... ،شهید رفیق الله ۲۷ میاشتې د کابل دقرغې په لویه فرقه کې وظیفه ترسره کوله، په خپله وظیفه کې یې ډیره پابندي کوله ، په همدې وجه د ګارد زون پنجشیري قوماندان باندې ډیر ګران و ، له امله یې رفیق الله باندې ډیر اعتماد درلود او بل ځای ته به یې هم نه تبدیلاوه،(سخی مت خان)وایي: چې درفیق الله له شهادت نه وروسته دده یو ملګری چې دده سره یې دوه کاله وظیفه په یوه ځای اجراءکړی وه ،او دده په فراق ډیر غمژن و ، د تلیفون په ذریعه راته و ویل: چې درفیق الله په برید کې امریکایي جنرال مړ،دوه نښینه پوځیانې ، دوه داخلي او خارجي جنرالان سخت زخمیان شول او څلور دقیقو پورې دوئ ته معلومات نه و ، چې فیرونه له کوې غرفې نه کیږي ، له ډیر جنګ څخه وروسته رفیق الله د شهادت لورمقام ته ورسید .اوښه یې خپل زړه په غلیمانو یخ کړ او د قرآن د سوځیدو انتقام یې تر ې واخست !

روح یې ښاد اولاره رنه !

د(۲۰۱۴ز) کال دسپتمبر دمیاشتې جهادي خبرونه

کارنامې

(عرفان الله عرفانی)

چې دچاپسې راونغاړمه متې

بیایې باسم له ریښوسره هم څټې

چې په خوله وایم هم داسې مې عمل دی

نه کوم دچاپه څېرخبرې غټې

په اغیاروکې مې زړونه ورخوږین کړي

کارنامې مې دي معلومې نه دي پټې

مقابله مې چې پرکوم ډګرچاکړې

امبارکړي ماپه ډېرو درنې کټې

دوحشت کلاوې مادي نړولې

چې وې جوړې چاله خښتوچاختې

عرفاني دتاریخ پانې دي پرې ډکې

دجنګونومې لرې وګورئ کېستې

کندهار

خاکریزکې له دښمن سره ښښته وشوه

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند د اشتر ګردن په سیمه کې دمزدوري اردو په عسکرو وسلوال بریدترسره شو چې له املې یې ددښمن عسکر خپلو پوستو ته وتښتېدل. ۲۰۱۴/۹/۱

یولدک کې رینجرویجار ۶سرحدي عسکرووژل شول

د کندهار ولایت د بولدک ولسوالۍ اړوند د سرکار ویالې په سیمه کې دموسسې پر سرک داجیرو سرحدي عسکرو رینجر د ماین ښکار شو،په چاودنه کې موټر ویجار او ۶تنه سرحدي عسکر ووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۱

شورابک کې جلاپښو کې ۳عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د شورابک ولسوالۍ اړوند د سعید نیکه په سیمه کې ددښمن په پلې ګزمه وسلوال بریدترسره شو چې په مهال یې دوه تنه سرحدي عسکر ووژل شول،وروسته دبرید ځای ته په نژدې پوسته وسلوال بریدترسره شو چې له املې یې یوتن بل اجیر عسکر ووژل شو. ۲۰۱۴/۹/۲

خاکریزکې په پوسته وسلوال برید شوی

د کندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د ساګې په سیمه کې د ګوداګیو عسکرو په پوسته وسلوال بریدترسره شو،په برید کې دښمن ته داوښتو تلفاتو کره شمېره نه ده ترلاسه شوې. ۲/۹/۲۰۱۴

دامان ددښمن سرف موټر دماین ښکار شو

د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ مرکز ته څېرمه د اجیرو پولیسو په سرف دوله موټر دتکتیکي ماین چاودنه وشوه،په چاودنه کې موټرپوره ویجار اوپکې ناستوپولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲/۹/۲۰۱۴

میوندکې د ګوداګیانو رینجر دماین ښکار شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د خاک چوپان په سیمه کې داجیرو عسکرو رینجر موټر په ماین والوزول شو،په چاودنه کې رینجر له منځه لاړ او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته ۲۰۱۴/۹/۳

ارغنداب کې ۶ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند دسیاه درې په سیمه کې په هغه ګوداګیو عسکرو چې درینجر موټر مخې ته پلي روان وو،دماین چاودنه وشوه او بیا تر بریدلاندې راغلل. دبریداوچاودنې له املې ۶ تنه ګوداګیو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴/۹/۳

شورابک کې په رینجرچاودنې ۵ سرحدي عسکرووژل

د کندهار ولایت د شورابک ولسوالۍ اړوند د سروچاهانو په سیمه کې دونو دقرارګاه داجیرو سرحدي عسکرو په رینجرموټر چاودنه وشوه،چاودنې رینجر ویجار او ۵ تنه سرحدي عسکر ووژل. ۲۰۱۴/۹/۳

خاکریزکې اشغالګرو ۵ کلیوال بندیان کړل

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ اړوند دلام له سیمې څخه هغه اشغالګر چې سیمې ته دچورلکو په توسط دعملیاتوپه موخه راغلي وو، وتښتیدل او د ټبښتي په مهال یې ۵ تنه کلیوال دبندیانوپه توګه بوتلل. ۳/۹/۲۰۱۴

ژړۍ کې ماین د ۲ ګوداګیو عسکرو ژوندۍ اخست

د کندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ اړوند د سنزرۍ په سیمه کې داجیرۍ اردو په پلې ګزمه دویشتونکي ماین چاودنه وشوه چې له املې یې ۲ تنه اجیرعسکر ووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۳

شورابک کې دښمن خپله یومهمه پوسته تخلیه کړه

د کندهار ولایت د شورابک ولسوالۍ اړوند د سعیدنیکه په سیمه کې دښمن خپله هغه مهمه پوسته چې وخت په وخت به دمجاهدینو تر کلکو ګوزارونو لاندې وه تخلیه

کړه اوټول عسکریې وتښتیدل. خبروایي تر تیښتي یوه ورځ وړاندي دیادي پوستې ۳ تنه عسکر په جلاپېښو کې ووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۳

غورک کې ۲ اربکیان قتل ۱ ټپي شو

دکندهارولایت دغورک ولسوالۍ اړوند دبارم او شاکاریز ترمابین داربکیانو په موټرسایکل دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټرسایکل ویجاړ، ۲ تنه اربکیان مړه اویوبل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۴/۹/۴

میوندپه جګړه کې ددښمن یوه شوبله ویجاړه شوه

دکندهارولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند دمندوزو دلونګین بابا په سیمه کې ددښمن په هغه عسکرو بریدوشو چې سیمي ته دعملیاتو لپاره راغلي وو، دبرید په مهال یوه شوبله پوره ویجاړه اوپکې ناستوعسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او بالاخره ددښمن عسکر و دتیښتي لاره غوره کړه ،په جګړه کې یوتن مجاهد زخمي شو. ۲۰۱۴/۹/۴

میوندکې ۴ عسکر قتل شوبله یې ویجاړه شوه

دکندهارولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند دمندوزو په سیمه کې دهغو مزدورو عسکرو چې دتیښتي په حال کې وو،یوه بله شوبله په ماین والوزول شوه، په چاودنه کې شوبله ویجاړه اوپکې ناست ۴ تنه اجیرعسکرووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۴

میوندکې یواجیرعسکرپه درازکوف وویشتل شو

دکندهارولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند دمندوزو په سیمه کې دمزدوري اردو یوتن عسکر دمجاهدینوله لوري ددرازکوف په توسط وویشتل شو اوووژل شو. ۲۰۱۴/۹/۴

شاولیکوټ کې په رینجرچاودني قومندان اوګڼ اربکیان ووژل

دکندهارولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ اړوند دپایاؤ کاریز په سیمه کې داربکیانو په رینجرموټر دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر پوره ویجاړ او دقومندان توریالي په شمول په موټر کې ناست اربکیان ووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۴

ارغستان کې په پوسته برید ۳عسکر قتل ۵ ژوبل شول

دکندهارولایت دارغستان ولسوالۍ اړوند دهامندي په سیمه کې داجیرو سرحدي عسکرو په پوسته وسلوال بریدترسره شو،دبرید په مهال ۳ تنه عسکر قتل او ۵ نورسخت ژوبل شول،په جګړه کې یوتن مجاهد دشهادت لوړمقام ته ورسید ، اناالله وانااليه راجعون. ۲۰۱۴/۹/۴

کندهارښار کې چاودني ۲پولیس قتل رینجرویجاړ کړ

دکندهارولایت دمرکز کندهارښار دکندهارښار د لسمي امنیتي حوزې اړوند پیروکلاچه په سیمه کې داجیروپولیسو په رینجر دماین چاودنه وشوه،دچاودني له امله رینجر ویجاړ ۲ تنه اجیرپولیس مړه او ګڼ نورسخت ژوبل کړل. ۲۰۱۴/۹/۴

بولدک کې چاودني ۲سرحدي عسکرووژل

دکندهارولایت دبولدک ولسوالۍ اړوند دسرکار ویالي په سیمه کې دموسسې پرسړک دماین چاودنه وشوه،دچاودني له امله موټرسایکل ویجاړ او ۲ تنه سرحدي عسکرووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۵

نېښ کې ماین یواربکی قتل بل سخت ټپي کړ

دکندهارولایت دنېښ ولسوالۍ اړوند دده نور په سیمه کې داربکیانو په پلډر موټر دماین چاودنه وشوه،په چاودنه کې ټانک تخریب یو اربکی (عبدالواحد) مړ اویوبل ملګری یې سخت ژوبل شو. ۲۰۱۴/۹/۵

میوندکې په پوستو بریدشوی ،یوعسکرپه درازکوف ویشتل

دکندهارولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند دبند تیمور دمکتب په سیمه کې ددښمن په ګڼو پوستو وسلوال بریدونه ترسره شول چې په مهال یې دښمن ته تلفات

واوښتل، همدارازپه سيمه کې ددښمن يو تن ماين پيدا کونکی عسکر ددرازکوف په توسط وويشتل شو. ۲۰۱۴/۹/۵

ميوندکې شوبله دماين ښکار شوه

دکندهارولايت د ميوند ولسوالي اړوند د ميا کاريز او شيرعلي کاريز ترمابين دمزدوري اردويوه شوبله په ماين والوزول شوه، په چاودنه کې شوبله وبجاړه اوپکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴/۹/۵

خاکريز کې په پوسته وسلوال بريدترسره شو

دکندهارولايت د خاکريز ولسوالي اړوند د ناصرو په سيمه کې دمزدوري اردو په يوه امنيتي پوسته بريدترسره شو، په بريد کې دښمن ته تلفات واوښتل خوکره شمېره يې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۴/۹/۵

خاکريزکې عسکرقتل موټرسايکل يې غنيمت شو

دکندهارولايت د خاکريز ولسوالي مرکز ته څېرمه يوتن اجيرعسکر دمجاهدينولەلوري دوسلوال بريدپه پايله کې ووژل شو اوموټرسايکل يې غنيمت شو، وروسته دپېښې ځای ته نور عسکر هم راورسيدل چې جګړه ورسره وشوه اوپه مهال يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۴/۹/۵

ميوندکې فدايي بريد دښمن ته مرانه تلفات واړول

دکندهار ولايت ميوند ولسوالي اړوند د تورواوبو پوستې ته څېرمه داشغالګرواوګوداګيو عسکروپه موټريز کاروان دفدايي مجاهد (سميع الله) لەلوري دټونس موټر په توسط فدايي بريدترسره شو، په بريد کې داجير دښمن ۲ عرادې رينجر موټر اوبه کرولاپوره وبجاړ شول اوپکې ناست عسکر ټول ووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۵

ارغستان کې خپل منځي بريدکې اعسکر قتل پل ټپي شو

دکندهارولايت د ارغستان ولسوالي اړوند د امين کلا په سيمه کې دسرحدي عسکروپه پوسته کې دعسکرو ترمنځ نښته وشوه چې په مهال يې يوتن عسکر قتل اويوبل سخت ژوبل شو. همدارازيادي سيمې ته څېرمه دمغلګيانو دپوستې قومندان (ورور اغا) لەخپل يوه رينجر موټر اويوه اندازه افغانيو سره دنامعلوم لوري په خواوتښتېد او دټېښتې په مهال يې يو عسکرپه موټر وواهه او مرګونی يې ټپي کړ. ۲۰۱۴/۹/۵

معروف کې ددښمن په قرارګاه وسلوال بريدترسره شو

دکندهارولايت د معروف ولسوالي اړوند د اعلی جرګې په سيمه کې داجيرو سرحدي عسکروپه قرارګاه بريدترسره شو، په بريدک ددښمن ته داوښتي زيان جزئيات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴/۹/۵

شاوليکوټ کې ددښمن يوه پوسته فتح شوه

دکندهارولايت د شاوليکوټ ولسوالي اړوند د ولي په سيمه کې دګوداګيو عسکروپه پوسته بريدترسره شو، پوسته دعسکرو لېرمقاومت وروسته فتحه شوه او عسکر په تېښته بريالي شول. ۲۰۱۴/۹/۵

شورابک ځېرګو چاودنو ۵ سرحدي عسکرووژل

دکندهار ولايت د شورابک ولسوالي د ردو په سيمه کې د قلم او تورغا دقرارګاؤ ترمابين په ماين پاکونکو عسکرو چاودنه وشوه، وروسته په هغو عسکرو بله چاودنه وشوه چې سيمې ته راورسېدل، ددواړو چاودنو له امله ۵ تنه اجيرسرحدي عسکر ووژل شول. ۲۰۱۴/۹/۵

ارغنداب کې ځېرګو چاودنو ۲ اربکيان قتل اټپي کړ

دکندهارولايت د ارغنداب ولسوالي اړوند د ژوندو هديرې په سيمه کې دقومندان سيد محمد په اربکيانو ځېرګې چاودنې وشوې چې له امله يې دوه تنه اربکيان مړه اويوبل سخت ټپي شو. ۲۰۱۴/۹/۶

میوندکې په پوستو برید ۳ ګوډاګي عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د بند تیمور دیبانک په سیمه کې د اجیر دښمن په ګڼ شمېر امنیتي پوستو برید نه ترسره شول. په بریدونو کې پوسته زیانمنې او ۳ تنه عسکر ووژل شول، همدارازد دمکتب په سیمه کې د دښمن په پوستو برید ونه ترسره شول خو په بریدونو کې د دښمن د اوښتې مرګ ژوبلې معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴/۹/۶

شورابک کې په قرارګاه برید اوړینجر چاودنه وشوه

د کندهار ولایت د شورابک ولسوالۍ اړوند د سروچاهانو په سیمه کې د اجیرو سرحدي عسکرو په قرارګاه وسلوال برید ترسره شو. په برید کې د دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. دغه راز تر دې یوه ورځ وړاندې د دې قرارګاه یو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې رینجر ویجاړ او په کې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴/۹/۶

میوند جلاپېښو کې ۳ عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د خاص میوند او پیر کلا په سیمو کې د دښمن په ۲ پوستو د سپکو اودرنو وسلو برید ترسره شو چې په مهال یې ۲ تنه اجیر عسکر ووژل شول. دغه راز د شنه سړک په سیمه کې یو تن اجیر عسکر د مجاهدینو له لوري په وسلوال برید کې ووژل شو. ۲۰۱۴/۹/۶

کندهار بنار کې تکتیکي چاودنې ۳ پولیس قتل اتیې کړ

د کندهار ولایت د مرکز کندهار بنار اړوند د چوڼې په سیمه کې د اجیرو پولیسو په پلي ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې درې تنه اجیر پولیس مړه او یوبل سخت ټپي شو. ۲۰۱۴/۹/۶

میوندکې په جګړه کې د دښمن ۳ شوبلې ویجاړې شوې

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د ماما کریز ، شیر علي کاریز ، میاکاریز ، لونګین بابا او مندوزو دښت په سیمو کې د دښمن له هغو عسکرو سره سخته جګړه وښته چې د ژړې ، پنجوایي او میوند ولسوالۍ له مرکزنه د عملیاتو لپاره راغلي وو. د جګړې په مهال ۳ شوبلې ویجاړې شوې او ۸ تنو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. په دې سرېره یو عسکر د درازکوف په توسط وویشتل شو او ووژل شو. د جګړې په مهال د دښمن دهاوان په مرمي یو سپین ږیری کلیوال سخت زخمي شو. ۲۰۱۴/۹/۶

میوندکې رینجر ویجار ۱۱ عسکر قتل یوسخت ټپي شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د کوکي دښت په سیمه کې د اجیر دښمن یو رینجر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې رینجر ویجار ، ۱۱ تنه اجیر عسکر مړه او یوبل مرګونی ټپي شو. ۲۰۱۴/۹/۷

غورک چاودنې ۲ اجیر عسکر ژوبل کړل

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ اړوند د چینار په سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې دوه تنه اجیر عسکر سخت ژوبل شول. ۲۰۱۴/۹/۷

غورک کې ۳ ګوډاګیو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

ملیشه های اجیر اربکی در منطقهٔ کاریز زمان ولسوالی کشک کهنه ولایت هرات مورد حملهٔ مسلحانهٔ مجاهدین قرار گرفتند که در نتیجه یک قوماندان اربکی (عبدالحق) کشته شد و یک میل کلاشنکوف و چانته از وی بغنیمت مجاهدین در آمد. ۲۰۱۴/۹/۲۹

مرکز: یک صاحب منصب کشته شد

یک تن صاحب منصب اجیر در نزدیک پوستهٔ شمارهٔ یک شهر و مرکز ولایت هرات مورد حملهٔ چریکی مجاهدین قرار گرفته و کشته شد. ۲۰۱۴/۹/۲۹

شیندند: میدان هوایی مورد حملهٔ موشکی قرار گرفت

میدان هوایی ولسوالی شیندند ولایت هرات مورد حملهٔ موشکی مجاهدین قرار گرفت که دو موشک به داخل میدان اصابت نموده اند و اما از تلفات وارده بدشمن اطلاعی در دست نیست. ۲۰۱۴/۹/۳۰

مرکز: دو تن از محبوسین از محبس موفق بفرار شدند

محبوسین محبس مرکزی ولایت هرات موفق شدند که ۵۰ متر تونل را در مدت ۴ ماه با کامیابی حفر نمایند و دو تن از محبوسین که یکی محکوم به اعدام و دیگری محکوم به ۱۵ سال قید بودند، موفق بفرار شدند و اما ۸ تن دیگر از محبوسین متاسفانه موفق نشدند که فرار کنند و از سوی عساکر اجیر دستگیر شدند. ۲۰۱۴/۹/۲۹

ادرسکن: یک پوسته فتح. ۳ کشته و ۴ میل سلاح غنیمت گردیدند

یک پوستهٔ امنیتی دشمن در منطقهٔ تنگی ولسوالی ادرسکن ولایت هرات مورد حمله مسلحانهٔ مجاهدین قرار گرفت که در نتیجه پوسته دشمن کاملا فتح و ۳ تن عسکر اجیر در آن کشته شدند و ۴ میل کلاشنکوف و یک میل پیکا بغنیمت مجاهدین در آمده اند. ۲۰۱۴/۹/۳۰

کشک کهنه: یک اربکی طی انفجار بهلاکت رسید

ملیشه های اربکی در منطقهٔ گنج آباد مهمترین منطقهٔ اربکی ها در ولسوالی کشک کهنه ولایت هرات هدف انفجار ماین قرار گرفت که در نتیجه یک تن اربکی در اثر آن بهلاکت رسید. ۲۰۱۴/۹/۳۰

کرخ: یک عسکر اجیر طی انفجار مجروح شد

عساکر پیادهٔ دشمن اجیر در منطقهٔ مسجد چوبی ولسوالی کرخ ولایت هرات هدف انفجار ماین قرار گرفت که در نتیجه یک تن عسکر اجیر در اثر آن بشدت زخمی گردید. ۲۰۱۴/۹/۳۰

پکتیا

پکتیا مرکز ته نژدې یو پولیس ووژل شو

د پکتیا ولایت د مرکز گردیز په بازار کې یو پولیس وویشتل شو او خای په خای ووژل شو. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته څېرمه ماین رینجر وبجار او ۵ پولیس ووژل

د پکتیا ولایت مرکز گردیز ته نژدې په تیره سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر په بشپړه توګه وبجار شو او پکې ناست ۵ تنه پولیس ووژل شول. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته څېرمه چاودنې د ۳ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیا ولایت مرکز گردیز ته نژدې په رباط سیمه کې د بنخ کړل شوي ماین چاودنې د مزدوري اردو ۳ عسکر مړه او یو شمېر نور عسکر ټپیان کړل. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې د گډ دښمن په ګزمه برید. ۳ عسکر وته مرګ ژوبله ورښته

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په نیک نام سیمه کې د گډ دښمن په ګزمه وسلوالو برید ترسره شو، په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۰۹-۲۰۱۴-۰۲

زرمت کې پولیس په دراز کوټ قتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په هستوګنه سیمه کې یو پولیس په دراز کوټ په نښه او ووېشتل شو چې خای په خای ووژل شو. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته څېرمه ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز گردیز ته نژدې په زلو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه د دهشتګر برید ترسره شو چې په مهال

يې ۲ عسکر ووژل شول او ۱ رينجر تخريب شو. ۰۹-۰۳-۲۰۱۴ ۰۲

پکتيا مرکزته خبره چلوونکي ۲ پوليس ووژل

د پکتيا ولايت مرکز ګردیز ته نژدې سرحدي ليوا ته نژدې د سرحدي پوليسو په ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله يې ۲ پوليس ووژل شول. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

پتان کې اربکي ووژل شو او موټر سايکل يې غنيمت شو

د پکتيا ولايت د پتان ولسوالۍ په سلتکو سيمه کې يو اربکي ووژل شو او موټر سايکل يې مجاهدينو له ځان سره انتقال کړ. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

پکتيا مرکزته نژدې په کاروان برید. ۲ موټر تخريب او ۴ عسکر ووژل شول

د پکتيا ولايت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهيم خېلو سيمه کې د مزدوري اردو او پوليسو په موټريز کاروان برید ترسره شو. په برید کې ۴ عسکر مړه. ۲ نور سخت ژوبل شول او له دې علاوه ۲ رينجر موټر پوره تخريب شول. په جګړه کې ۱ مجاهد ټپي شو. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې په پوليسو برید. ۲ تنه ټپيان شول

د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ مرکز ته نژدې په زرګر ګودر سيمه کې په پوليسو برید ترسره شو. په برید کې ۲ پوليس ټپيان شول او نور ولسوالۍ ته وتښتېدل. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

پکتيا مرکزته نژدې د دښمن په کاروان برید وشو

د پکتيا ولايت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهيم خېلو سيمه کې د امريکايي عسکرو په کاروان برید ترسره شو چې په ترڅ کې يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې ۳ عسکر و ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتيا ولايت د لجه منګل ولسوالۍ په عمومي سرک د مزدوري اردو په عسکرو برید ترسره شو. دبرید په مهال ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو

د پکتيا ولايت د لجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ برید ترسره شو چې له امله يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۲ عسکر ووژل شول

د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ په پاي لوچو سيمه کې دوسلوال برید په مهال د مزدوري اردو ۲ عسکر ووژل شول او يو ۱ عسکر مرګونی ټپي شو. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

زرمت کې د اشغالګرو په ګزمه برید ترسره شو

د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ په سور کې سيمه کې د اشغالګرو عسکرو په ګزمه برید ترسره شو چې په مهال يې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

خاڅي ايوب کې اربکي قومندان نجيب ټپي شو

د پکتيا ولايت د خاڅي ايوب ولسوالۍ په حسن خېلو سيمه کې په اربکي قومندان نجيب برید وشو چې مرګونی ټپي شو. ۰۵-۰۹-۲۰۱۴

جاني خېلو ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو

د پکتيا ولايت د جاني خېلو ولسوالۍ په ودانۍ برید ترسره شو. په عيني وخت کې د ولسوالۍ ودانۍ ته نژدې د اربکيانو په پوسته هم برید وشو. په بریدونو کې دښمن ته د اوښتي زيان په هکله دقيق معلومات نشته. ۰۹-۰۳-۲۰۱۴ ۰۵

لجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ او ګزمه برید وشو

د پکتيا ولايت د لجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ او ورته نژدې سيمه کې د پوليسو په ګزمه برید ترسره شو. دبرید

په مهال دښمن ته درنه مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل. ۰۵-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې په رینجر چاودنې ۵ پولیس ووژل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په بنوزو سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پکې ناست ۵ تنه پولیس ووژل شول. ۰۵-۰۹-۲۰۱۴

خاڅي اریوب کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په خاڅي اریوب ولسوالۍ کې ۲ تنه عسکر (اسدالله او حکمران) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې د پولیسو رینجر په ماین والوت

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په تیره سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر مکمل تخریب شو او پولیسو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې په قول اردو میزایل وار شول

د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز کې په قول اردو ۵ میزایل وتوغول شول چې په تاکلي هدف ولګېدل او له املې یې دښمن ته زیان واوښت. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

خاڅي اریوب کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په خاڅي اریوب ولسوالۍ کې یو عسکر (خاڅي) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په برکت د اسلامي امارت له مخالفت نه په شا شو. نومورې خپل کلاشنکوف هم مجاهدینو ته تسلیم کړ. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې چاودنه او بریدکې ۲ پولیس ووژل

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالۍ د مچلغو په سرک د سرور کلا په سیمه کې په پولیسو چاودنه او بریدوشو. په چاودنه او بریدکې ۲ پولیسو ژوند له لاسه ورکړ او ګڼ نور ټپیان شول. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې ۲ پانګونه تخریب او ۶ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالۍ په اړونده سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه بریدتر سره شو. په بریدکې ۴ عسکر مړه او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. په دې سربېره ۲ زغروال پانګونه پوره تخریب شول. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې چاودنې ۵ ۴ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په مموزو سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه چاودنه وشوه. چاودنې ۴ عسکر مړه او ۲ نور عسکر مرګونې ټپیان کړل. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې ماین ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالۍ اړوند په خابن منصور زیارت سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه درنه چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې د مزدوري اردو په ګزمه بریدوشو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په سور کې سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه بریدتر سره شو چې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په احمدابا ولسوالۍ کې یو عسکر (حبیب ګل) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په سور کې سیمه کې د مزدوري اردو ګزمه تر بریدلاندې راغله. په بریدکې ۴ عسکر مړه او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۱ اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې یو اربکی د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې ۳ عسکر له وسلو او ۲ موټرانو سره ونیول شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په نیستي کوټر سیمه کې د مجاهدینو لخوا له ځانګړي تکتیک نه په کار اخیستل ۳ تنه عسکر له دوه میله کلاشینکوفونو او ۱ بایفور او ۱ کرولا موټرانو سره ونیول شول او خوندي ځای ته انتقال شول. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې ماین ۱ عسکر وواژه

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خېلو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ عسکر ووژل شو. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې کمپاین په میزایلو وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په سهاکو سیمه کې د دښمن کمپاین په ۷ میزایلو دقیق وویشتل شو، د برید له امله دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې د جاسوسي ادارې ۲ کارمندان ووژل شول

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالۍ مرکز ته نژدې د عمومي سرک په سر د جاسوسي ادارې ۲ کارمندان مړه او ۱ تن سخت ټپي شو. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز کې قول اردو په میزایلو وویشتل شوه

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په قول اردو ۵ میزایل وتوغول شول چې ټول یې په منځ کې ولګېدل او له امله یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل. ۰۹-۰۹-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې ۱ اربکی له وسلې او موټر سره ونیول شو

د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ په سکندر خېلو سیمه کې ۱ اربکی له کرولا موټر او یو کلاشنکوف سره ونیول شو. ۰۹-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې د مزدوري اردو ۳ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په ګلداد خېلو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۳ تنه عسکر مړه او ګڼ نور عسکر ټپیان شول، د جګړې په پای کې د دښمن عسکرو په سیمه کې د مجاهدینو د احتمالي برید له وېرې ناتار ډزي وکړې چې له امله یې ۲ کلیوال شهیدان او ۱ ټپي شو. ۰۹-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې د غزني د والي ساتونکی عسکر ووژل شو

د پکتیا ولایت په احمدابا ولسوالۍ د غزني د والي تورن موسی خان ساتونکی عسکر د غلچکي برید په مهال ووژل شو. ۰۹-۰۹-۲۰۱۴

سیدکرم کې مجاهدینو قومندان او بریدمن ووژل

د پکتیا ولایت د سیدکرم ولسوالۍ مرکز ته نژدې د وسلوال برید په ترڅ کې د مزدوري اردو قومندان (جاوید) او ۱ پولیس بریدمن (طاهر) ووژل شول. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې په کاروان د برید په مهال ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په شیخانو سیمه کې د مزدوري اردو په کاروان برید ترسره شو، په برید کې ۲ عسکر ووژل شول او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې چاودني رینجر تخریب او ۱ عسکر وواژه

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په شکر خېلو سیمه کې د امنیت ملي په رینجر موټر درنه چاودنه وشوه، چاودنې موټر پوره تخریب کړ، ۱ تن مړ او بل یې ټپي کړ. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت دلجه منګل ولسوالی په اړونده سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو. په برید کې ۲ عسکرو ژوندانه لاسه ورکړل او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې برید او چاودنه کې ۵ عسکرو ژوندانه لاسه ورکړل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په شکر خیلو سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو برید او چاودنه وشوه. په دواړو پیښو کې ۵ تنه عسکر مړه او ګڼ نور ټپیان شول. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

شواک کې ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د شواک ولسوالی په سټو کنډو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو چې له امله یې ۲ عسکر ووژل شول. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

ګرده خېړې کې کمپاین په درنو وسلو وویشتل شو

د پکتیا ولایت په ګرده خېړې ولسوالی کې د دښمن په کمپاین د هاوان او زیکویک برید ترسره شو، دېرید له امله ودانۍ زیانمنه شوه خو د مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته خېرمه ۲ رینجر تخریب او ۵ عسکر ووژل شو

د پکتیا ولایت ګردیز ته نژدې په ابراهیم خیلو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ۵ عسکر مړه او ۲ رینجر موټر پوره تخریب شول. ۱۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته خېرمه په موټر چاودنې ۱ عسکر ووژل شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خیلو سیمه کې د مزدوري اردو رینجر موټر په مایین والوزول شو. په چاودنه کې موټر مکمل تخریب شو، ۱ عسکر مړ او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۱۱-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په کوهي سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۱-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې ماین ۲ پولیس ټپیان کړل

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالی د رود په خانخیلو سیمه کې د پولیسو په ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ پولیس ټپیان شول. ۱۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته خېرمه د ګډ دښمن په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د سپرې په سیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۲-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې په کاروان برید وشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالی مرکز ته نژدې د مزدوري اردو په کاروان برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۲-۰۹-۲۰۱۴

پټان کې په پوسته برید، ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالی په ځیلګر حسن خیلو سیمه کې د سرحدي پولیسو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې ۱ پولیس ووژل شو او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۱۲-۰۹-۲۰۱۴

جاني خیلو لسوالي په ودانۍ او پوسټو برید، ۹ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د جاني خیلو ولسوالي په ودانۍ او شاوخوا پوسټو باندې برید ترسره شو. داور دمهالي جګړې په ترڅ کې ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره ۴ تنه عسکر مړه او ۵ تنه نور مرګونې ټپیان شول، په جګړه کې ۳ تنه مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل. انالله وانا الیه راجعون. ۱۳-۰۹-۲۰۱۴

پټان کې قرارګاه په دهشګه ویشتل شوه

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالی په ځیلګر سیمه کې د دښمن په قرارګاه د دهشګې برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۳-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۲ کمانډو عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په سهاکو سیمه کې د

گډوډاګي اداره د کمانډو عسکرو ګزمه تربرید لاندې راغله. په برید کې دوه عسکر مړه او ۱ بل عسکر مرګونی ټپي شو. ۱۳-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې د پولیسو رینجر په ماین والوت

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د بازار په اړوند سیمه کې د پولیسو رینجر په ماین والوزول شوچې پوره تخریب شو. ۱۴-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې یو پولیس ووژل شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خیلو سیمه کې دیو وسلوال برید په مهال یو تن پولیس ووژل شو. ۱۴-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې په رینجر چاودنې ۴ عسکر ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د کابل د عمومي سړک تر څنګ د مزدوري اردو رینجر په ماین والوت، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو. ۱ عسکر مړ او ۳ نور سخت ټپیان شول. ۱۴-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې چاودنې ۳ پولیس ووژل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د پولیسو په پلې ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله یې ۳ تنه پولیس ځای په ځای ووژل شول. ۱۴-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۵ کمانډو عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په سهاکو سیمه کمانډو عسکر چې سیمې ته دعملیاتو لپاره راغلي وو، تربرید لاندې راغلل. په برید کې ۵ تنه کمانډو عسکر مړه او کې نور عسکر ټپیان شول، د برید په پای کې عسکرو د ځان خلاصولو په موخه په سیمه کې ناتار ډزې پیل کړې چې له امله یې دیوې ښځې په شمول ۳ تنه ټپیان شول. ۱۴-۰۹-۲۰۱۴

ځاځي اریوب ولسوالي په ودانۍ کې چاودنې ۱ عسکر ټپي کړ

د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالي په ودانۍ کې د ننه دغای په ځای شوي ماین درنه چاودنه وشوه. په چاودنه کې یو عسکر سخت ټپي او ودانۍ ته زیان واوښت. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل په ودانۍ او دفاعي پوسته برید وشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالي په ودانۍ او ورته نژدې دفاعي پوسته برید وشو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

ګرده څېرۍ کې ۱۲ کمالاتي موټر تخریب شو

د پکتیا ولایت په ګرده څېرۍ ولسوالي کې د دښمن کاروان چې د سواکي کمپاین ته روان وو، تربرید لاندې راغی، د برید په مهال ۱۲ کمالاتي موټر تخریب شول اوساتونکو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

ځمکنو کې په اربکیانو برید وشو

د پکتیا ولایت د ځمکنو ولسوالي ن په میزدي کلي کې په اربکیانو برید وشو چې په مهال یې اربکیانو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۱۶-۰۹-۲۰۱۴

ارمه کې په عسکرو برید. ۱ ټانک تخریب شو

د پکتیا ولایت دارمه ولسوالي ګردید خایي سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو. په برید کې ۱ ټانک پوره تخریب او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۶-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې چاودنې د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په ګلداد خیلو سیمه کې د مزدوري اردو په پلې ګزمه چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۲ عسکر ټپیان شول او ۲ ووژل شول. ۱۶-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې په رینجر چاودنې ۳ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي کې د مزدوري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر په بشپړه توګه ویجاړ شو. ۳ عسکر مړه او ۲ مرګونی ټپیان شول. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې په ټانک چاودنې ۱ پولیس ټپي کړ

د پکتیا ولایت د احمد ابا ولسوالۍ په شامخصور زیارت سیمه کې د پولیسو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شو او ۱ پولیس پکې سخت ټپي شو. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې د اشغالګرو بمبار ۳ کلیوالو ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیا ولایت دځاځي اریوب ولسوالۍ په موتي سیمه کې د اشغالګرو عسکرو الوتکو په عامو خلکو بمبار وکړ چې له امله یې ۱ کلیوال شهید او ۲ ټپیان شول. انالله وانا الیه راجعون. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې ۳ پولیسو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت داحمد ابا ولسوالۍ د مچلغو د عمومي سرک په سر د ظاهر کلا ته نژدې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۳ پولیسو ژوند له لاسه ورکړ او ګڼ نور ټپیان شول. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې جلا چاودنو ۴ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په باتور سیمه کې د مزدوري اردو په پیاده عسکرو دوې درنې چاودني وشوې، د چاودنو له امله ۴ عسکر مړه او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې یو غل ونیول شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په مربوطاتو کې یو غل ونیول شو، دمعلوماتو له مخې دغه غله څو ورځې مخکې یو ماشوم تښتولی وو چې په بدل کې یې دهغه له کورنۍ د پیسو غوښتنه کوله. کله چې هغوی ور ته ټاکلي افغانۍ ورنکړای شوې نو ماشوم یې خورا په وحشت سره شهید کړ. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

زرمت کې د برید په مهال ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په مموزو سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو برید وشو، دبرید په مهال ۲ تنه عسکر مړه او ۲ نور عسکر مرګوني ټپیان شول. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې د برید په مهال ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خېلو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ عسکر مړه او بل سخت ژوبل شو. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې د پولیسو موټر په ماین والوت

د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ مرکز ته نژدې د پولیسو لاندکروزر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پولیسو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۱۸-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې ۳ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په خټاوه سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو برید ترسره شو، په برید کې ۳ عسکر ووژل شول او بل سخت ټپي شو. ۱۸-۰۹-۲۰۱۴

پټان کې په پوسته د دهشکې برید وشو

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالۍ په حسن خېلو سیمه کې د دښمن په پوسته د دهشکې برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نشته. ۱۸-۰۹-۲۰۱۴

پټان کې ۱ رینجر تخریب او ۲ پولیس ټپیان شول

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالۍ په څیګړ سیمه کې د سرحدي پولیسو په کاروان برید ترسره شو، د برید په مهال ۱ رینجر تخریب او ۲ پولیس ټپیان شول. ۱۹-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې ۱ پولیس ټپي شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په دولت خېلو سیمه کې په پولیسو برید وشو چې په مهال یې ۱ پولیس سخت ټپي شو. ۱۹-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې د دښمن په کاروان برید وشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالۍ په اړونده سیمه کې د اربکیانو او پولیسو په موټریز کاروان برید وشو او دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې د پولیسو رینجر په ماین والوت

د پکتیا ولایت مرکز ته نژدې په تېره سیمه کې د سرحدي پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پولیسو ته یې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته خبره ماین د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په خټاوه سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ عسکر ووژل شول. ۲۰-۰۹-۲۰۱۴

لجه منګل کې د پولیسو په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت په لجه منګل ولسوالي کې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو چې دښمن ته یې تلفات واوښتل. ۲۰-۰۹-۲۰۱۴

دزرمت ولسوالي په ودانې برید ترسره شو

د پکتیا ولایت دزرمت ولسوالي په ودانې وسلوال برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته خبره ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو. د برید په مهال ۲ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ او ۳ نور ټپیان شول، په دې سربېره دښمن ته مالي زیان هم واوښت. ۲۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې چاودنې د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په خټاوه سیمه کې د مزدوري اردو ټانک د ماین بنکار شو. په چاودنه کې ټانک وبجاړ او ۲ عسکر مړه اوبل سخت ټپي شو. ۲۱-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته خبره چاودنې ۳ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په خټاوه سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله یې ۳ عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۱-۰۹-۲۰۱۴

پټان کې په قرارګاه برید. ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالي په خیګر سیمه کې د دښمن په قرارګاه د هشتاددو برید وشو چې په مهال یې ۲۱ مرمۍ په منځ کې ولګیدلې. د برید له امله ودانۍ زیانمنه. ۱ عسکر مړ او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۲۱-۰۹-۲۰۱۴

احمدابا کې ماین ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالي په مچلغو سیمه کې د پولیسو په پلي ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ پولیس ووژل شو او ۲ نور ټپیان شول. ۲۲-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته خبره د ملي امنیت عسکر ونیول شو

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د ملي امنیت عسکر چې احمد نومهیږي د مجاهدینو لخوا ونیول شو او خوندي ځای ته انتقال شو. ۲۲-۰۹-۲۰۱۴

خاڅي اریوب کې د پولیسو ټانک په ماین والوت

د پکتیا ولایت د خاڅي اریوب ولسوالي په اړونده سیمه کې د سرحدي پولیسو ټانک په ماین والوزول شو. په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شو او پولیسو ته یې مرګ ژوبله واوښته. ۲۳-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته خبره ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د ابراهیم خېلو سیمه کې په پولیسو برید وشو. د برید په مهال ۱ پولیس ووژل شو او ۲ سخت ژوبل شول. ۲۴-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې چاودنې ۳ پولیس ووژل

د پکتیا ولایت د مرکز ګردیز بازار ته نژدې د نظم عامه په رینجر موټر چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټر پوره تخریب. ۳ تنه پولیس مړه او ۱ پولیس سخت ژوبل شو. ۲۴-۰۹-۲۰۱۴

خاڅي اریوب کې عسکر مجاهدینو سره یو خای شو

د پکتیا ولایت په خاڅي اریوب ولسوالي کې د اردو یو عسکر (نصرالله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو خای شو. ۲۴-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې ماین ۴ پولیس ووژل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په مومندو سیمه کې د ماین چاودنې د نظم عامه ۴ پولیس مېره او ۴ تنه نور پولیس مرګوني ټپیان کړل. ۲۵-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې ۱ عسکر ووژل شو

د پکتیا ولایت مرکز ته نژدې په ابراهیم خېلو سیمه کې دیو وسلوال برید په مهال ۱ تن عسکر ووژل شو او بل سخت ژوبل شو. ۲۶-۰۹-۲۰۱۴

مجاهدینو په زرمت کې ۳ تنه قطاع الطریق اعدام کړل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په شاه کاریز سیمه کې هغه درې تنه غله (محیب الله، صدیق الله او دریم هم محب الله) چې څو ورځې وړاندې مجاهدینو نیولي وو، په داسې حال کې اعدام شول چې سلګونه خلک ورته راټول شوي وو. دوی په نورو غلاوو اولاړو وهلو سربېره څه موده وړاندې یو کوچنی ماشوم هم تښتولی وو چې په سر یې له کورنۍ نه د ډیرو پیسو غوښتنه کوله. د ماشوم کورنۍ چې د پیسو له ورکولو عاجزه وه نو غلو ماشوم په خورا وحشت سره په شهادت رسولی وو. ۲۶-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته خېرمه چاودنې ۲ عسکر ټپیان کړل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په میلن سیمه کې د مزدورې اردو په پلې ګزمه چاودنه وشوه چې ۲ تنه عسکر یې مرګوني ټپیان کړل. ۲۷-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۲ عسکر ووژل شوي

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په پای لوچو سیمه کې د مزدورې اردو په ګزمه برید ترسره شو. په برید کې ۲ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او بل سخت ژوبل شو. ۲۷-۰۹-۲۰۱۴

ګرده خېرۍ کې ۲ عسکر په دراز کوف قتل شول

د پکتیا ولایت د ګرده خېرۍ ولسوالۍ د سواکي په کمپاین کې ۲ عسکر په دراز کوف په ښنه او وویشتل شول چې دواړه ځای په ځای ووژل شول. ۲۸-۰۹-۲۰۱۴

احمدخېلو کې ۱ عسکر ټپي او بل ونیول شو

د پکتیا ولایت د احمد خېلو ولسوالۍ په ترکنۍ سیمه کې د وسلوال برید په مهال د مزدورې اردو یو عسکر ژوندی ونیول شو، په برید کې ۱ بل عسکر سخت ټپي شو. ۲۸-۰۹-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې پولیس مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې یو سرحدي پولیس د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۸-۰۹-۲۰۱۴

د پکتیا په زرمت کې بریدونه د ۳۳ عسکرو او پولیسو په مرګ ژوبله پای ته ورسیدل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په مرکز د ۴ تنو فدایانو هریو (محمدیونس، سیدحلیم، شفیق الله او عبدالحکیم) لخوا استشهادي بریدونه ترسره شول. بریدونه لومړی له منفجره موادو څخه ډک مازدا موټر په انفجار پیل شول چې له امله یې د ولسوالۍ نظام قراول، امنیتي کمربند او ټول شته موانع له منځه لاړل. ورپسې ۳ تنه نور فدایي مجاهدین وتوانیدل چې د ولسوالۍ مرکز او هلته میشت د پولیسو اکادمۍ ته نږدې اودښمن تر اور لاندې ونیسي. په بریدونو کې ټول ۲۳ تنه پولیس، د ولسوالۍ کار کونکي، اربکیان او عسکر مېره او ۱۰ تنه نور سخت ټپیان شول. د بریدونو له امله د ولسوالۍ د ودانۍ ډیره برخه وبجاړه او ډیر دولتي وسائط هم له منځه لاړل. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

په زرمت کې ۵ برید په مهال ۱ رینجر تخریب شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ بازار ته نژدې د مزدورې اردو په ګزمه برید ترسره شو چې په مهال یې ۱ رینجر تخریب شو او عسکرو ته پکې مرګ ژوبله ولوښته. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

زرمت کې ۵ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په کوهي سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه برید ترسره شو. د برید په مهال د

مزدوري اردو ۵ عسکر ووژل شول او ۱ رینجر موټر تخریب شو. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته نژدې د ګډ دښمن په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت په مرکزي سیمه ابراهیم خېلو کې د ګډ دښمن په ګزمه برید ترسره شو. د برید په مهال دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته ځېرمه ۳ غله چې قاتلان وو. اعدام شول

د پکتیا ولایت مرکز ته نژدې په نیستیکوټ سیمه کې دري تنه غله (عبدالخالق. برکت او جانان) چې قاتلان هم وو او څه موده وړاندې د مجاهدینو لخوا نیول شوي وو د خپلو اعمالو په سزا اورسېدل. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

د پکتیا په مرکزي سیمه کې ۴ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خېلو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه د زیکویک برید ترسره شوچې په مهال یې ۴ عسکر ووژل شول او ۲ نور شدید ټپیان شول. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته ځېرمه ماین موټر سایکل او ۲ پولیس له منځه یوړل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې د پولیسو په موټر سایکل درنه چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۲ پولیس ووژل شول او موټر سایکل هم په بشپړه توګه ویجاړ شو. ۳۰-۰۹-۲۰۱۴

سید کرم کې د جاسوسي اداري کارمند ووژل شو

د پکتیا ولایت دسید کرم ولسوالي په اړونده سیمه کې د چریکي برید په مهال د جاسوسي اداري کارمند ملک منیر چې د شورا غړی هم وو، ووژل شو. ۳۰-۰۹-۲۰۱۴

احمدخل کې ۱۶ پولیس مجاهدینو سره یو ځای شوي

د پکتیا ولایت په احمد خېلو ولسوالي کې ۱۶ تنه پولیس د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. په پولیسو کې مزار، اولدار، سلطان، جانک، مالیار، کاتب، حضرت، ذوالفقار، شیر محمد، ګلاخان، اصغر خان، رضا خان، عبدالمتین خان، ظفر خان، داود، عاقیل، او سید نبي شامل دي. ۳۰-۰۹-۲۰۱۴

بادغیس

بالامرغاب: یک عسکر اجیر هلاک و ۲ زخمی شدند

جنگ شدیدی با عساکر اردوی اجیر در منطقه سرخلن از مربوطات ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس صورت گرفت که در نتیجه یک عسکر دشمن کشته و دو ۲ تن دیگر بشدت زخمی شدند. ۲۰۱۴/۹/۱

قادس: طی درگیری ۲ پولیس زخمی شدند

بتاریخ ۰۳-۰۹-۲۰۱۴ جنگ شدیدی با عساکر اجیر در منطقه جوره از مربوطات ولسوالی قادس ولایت بادغیس صورت گرفت که در نتیجه هفت ۲ تن پولیس اجیر بشدت زخمی شدند.

قلعه نو: درگیری بادشمن صورت گرفت

جنگ با پولیس اجیر مربوط به نظم عامه در منطقه لامان از مربوطات شهر قلعه نو مرکز ولایت بادغیس صورت گرفت که در نتیجه یک عراده موتر رینجر دشمن تخریب و عساکر راکبین آن کشته وزخمی شدند. ۲۰۱۴/۹/۱۲

دره یوم: ۴ پوسته دشمن مورد حمله قرار گرفت

بتاریخ ۱۴-۰۹-۲۰۱۴ مجاهدین چهار ۴ پوسته دشمن را در مربوطات ولسوالی دره بوم ولایت بادغیس مورد حمله مسلحانه قرار دادند که در نتیجه دو ۲ تن پولیس بشدت زخمی شدند و پس ازین حمله دشمن منازل مسکونی منطقه را هدف هاوان قرار دادند که در اثر آن یک زن و یک مرد بشهادت رسیدند. انالله وانالیه راجعون

مقر: طی حمله بر مرکز ولسوالی به دشمن تلفات وارد شد

مرکز ولسوالی مقر ولایت بادغیس مورد حملهٔ شدید مجاهدین قرار گرفت که در نتیجه معاون توله (نجیب الله) و یک عسکر کشته و ۳ عسکر دیگر بشدت زخمی گردیدند. ۲۰۱۴/۹/۱۷

مقر: یک تانک ادارهٔ اجیر منفجر شد

یک تانک عساکر اجیر در منطقهٔ کومریان ولسوالی مقر ولایت بادغیس هدف انفجار ماین قرار گرفت که در نتیجه تانک دشمن کاملا تخریب و تمام عساکر سرنشیان آن کشته و زخمی شدند. ۲۰۱۴/۹/۱۹

مقر: طی درگیری ذات البینی یک پولیس کشته شد

پولیس اجیر در مرکز ولسوالی مقر ولایت بادغیس باهم درگیر شدند که در نتیجه یک تن پولیس اجیر کشته شد وعلت این درگیری مشخص نه شده است. ۲۰۱۴/۹/۲۰

مقر: دو پوستهٔ دشمن مورد حمله قرار گرفت

مجاهدین دو پوستهٔ امنیتی دشمن را در منطقه لمرواز مربوطات ولسوالی مقر ولایت بادغیس مورد حمله مسلحانه قرار دادند که به دشمن خسارات زیاد وارد گردیده و البته از جزئیات آن اطلاعی در دست نیست. ۲۰۱۴/۹/۲۱

غورماچ: ۲ عسکر اجیر کشته شدند

بتاریخ ۲۱-۰۹-۲۰۱۴ عساکر اجیر در مربوطات بازار ولسوالی غورماچ ولایت بادغیس هدف انفجار ماین قرار گرفتند که در نتیجه یک عسکر دشمن کشته شد و پس از انفجار شماری دیگری از عساکر دشمن بمحل انفجار درحرکت بودند که مورد حمله مسلحانه مجاهدین قرار گرفتند که در نتیجه یک عسکر دشمن کشته شد.

غورماچ: طی درگیری ۲ عسکر کشته شدند

بتاریخ ۲۲-۰۹-۲۰۱۴ در گیری با عساکر اجیر در بازار ولسوالی غورماچ ولایت بادغیس صورت گرفت که در نتیجه دو ۲ عسکر دشمن کشته شدند.

بالامرغاب: یک اربکی همراه بامقداری مهمات بمجاهدین پیوست

بتاریخ ۲۲-۰۹-۲۰۱۴ یک تن اربکی در ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس پس از درک حقایق بمجاهدین پیوست و اربکی مذکور باخود یک پیکا، یک عراده موترسایکل، یک تفنگچه ویک پایه مخابره بمجاهدین تسلیم داده است.

قلعه نو: ۲ پولیس زخمی شدند

دو تن پولیس اجیر در منطقه آب گرمک از مربوطات شهر قلعه نو مرکز ولایت بادغیس مورد حمله چریکی مجاهدین قرار گرفته وبشدت زخمی شدند. ۲۰۱۴/۹/۲۴

قادس: ۳ پوستهٔ دشمن مورد حمله قرار گرفت

مجاهدین سه ۳ پوستهٔ امنیتی دشمن را در منطقه خیرخانه از مربوطات ولسوالی قادس ولایت بادغیس مورد حمله مسلحانه قرار دادند که به دشمن خسارات زیاد وارد گردیده و البته از جزئیات آن اطلاعی در دست نیست. ۲۰۱۴/۹/۲۶

مقر: درحمله برقرارگاه ۲ پولیس اجیر زخمی شدند

بتاریخ ۲۷-۰۹-۲۰۱۴ مجاهدین قرارگاه پولیس اجیر را در منطقه سنجیتکی از مربوطات ولسوالی مقر ولایت بادغیس مورد حمله مسلحانه قرار دادند که در نتیجه دو ۲ تن پولیس اجیر بشدت زخمی شدند.

پکتیکا

زیږوک کې په پوسته برید وشو

د پکتیکا ولایت د زیږوک ولسوالي په سري میدان سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید وشو. په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

سرحوضه کې په رینجر چلوونې اربکی ووژله

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالۍ په سندر خپلوسیمه کې د اربکیانو په موټر چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټر پوره تخریب، ۱ اربکی مړ او بل سخت ټپي شو. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

گومل کې کمپاین په درنو وسلو وویشتل شو

د پکتیکا ولایت د گومل ولسوالۍ په بندر سیمه کې د دښمن کمپاین په ۳ میزایلو او د هاوان په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شو. د بریدله امله دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

یحی خپلو کې اربکی مجاهدینو سره یو خای شو

د پکتیکا ولایت د یحی خپلوولسوالۍ په متاخپلوسیمه کې یو اربکی (عبدالسلام) د دعوت او اشاد کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو خای شو. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

سروبي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت دسروبي ولسوالۍ په زامي سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله. په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

زیرو ک ولسوالۍ په ودانۍ او کمپاین بریدونه وشول

د پکتیکا ولایت د زیرو ک ولسوالۍ په ودانۍ او ور ته نژدې کمپاین باندې وسلوال بریدونه تر سره شول چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۵-۰۹-۲۰۱۴

گیان کې د اشغالګرو بمبار ۵ کلیوال شهیدان کړل

د پکتیکا ولایت په گیان ولسوالۍ کې د روضې غره ته نژدې د اشغالګرو الوتکو په عامو خلکو بمبار وکړ چې له امله ۵ تنه کلیوال په شهادت ورسېدل. انالله وانا الیه راجعون. ۰۵-۰۹-۲۰۱۴

جاني خپلو کې موټر سایکل تخریب او ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت د جاني خپلوولسوالۍ په مشنانو سیمه کې په اربکیانو برید تر سره شوچې په مهال یې ۱ موټر سایکل تخریب او ۲ اربکیان ووژل شول. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

پکتیکا مرکز ته خبره په پوسته برید وشو

د پکتیکا ولایت مرکز بنرني ته نژدې په سیلي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شوچې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

گومل کې سرحدي لیوا په هاوان ووېشتل شوه

د پکتیکا ولایت د گومل ولسوالۍ په بندر سیمه کې د سرحدي پولیسو لیوا د هاوان په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۶-۰۹-۲۰۱۴

یحی خپلو کې ۱ موټر سایکل ویجاړ او ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیا ولایت د یحی خپلو ولسوالۍ په متاخپلو کلي کې ۲ اربکیان د وسلوال برید په مهال ووژل شول او ۱ موټر سایکل یې په بشپړه توګه ویجاړ شو. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

اورمای کې ۶ پولیس مجاهدینو سره یو خای شول

د پکتیکا ولایت د اورمای ولسوالۍ په چار خپلو او خانخپلو کلیو ک ۶ تنه سرحدي پولیس (تنها، لعل خان، محمدرسول، ملامیر ک، پیروز او عبدالرحمن) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په برکت د اسلامي امارت له مخالفت نه په شا شول. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

متاخان ولسوالۍ په ودانۍ د هاوان برید. ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالۍ ودانۍ د هاوان په ۶ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې ودانۍ زیانمنه شوه، ۲ عسکر ووژل شول او ۱ رینجر موټر تخریب شو. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

سروبي کې په پوسته برید. ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت د سروبي ولسوالي په زامي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو. دبرید په مهال ۲ اربکیان ووژل شول او ۲ نور ژوبل شول. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

خیر کوټ کې ماین رینجر تخریب او ۲ پولیس ووژل

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالي په پاینده خیلو سیمه کې د پولیس رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر تخریب، ۲ پولیس مړه او ۲ مرګوني ټپیان شول. ۰۷-۰۹-۲۰۱۴

اورګون کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالي په پیر کوتي سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله. په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

چاربران کې په پوسته برید. ۲ تومندان ووژل شو

د پکتیکا ولایت د چاربران ولسوالي په سپینه سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله. په برید کې د تومندان په وژل کیدو سربیره ۱ اربکي سخت ټپي شو او ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

ګومل کې لیوا په هشتادو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالي په بندر سیمه کې د مزدوري اردو او سرحدي پولیسو لیوا د هشتادو په ۶ مرمیو دقیق وویشتل شوه. دبرید له امله دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۸-۰۹-۲۰۱۴

سرحوضه کې په موټر چاودنې ۴ عسکر ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالي په مدوکخ سیمه کې د مزدوري اردو په رینجر موټر چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټر پوره تخریب، ۱ عسکر مړ او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۹-۰۹-۲۰۱۴

خوشامند کې ۱ ټانک تخریب او ۳ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د خوشامند ولسوالي په جمجمو کلي کې په اربکیانو او پولیسو برید تر سره شو. په برید کې ۳ عسکر مړه او ۲ نور ټپیان شول. په دې سربیره یو زغروال ټانک هم تخریب شو. ۰۹-۰۹-۲۰۱۴

جاني خیلو کې ۲ اربکیان ووژل شول وسله او موټر سایکل یې غنیمت شول

د پکتیکا ولایت د جاني خیلو ولسوالي په بابو خیلو سیمه کې د وسلوال برید په ترڅ کې ۲ اربکیان ووژل شول، ۲ میله کلاشنکوفونه او ۱ موټر سایکل غنیمت شو. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

متاخان کې ۱ ټانک تخریب او ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالي په مرجان سیمه کې د پولیسو او اربکیانو په ګډه برید تر سره شو. د جګړې په ترڅ کې ۲ اربکیان مړه او ۲ نور سخت ټپیان شول، په دې سربیره د پولیسو ۱ زغروال ټانک تخریب شو. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

اورګون کې په پوسته برید. ۳ اربکیان ټپیان شول

د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالي په پیر کوتي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو. په برید کې ۳ اربکیان ټپیان شول او ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۰-۰۹-۲۰۱۴

یحیی خیلو کې ۲ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د پکتیکا ولایت په یحیی خیلو ولسوالي کې ۲ تنه اربکیان (غلاوالدین او امان الله) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۱-۰۹-۲۰۱۴

متاخان کې برید او چاودنو کې ۷ عسکر وته مرګ ژوبله او ویشته

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالي په ملایانو سیمه کې د دښمن په ګډه برید وشو او د برید په مهال په عسکرو ۲ درني چاودنې هم وشوې. په برید او چاودنو کې ۳ عسکر مړه او ۴ نور سخت ژوبل شول. ۱۱-۰۹-۲۰۱۴

ګومل ولسوالي، ودانۍ، په هفتاد پنځو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالي ودانۍ د هفتاد پنځ په ۶ مرمیو وویشتل شوه، په برید کې ودانۍ زیانمنه شوه خو د مرګ ژوبلې کره شپېره نه ده خبر ګنده شوې. ۱۲-۰۹-۲۰۱۴

متاخان کې ۵ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالي په ملایانو سیمه کې د اربکیانو او پولیسو په ګډ موټرېز کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید او چاودنه کې ۲ پولیس مړه او ۳ نور مرګونې ټپیان شول. ۱۲-۰۹-۲۰۱۴

خیر کوټ کې ۲ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ په ولسوالي کې ۲ اربکیان (تورانی او ګل نور) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۴-۰۹-۲۰۱۴

متاخان کې په کاروان برید وشو

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالي په پوځ سیمه کې د اربکیانو او پولیسو په کاروان برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل اما د اوښتو تلفاتو په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

پکتیکا مرکزته خبره په پوسته درنوسلو برید، ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا ولایت مرکز ته نږدې مرزکي سیمه کې د اربکیانو پوسته د هاوان په ۴ او د هشتاد دوبه ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه. د برید له امله ۱ اربکي مړه او ۲ نور سخت ټپیان شول. په دې سربېره ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

یحیی خېلو کې برید و چاودنه کې ۱ موټرسایکل او ۲ اربکیان ۵ منه لاړل

د پکتیکا ولایت د یحیی خېلو ولسوالي په مانجانو سیمه کې د اربکیانو پوسته تر برید لاندې راغله. په عیني وخت کې په همدې سیمه کې د اربکیانو په پلي ګزمه چاودنه هم وشوه. د برید او چاودنې له امله ۱ موټر سایکل تخریب او ۲ تنه اربکیان ووژل شول. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

جاني خېلو کې پولیس تر برید لاندې راغلل

د پکتیکا ولایت د جاني خېلو ولسوالي په جعفرو سیمه کې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

وازه خوا کې ۲ پانګونه تخریب شول

د پکتیکا ولایت د وازي خوا ولسوالي په ګواشته سیمه کې د پولیسو په کاروان برید ترسره شو، د برید په مهال ۲ پانګونه پوره تخریب شول او په دې سربېره پولیسو ته هم مرګ ژوبله واوښته. ۱۵-۰۹-۲۰۱۴

پکتیکا مرکزته خبره مه ۲ اربکیانو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیکا ولایت مرکز شرني ته نږدې په شاه کلا سیمه کې د وسلوال برید په مهال ۲ تنه اربکیان ووژل شول. په برید کې ۲ اربکیان مړه او ۱ بل سخت ژوبل شو. د جګړې په مهال ۲ مجاهدین سر سر کې ټپیان شول. ۱۶-۰۹-۲۰۱۴

یحیی خېلو کې ۲ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د پکتیکا ولایت د یحیی خېلو ولسوالي په متاخېلو کلي کې ورسره ۲ اربکیان (نعمت او قیسر) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۶-۰۹-۲۰۱۴

ګومل کې لیوا په میزایلو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالي په بندر سیمه کې د مزدوري اردو لیوا په ۴ میزایلو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۷-۰۹-۲۰۱۴

نګه کې اشغالګرو ۸ کلیوال شهیدان کړل

د پکتیکا ولایت د نکي ولسوالي په صدقو او توري خېلو سیمو اشغالګرو عسکر د عامو خلکو په کورونو چاپې ووهلې. وحشي عسکرو د چاپې په مهال خلکو ته درانه مالي زیانونه واړول. ۵ کلیوال یې په شهادت ورسول او ۲ یې له خان سره یوورل. په شهیدانو کې د کلي د مدرسې مدرس عالم مولوي عبدالکریم او مانشومان هم شامل دي. ۱۸-۰۹-۲۰۱۴

سروبي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت د سروبي ولسوالي په هیبتو سیمه کې د دښمن په پوسته وسلوال بریدوشو. په بریدکې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته او د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه. ۱۹-۰۹-۲۰۱۴

ګومل کې د پولیسو لیوا په هفتادپنج وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالي په بندر سیمه کې د سرحدي پولیسو لیوا د هفتادپنج په ۶مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰-۰۹-۲۰۱۴

چاربران کې پوسته تر پرید لاندې راغله

پکتیکا ولایت د چاربران ولسوالي په سپینه سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو. د برید له امله دښمن ته د اوښتې زیان په هکله معلومات نه دي تر لاسه شوي. ۲۰-۰۹-۲۰۱۴

پکتیکا مرکز ته خبره ماین ۱ اربکی ټپي کړ

د پکتیکا ولایت مرکز بنرني ته نژدې په فاطمه خېلو سیمه کې د اربکیانو په ګزمه ماین وچاودېد چې له امله یې ۱ اربکی سخت ژوبل شو. ۲۱-۰۹-۲۰۱۴

ګیان کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالي په ډانګر ویشته سیمه کې د اردو یو عسکر چې عبدالله نومېږي له مجاهدینو سره یوځای شو او ۱ میل پیکا او ۱ کلاشنکوف یې مجاهدینو ته تسلیم کړ. ۲۲-۰۹-۲۰۱۴

متاخان کې ماین ۱ اربکی وواژه

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالي په پولادخېلو سیمه کې د ماین چاودنې ۱ اربکی وواژه او ۱ اربکی یې سخت ټپي کړ. ۲۲-۰۹-۲۰۱۴

ګومل کې چاودنو ۲ موټر تخریب. ۲ قومندان او ۲ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت په ګومل ولسوالي کې د سرحدي پولیسو او مزدوري اردو ۲ رینجر موټر په جلا ماینونو والوزول شول، په چاودنو کې دواړه موټر ویجاړ او د مزدوري اردو قومندان لعجي او ۲ عسکر ووژل شول او ۳ نور مرګونې ټپیان شول. ۲۴-۰۹-۲۰۱۴

سرحوضه کې ماین ټانک تخریب او ۲ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالي په کوټنې سیمه کې د مزدوري اردو ټانک په ماین والوزول شو. په چاودنه کې ټانک تخریب شو. ۲ عسکر مړه او ۲ ټپیان شول. ۲۴-۰۹-۲۰۱۴

جاني خېلو کې له اربکیانو سره جګړه وشوه

د پکتیکا ولایت د جاني خېلو ولسوالي په جعفرو سیمه کې له اربکیانو سره جګړه وشوه چې په ترڅ کې یې اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۴-۰۹-۲۰۱۴

ګومل کې سرحدي لیوا په میزایلو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالي په بندر سیمه کې د سرحدي پولیسو په لیوا ۳ میزایل وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل او له امله یې دښمن ته مالي او ځاني زیانونه واوښتل. ۲۵-۰۹-۲۰۱۴

پکتیا مرکز ته نژدې د مزدوري اردو رینجر په ماین والوت

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ګلوالي سیمه کې د مزدوري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۵-۰۹-۲۰۱۴

برمل کې ماین د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالي په شپاڅ ترلي سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه د ماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۲ تنه عسکر مړه او ۲ نور عسکر مرګونې ټپیان شول. ۲۶-۰۹-۲۰۱۴

سرحوضه کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت په سرحوضه ولسوالي کې یو اربکی (ګل محمد) په سرحوضه کلي کې له مجاهدینو سره یو ځای

شو. نومورې یو میل کلاشنکوف هم مجاهدینو ته تسلیم کړ. ۲۶-۰۹-۲۰۱۴

خیر کوټ کې په ټانک چاودنې ۳ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې د مزدوري اردو ټانک په ماین والوزول شو. په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شو. ۳ تنه عسکر مړه او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۲۷-۰۹-۲۰۱۴

پکتیکا مرکزته نژدې ۱ اربکی ووژل شو

د پکتیکا ولایت د مرکز بنسربي په ملایانو کلي کې د اربکیانو په ګزمه د وسلوال برید په مهال ۱ اربکی چې رسول نومېده ووژل شو. ۲۷-۰۹-۲۰۱۴

چاربران کې ماین موټر سایکل تخریب او ۱ اربکی ووژل شو

د پکتیکا ولایت د چاربران ولسوالۍ په سپینه سیمه کې په اربکیانو چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۱ اربکی ووژل شو او یو موټر سایکل تخریب شو. له چاودنې وروسته اربکیانو په سیمه کې ناتار ډزې پیل کړې چې له امله یې یو ماشوم شهید شو. ۲۸-۰۹-۲۰۱۴

اورګون کې ۴ اربکیانو ته مرګ ژوبله اوبښته

د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالۍ په پیر کوټي سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ۲ اربکیان مړه او ۲ نور ټپیان شول. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

سروبي کې ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت دسروبي ولسوالۍ په زامي سیمه کې ۲ اربکیان ووژل شول او ۱ کلاشنکوف ترې غنیمت شو. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

ګومل ولسوالۍ ودانۍ په هاوان وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالۍ ودانۍ د هاوان په ۸ مرمیو دقیق وویشتل شوه. د برید له امله دښمن ته د اوښتیانو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۹-۰۹-۲۰۱۴

سرحوضه کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت دسرحوضې ولسوالۍ په سرحوضه کلي کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله. د برید له امله دښمن ته مرګ ژوبله او مالي زیان واوښت اما په اړه یې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۳۰-۰۹-۲۰۱۴

غـــــــــــور

تیوره: ۴ عسکر هلاک و ۲ قریه از وجود دشمن تصفیه شدند

ملیشه های اربکی و منسوبین پولیس اجیر به سرکردگی داکتر ابراهیم در مربوطات ولسوالی تیوره ولایت غور بقصد اجرای عملیات آمده بودند که در گیری شدیدی با آنان صورت گرفت که در نتیجه چهار ۴ تن از افراد دشمن کشته و چندین تن دیگر مجروح شدند و دو قریه (کیلکو و جوزک) از لوث وجود دشمن کاملا پاک گردیدند. ۲۰۱۴/۹/۵

تیوره: مرکز ولسوالی مورد حمله قرار گرفت

مجاهدین مرکز ولسوالی تیوره ولایت غور را مورد حمله مسلحانه قرار دادند که به دشمن تلفات سنگینی وارد گردیده و البته از جزئیات آن اطلاعی در دست نمی باشد. ۲۰۱۴/۹/۵

ساغر: پوسته دشمن مورد حمله قرار گرفت

بتاریخ ۰۸-۰۹-۲۰۱۴ مجاهدین پوسته عساکر اردوی اجیر وملیشه های اربکی را در مربوطات ولسوالی ساغر ولایت غور مورد حمله مسلحانه قرار دادند که به دشمن خسارات زیاد وارد شده و البته از جزئیات آن اطلاعی در دست نمی باشد.

چهارسده: چند از اربکی ها بمجاهدین پیوستند

بتاریخ ۱۰-۰۹-۲۰۱۴ چند تن از اربکی ها در منطقه فلاخر از مربوطات ولسوالی چهارسده ولایت غور پس

ازدرک حقایق بمجاهدین یکجا شدند و اربکی ها تسلیم شده پوستۀ شان را نیز تخلیه کرده وبصفوف مجاهدین پیوستند.

تیوره: جنگ شدیدی با دشمن صورت گرفت

بتاریخ ۱۰-۰۹-۲۰۱۴ جنگ شدیدی با عساکر دشمن در منطقه کیلگو ولسوالی تیوره ولایت غور صورت گرفت واین در گیری هنگامی رخ داد که عساکر دشمن بر کمر بند مجاهدین حمله کردند که به دشمن خسارات زیاد وارد گردیده و البته ازجزئیات آن اطلاعی در دست نمی باشد.

دولینه: یک قوماندان همراه محافظش بقتل رسید

یک تن قوماندان اربکی (محمدشجاع) در مربوطات ولسوالی دولینه ولایت غور هدف انفجار ماین مجاهدین قرار گرفته و همراه یک محافظش کشته شدند. ۲۰۱۴/۹/۱۹

ننگرهار

ده بالا کې ۳ پولیس ټپیان شول

د ننگرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په مربز کنډو سیمه کې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شوچې په ترڅ کې یې ۳ پولیس ټپیان شول. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

ده بالا کې ۵عسکر و ادامنیت کارمند مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننگرهار ولایت په ده بالا ولسوالۍ کې ۵ تنه عسکر (واحد الله، نوکر، نقیب، فاتح الرحمن، محمد رفیق) او ۱ د ملي امنیت کارمند (شفیق الله) دحقانۍ په درک کولو له مجاهدینو سره یوځای شول. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

پچیراګام کې ۲ پولیس مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننگرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په اړونده سیمه کې ۲ پولیس (ګلاب او بختیار) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

دره نور کې پولیس ژوندی ونیول شو

د ننگرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ په شیرم قلعه سیمه کې یو تن پولیس د تلاشي په مهال ونیول شو. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

حصارک کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننگرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ په علي خیلو سیمه کې د سرمست په پوسته وسلوال برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ اربکی ټپي شو. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

ده بالا کې په ګزمه او پوستو برید، ۸ پولیسو ته مرګ ژوبله او ونښته

د ننگرهار ولایت ددې بالا ولسوالۍ په اکاخیلو بازار سیمه کې د پولیسو په ګزمه او په عیني وخت کې د مربز کنډو او سرومیرونو سیمو کې د مزدوري اردو په پوستو برید ونښته ترسره شول. په بریدونو کې د پوستو ودانۍ زیانمني، ۴ تنه پولیس مړه او ۵ تنه نور سخت ټپیان شول. ۰۱-۰۹-۲۰۱۴

چپرهار کې په پوسته برید، ۳ اربکیان ووژل

د ننگرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په خواجه صاحب هدیره سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو. په برید کې ۳ اربکیان مړه او ۴ نور مرګونې ټپیان شول. په دې سربېره ودانۍ هم زیانمنه شوه. په دغه جګړه کې ۳ مجاهدین سرسرکې ټپیان شول. دیو بل خبر له مخې په شیعب کلي کې په پلیو اربکیانو اومزدورو عسکرو برید ترسره شو چې درنه مرګ ژوبله ورته ونښته. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

پچیراګام کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننگرهار ولایت په پچیراګام ولسوالۍ کې یو اربکی (عیسی خان) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

سپین غر کې ۲ عسکر مجاهدینو ته یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې دوه عسکر (بختیالي او سجاد)داسلامي امارت دحقانیت په در کولو له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

غني خېلو کې فدایي برید ۱۶ اربکیانو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت دغني خېلوولسوالۍ په ۲۷مه ویاله سیمه کې یوتن فدایي مجاهد په اربکیانو چې له دوربابا ولسوالۍ او نورو ولسوالیو راټول شوي و، د کرولا موټر په توسط فدایي برید وکړ. په برید کې ۶ اربکیان مړه او ۱۰ تنه نور اربکیان او پولیس مرګونې ټپیان شول. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

اچین کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په پیښې دره کې یو عسکر (احسان الله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

بتي کوټ کې په کاروان برید، ۱ ټانک تخریب شو

د ننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ په سې پای مارکیټ سیمه کې د امریکایي عسکرو په کاروان برید تر سره شو. په برید کې ۱ ټانک تخریب شو او دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

غني خېلو کې اربکیانو او پولیسو ۹۵ کلیوال بندیان کړل

د ننګرهار ولایت د غني خېلو په ولسوالۍ کې اربکیان او پولیس دیادي ولسوالۍ ۲۷، ۲۸ او ۲۹ ویالو سیمو ته راغلل او د عامو خلکو په کورونو یې چاپې ووهلې. یادو ګودا ګیو عسکرو عامو خلکو ته د بې رحمانه تالاشي په مهال زیات مالي زیانونه واړول او له دې سره سره یې ۹۵ کلیوال ونیول او له ځان سره یې یوړل. ۰۲-۰۹-۲۰۱۴

سرخرود کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په باولي سیمه کې د دښمن په پوسته چې د مرغوندۍ په پوسته یادېږي، برید تر سره شو. په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

پچیراګام کې د ملي امنیت ۲ کارمندان مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په پچیراګام ولسوالۍ کې په اصطلاح د ملي امنیت ۲ کارمندان (عبدالروف او ثواب) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې د اسلامي امارت په حقانیت پوه او له مخالفت نه لاس په سر شول. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

چپرهار کې ۱ ټانک تخریب او ۳ عسکر ټپیان شول

د ننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ په دولت زیو سیمه کې د مزدوري او دو په کاروان برید وشو چې په مهال یې ۱ ټانک تخریب او ۳ عسکر ټپیان شول. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

مهمندره کې ماین رینجر تخریب او ۲ عسکر ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په هزار ناو سیمه کې د مزدوري او دو رینجر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر تخریب او ۲ عسکر ټپیان شول. ۰۳-۰۹-۲۰۱۴

حصارک کې قومي مشرانو له مجاهدینو سره د همکاري ژمنه وکړه

د ننګرهار ولایت په حصارک ولسوالۍ کې ګڼو قومي مشرانو د اسلامي امارت د دعوت او ارشاد مسؤلینو او عامو مجاهدینو یوه لوبه غونډه تر سره کړه. په غونډه کې قومي مشرانو له مجاهدینو سره دهر راز همکاري ژمنه وکړه او له فاسدې او غلامي اداري سره یې پرېکون اعلان کړ. دوی وویل یوه ۴۰ کسیزه ډله به تاکي چې هغوی به له مجاهدینو سره د مشورو او نظریاتو په شریکولو سربېره د مکار دښمن د دسیسو او شومو پلانونو مخه نیسي. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

چپرهار کې ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په مارو سیمه کې خواجه صاحب هدیرې ته نژدې په اربکیانو برید تر سره شو چې په مهال یې ۱ اربکی ووژل شو او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

سرخرود کې ۲ رینجر تخریب او ۵ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالي په ککړ ک، سرخیلي چوک او پایې غونډۍ سیمو کې له دښمن سره درنه نښته وشوه، په نښته کې ۵ عسکر مړه او ۲ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره ۱ رینجر موټر تخریب شو او دوه موټر مجاهدینو ته پاتې شول. د جګړې په پای کې د دښمن الوتکو بمبار وکړ خو لله الحمد چاته یکې زیان نه واوښت. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

پچیر اګام کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په پچیر اګام ولسوالي کې یو پولیس (ملتان) او یو د مزدوري اردو عسکر (غني الرحمن) د حقانتو په درک کولو له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

شیرزادو کې ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالي په کندومک سیمه کې د مزدوري اردو او اربکیانو په ګزمه بریدتر سره شو، په بریدکې ۱ عسکر مړ او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۴-۰۹-۲۰۱۴

سرخرود کې ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

